# حصن المسلم

# د مسلمان کلا؛ د قرآن او سنت له اذکارو څخه

سعيد بن علي بن وهف القحطاني

# د مسلمان كلا؛ د قرآن او سنت له اذكارو څخه

الله تعالى ته اړمن بنده

دكتور سعيد بن علي بن وهف القحطاني

بسم الله الرحمن الرحيم

## مقدمه

إِنَّ الحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ، وَنَسْتَعِينُهُ، وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا، وَسَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلاَ مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلاَ هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ، وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلَى يَوْمِ الدِّينِ، وَسَلَّمَ تَسْلِيمَاً كَثِيرَاً، أَمَّا بَعْدُ:

دا هغه لنډيز دى چې ما له خپل كتاب: الذِّكْرُ وَالدُّعَاءُ وَالعِلاَجُ بِالرُّقَى مِنَ الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ څخه خلاصه كړى دى[1]. ما په دې كې د دعاګانو برخه لنډيز كړې، ترڅو يې د سفر پرمهال له ځان سره وړل آسان وي.

ما يوازې د دعاګانو متن راوړى او د تخريج لپاره مې يوازې په يو او يا دوو مأخذونو بسنه كړې ده چې په اصل كې

[1] او پورته ذكر شوى اصلي متن هم الحمد لله چاپ شوى او حديثونه يې په څلورو جلدونو كې په پراخه كچه تخريج شوي دي. د حصن المسلم، په لومړي او دويم جلد كې.

موندل شوي دي، او څوک چې غواړي صحابي وپيژني يا اضافي تخريج وکړي نو بايد اصل ته مراجعه وکړي. او له الله جل جلاله څخه د هغه په نيکو نومونو او لوړو صفتونو سوال کوم چې زما دا عمل خاص د خپلې خوښې لامل وګرځوي، او ماته پرې زما په ژوند او له مرګ نه وروسته ګټه راورسوي، او هغه چاته پرې ګټه ورسوي چې لولي يې، يا يې چاپوي او يا يې په خپرلو کې لامل ګرځي، هغه ذات د دې مالک او پر دې کار توانمند دی. وَصَلَّى اللَّهُ وَسَلَّمَ عَلَى نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ، وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلَى يَوْمِ الدِّيْنِ

ليکوال

د ۱۴۰۹ هجري کال د صفر په مياشت کې وليکل شو.

## *د ذکر فضيلت*

الله تعالى فرمايلي:

﴿فَٱذۡكُرُونِيٓ أَذۡكُرۡكُمۡ وَٱشۡكُرُواْ لِي وَلَا تَكۡفُرُونِ 152﴾،

ژباړه: پس تاسې ما ياد کړئ زه به هم تاسې ياد کړم او زما شکر وباسئ او ناشکري مه کوئ.[1]

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ ذِكۡرٗا كَثِيرٗا 41﴾،

ژباړه: اى هغو کسانو چې ايمان يې راوړى! يادوئ الله په ډېرو يادولو سره.[2]

﴿...وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيراً وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْراً عَظِيماً﴾،

---

1 البقرة سورت: 152 آيت .

2 الأحزاب سورت: 41 آيت .

ژباړه: (.. او الله لره ډېر يادوونکي (سړي) او ډېر يادوونکي (ښځې)، الله د دوی لپاره مغفرت او ډېر لوی اجر تيار کړی دی).[1]

﴿وَٱذۡكُر رَّبَّكَ فِي نَفۡسِكَ تَضَرُّعٗا وَخِيفَةٗ وَدُونَ ٱلۡجَهۡرِ مِنَ ٱلۡقَوۡلِ بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ وَلَا تَكُن مِّنَ ٱلۡغَٰفِلِينَ 205﴾،

ژباړه: او خپل رب دې په زړه کې له زارۍ او وېرې سره او په ژبه له ورو اواز سره سهار او ماښامونو کې يادوه او له غافلانو څخه مه کېږه.[2]

او پېغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

«مَثَلُ الَّذِي يَذْكُرُ رَبَّهُ، وَالَّذِي لَا يَذْكُرُ ربَّهُ، مَثَلُ الحَيِّ وَالمَيِّتِ»،

ژباړه: «د هغه چا مثال چې خپل رب يادوي او هغه څوک چې خپل رب نه يادوي د ژوندي او مړي په څېر دی».[3]

او پېغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

«أَلَا أُنبِّئُكم بِخَيْرِ أَعْمَالِكُمْ، وَأَزْكَاهَا عِنْدَ مَلِيكِكُمْ، وَأَرْفَعِهَا فِي دَرَجَاتِكُمْ، وَخَيْرٍ لَكُمْ مِنْ إِنْفَاقِ الذَّهَبِ وَالوَرِقِ، وَخَيْرٍ لَكُمْ مِنْ أَنْ تَلْقَوْا عَدُوَّكُمْ فَتَضْرِبُوا أَعْنَاقَهُمْ وَيَضْرِبُوا أَعْنَاقِكُمْ؟» قَالُوا بَلَى. «ذِكْرُ اللَّهِ تَعَالَى»،

---

1 الأحزاب سورت: 35 آيت .

2 الأعراف سورت: 205 آيت .

3 بخاري د الفتح له شرحي سره، 11/ 208، په: 6407 شميره، او مسلم، 1/ 539، په: 779 شميره، په دې الفاظو: ((مثل البيت الذي يذكر اللَّه فيه والبيت الذي لا يذكر اللَّه فيه مثل الحي والميت))، 1/539 . يعنې د هغه کور مثال چې الله پکې يادېږي او د هغه کور مثال چې الله پکې نه يادېږي د ژوندي او مړي دی.1/539.

ژباړه: "آیا زه تاسو ته ستاسو د غوره عملونو په اړه خبر درنکړم چې ستاسو د واکمن پر وړاندې تر ټولو پاکیزه او ستاسو مرتبو لره لوړوونکي وي، او ستاسو لپاره د سرو زرو او سپینو زرو له خیراتولو غوره وي، او له دې درته غوره وي چې د خپل دښمن سره مخ شئ؟ نو تاسو د هغوی ځټونه ووهئ او هغوی ستاسو ځټونه ووهي؟» هغوی وویل: ولې نه (یعني خبر راکړه)، هغه وفرمایل: د الله تعالی ذِکر (یادول).[1]

او هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى: أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي، وَأَنَا مَعَهُ إِذَا ذَكَرَنِي، فَإِنْ ذَكَرَنِي فِي نَفْسِهِ، ذَكَرْتُهُ فِي نَفْسِي، وَإِنْ ذَكَرَنِي فِي مَلَأٍ ، ذَكَرْتُهُ فِي مَلَأٍ خَيْرٍ مِنْهُمْ، وَإِنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ شِبْرًا، تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ ذِرَاعًا، وَإِنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ ذِرَاعًا، تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ بَاعًا، وَإِنْ أَتَانِي يَمْشِي أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً»،

ژباړه: «الله تعالی فرمایلي دي: زه د خپل بنده له ګمان سره یم چې پر ما یې لري، او زه له هغه سره یم کله مې چې یاد کړي، که چېرته یې زه له خپل ځان سره یاد کړم، زه به یې د خپل ځان سره یاد کړم او که چېرته یې د خلکو په منځ کې یاد کړم زه به یې د هغه له ټولګي ځخه په غوره ټولګي کې یاد کړم او که چېرته ماته د یوې لویشتې په اندازه رانږدې شو، زه به ورته یو ځنګل (ګز) ورنږدې شم، او که چېرته یو ګز را نږدې شو نو زه به ورته د دواړو خلاصو لاسونو په اندازه

[1] ترمذي، 5/ 459، په: 3377 شمیره روایت کړی، او ابن ماجه، 2/ 124، په: 3790 شمیره روایت کړی، او وګوره: صحیح ابن ماجه، 2/ 316، او صحیح الترمذي، 3/ 139.

ورنږدې شم او که چېرته زما لوري ته قدم وهونکی راغی زه به په تېز مزل سره ورشم».[1]

ژباړه: او د عبدالله بن بسر رضي الله عنه څخه روایت دی چې یو سړي وویل: ای د الله رسوله، یقینا چې د اسلام احکام پر ما ډېر شوي دي، نو ماته داسې یو څه راوښیه چې زه پرې په ټینګه عمل وکړم. هغه وفرمایل:

«لَا يَزَالُ لِسَانُكَ رَطْبًا مِنْ ذِكْرِ اللَّهِ»،

«تل دې ستا ژبه د الله په ذکر لنده وي»،[2]

او هغه صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللَّهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ، وَالحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا، لَا أَقُولُ: ﴿الـم﴾ حَرْفٌ، وَلَكِنْ: أَلِفٌ حَرْفٌ، وَلَامٌ حَرْفٌ، وَمِيْمٌ حَرْفٌ».

ژباړه: «څوک چې د الله جل جلاله له کتاب څخه یو حرف ولولي نو د هغه لپاره د هغه په څېر لس چنده نیکي ده، زه نه وایم چې (الم) یو حرف دی، بلکې (الف) حرف دی، (لام) حرف دی او (میم) حرف دی».[3]

---

[1] بخاري، 8/ 171، په: 7405 شمیره، او مسلم، 4/ 2061، په: 2675 شمیره، او الفاظ د بخاري دي.

[2] ترمذي، 5/458، په: 3375 شمیره، او ابن ماجه، 2/1246، په: 3793 شمیره روایت کړی دی، او ألباني په: صحیح الترمذي، 3/139، او صحیح ابن ماجه، 2/317 کې صحیح ګڼلی دی.

[3] ترمذي، 5/ 175، په : 2910 شمیره روایت کړی، او ألباني په صحیح الترمذي 3/9، او صحیح الجامع الصغیر کې په: 5/340 شمیره صحیح کړی دی.

ژباړه: او له عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم راووت او موږ په صفه کې وو، نو ویې فرمایل:

«أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنْ يَغْدُوَ كُلَّ يَوْمٍ إِلَى بُطْحَانَ، أَوْ إِلَى العَقِيقِ، فَيَأْتِيَ مِنْهُ بِنَاقَتَيْنِ كَوْمَاوَيْنِ فِي غَيْرِ إِثْمٍ وَلَا قَطِيعَةِ رَحِمٍ؟»

"تاسو کې څوک غواړي چې هره ورځ بطحان یا العقیق ته لاړ شي او دوه لویې غربې اوښې راولي، پرته له دې چې کومه ګناه وکړي یا خپلوي پرې کړي؟" نو موږ وویل: اې د الله رسوله، موږ همدا غواړو. هغه وفرمایل:

«أَفَلَا يَغْدُو أَحَدُكُمْ إِلَى المَسْجِدِ فَيَعْلَمَ، أَوْ يَقْرَأَ آيَتَيْنِ مِنْ كِتَابِ اللَّهِ عز وجل خَيْرٌ لَهُ مِنْ نَاقَتَيْنِ، وَثَلَاثٌ خَيْرٌ لَهُ مِنْ ثَلَاثٍ، وَأَرْبَعٌ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَرْبَعٍ، وَمِنْ أَعْدَادِهِنَّ مِنَ الإِبِلِ».

«نو آیا ستاسو څخه یو څوک سهار مهال جومات ته نه ځي چې هلته د الله تعالی له کتاب څخه دوه آیتونه زده کړي او یا یې ولولي، نو دا به ورته له دوو اوښانو غوره وي، او درې به ورته له دریو غوره وي او څلور به ورته له څلورو غوره وي، او په همدې ډول د اوښانو شمیر»[1].

او هغه ﷺ فرمایلي:

«مَنْ قَعَدَ مَقْعَدًا لَمْ يَذْكُرِ اللَّهَ فِيهِ، كَانَتْ عَلَيْهِ مِنَ اللَّهِ تِرَةٌ، وَمَنِ اضْطَجَعَ مَضْجِعًا لَمْ يَذْكُرِ اللَّهَ فِيهِ كَانَتْ عَلَيْهِ مِنَ اللَّهِ تِرَةٌ».

ژباړه: ((څوک چې په یو ځای کې کېناست او الله یې یاد نه کړ، نو د الله تعالی له خوا به دوی له پښېمانتیا او د اجر له کمښت سره مخ شي، او څوک چې په یو ځای کې ویده شو او

---

[1] مسلم، 553/1 ، په: 803 شمیره روایت کړی.

هلته یې الله یاد نه کړ نو د الله تعالی له اړخه به له پښېمانتیا او د هغه د اجر او ثواب له کمښت سره مخ شي.))[1].

او هغه ﷺ فرمایلي:

«مَا جَلَسَ قَوْمٌ مَجْلِسًا لَمْ يَذْكُرُوا اللَّهَ فِيهِ، وَلَمْ يُصَلُّوا عَلَى نَبِيِّهِمْ إِلَّا كَانَ عَلَيْهِمْ تِرَةً، فَإِنْ شَاءَ عذَّبَهُمْ، وَإِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُمْ».

ژباړه: ((د خلکو یوه ډله په داسې مجلس کې نه کېني چې پکې د الله ذکر نه کوي او په خپل پیغمبر درود نه وايي، مګر دا چې دا به د دوی لپاره د پښېمانتیا او د ثواب کمښت وي، که هغه وغواړي نو سزا به ورکړي، او که وغواړي بخښنه به ورته وکړي))[2].

او هغه ﷺ فرمایلي:

«مَا مِنْ قَوْمٍ يَقُومُونَ مِنْ مَجْلِسٍ لَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ فِيهِ إِلَّا قَامُوا عَنْ مِثْلِ جِيفَةِ حِمَارٍ، وَكَانَ لَهُمْ حَسْرَةً».

ژباړه: «هېڅ خلک له داسې یو مجلس څخه نه پورته کېږي چې دوی پکې الله یاد نه کړي مګر دا چې دوی داسې پورته کېږي لکه په یو مردار خره چې سره راغونډ شوي وي، او دا به د دوی لپاره پښېمانتیا ولري»[3].

---

1 أبو داود، 4/ 264، په: 4856 شمیره روایت کړی او نورو، و وګوره: صحیح الجامع، 342/5.

2 ترمذي، 5/ 461، په: 3380 شمیره روایت کړی او وګورئ: صحیح الترمذي، 140/3.

3 أبو داود، 4/ 264، په: 4855 شمیره، او أحمد، 389/2، په: 10680شمیره روایت کړی، وګورئ: صحیح الجامع، 176/5 .

«الحَمْدُ للّهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا، وَإِلَيْهِ النُّشُورُ».
ژباړه: "الله لره ستاینه ده چې موږ یې له مرګ نه وروسته بیا را ژوندي کړو او همغه ته له قبرو بېرته پورته کېدل دي".[1]

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ المُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، سُبْحَانَ اللَّهِ، وَالحَمْدُ للَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكبَرُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ العَلِيِّ العَظِيمِ، رَبِّ اغْفرْ لِي».
ژباړه: له الله پرته بل معبود نشته، هغه یو دی شریک نه لري، او هغه پاک ذات لره یوازې بشپړه واکمني ده، هغه له نورو پرته د محبت او تعظیم سره د ثنا او ستاینې وړ دی، او هغه په هر څه قادر دی، پاکي ده الله لره، او ستاینه ده الله لره، او له الله پرته بل معبود نشته، او الله لوی دی، او نشته هېڅ ځواک او قوت پرته له ستر الله څخه، رب زما! ماته ببننه وکړه.[2]

«الحَمْدُ لِلّهِ الَّذِي عَافَانِي فِي جَسَدِي، وَرَدَّ عَلَيَّ رُوحِي، وَأَذِنَ لِي بِذِكْرِهِ».

---

1 بخاري د الفتح له شرحې سره، 11/ 113، په: 6314 شمیره، او مسلم، 4/ 2083، په: 2711 شمیره روایت کړې.

2 «چا چې دا (دعا) وويل هغه ته به ببننه وشي، که دعا يې وکړه، نو دعا به يې قبوله شي، او که پورته شو او اودس يې وکړ او بيا يې لمونځ وکړ، نو لمونځ به يې قبول شي». بخاري د الفتح له شرحې سره (39/3)، شمیره (1154)، او نور. دا الفاظ د ابن ماجه دی. وګورئ: صحيح ابن ماجه (335/2).

ژباړه: ستاینه ده هغه ذات لره چې ماته يې زما په بدن کې روغتيا راکړې، او ماته يې زما روح بيرته راواپس کړ او اجازه يې راکړه چې ياد يې کړم.[1]

﴿إِنَّ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ لَأٓيَٰتٖ
لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ 190 ٱلَّذِينَ يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمٗا وَقُعُودٗا وَعَلَىٰ
جُنُوبِهِمۡ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ رَبَّنَا مَا خَلَقۡتَ
هَٰذَا بَٰطِلٗا سُبۡحَٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ 191 رَبَّنَآ إِنَّكَ مَن تُدۡخِلِ
ٱلنَّارَ فَقَدۡ أَخۡزَيۡتَهُۥۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٖ 192 رَّبَّنَآ إِنَّنَا سَمِعۡنَا
مُنَادِيٗا يُنَادِي لِلۡإِيمَٰنِ أَنۡ ءَامِنُواْ بِرَبِّكُمۡ فَـَٔامَنَّاۚ رَبَّنَا فَٱغۡفِرۡ لَنَا
ذُنُوبَنَا وَكَفِّرۡ عَنَّا سَيِّـَٔاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ ٱلۡأَبۡرَارِ 193 رَبَّنَا وَءَاتِنَا مَا
وَعَدتَّنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ وَلَا تُخۡزِنَا يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۖ إِنَّكَ لَا تُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ
194 فَٱسۡتَجَابَ لَهُمۡ رَبُّهُمۡ أَنِّي لَآ أُضِيعُ عَمَلَ عَٰمِلٖ مِّنكُم مِّن
ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰۖ بَعۡضُكُم مِّنۢ بَعۡضٖۖ فَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ وَأُخۡرِجُواْ مِن
دِيَٰرِهِمۡ وَأُوذُواْ فِي سَبِيلِي وَقَٰتَلُواْ وَقُتِلُواْ لَأُكَفِّرَنَّ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ
وَلَأُدۡخِلَنَّهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ ثَوَابٗا مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ
عِندَهُۥ حُسۡنُ ٱلثَّوَابِ 195 لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي ٱلۡبِلَٰدِ
196 مَتَٰعٞ قَلِيلٞ ثُمَّ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ 197 لَٰكِنِ ٱلَّذِينَ
ٱتَّقَوۡاْ رَبَّهُمۡ لَهُمۡ جَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا نُزُلٗا
مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۗ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ لِّلۡأَبۡرَارِ 198 وَإِنَّ مِنۡ أَهۡلِ
ٱلۡكِتَٰبِ لَمَن يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُمۡ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِمۡ خَٰشِعِينَ
لِلَّهِ لَا يَشۡتَرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ثَمَنٗا قَلِيلًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ أَجۡرُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡۗ

---

[1] ترمذي، 5/ 473، په: 3401 شميره، او وګورئ: صحيح الترمذي، 144/3.

إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ 199 يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱصۡبِرُواْ
وَصَابِرُواْ وَرَابِطُواْ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ 200﴾

ژباړه: د اسمانو او ځمکې په پیدایښت او د شپې او ورځې په اوښتون کې حتماً عقلمندو ته ډېرې نښې (د عبرت) دي.(۱۹۰)

هماغه کسان چې په ولاړه، ناسته او اړخونو پراته الله یادوي او د اسمانو او ځمکې په پیدایښت کې سوچونه کوي چې اې زموږ ربه دا خو دې چټې نه دي پیدا کړي، تا لره (عبثیاتو نه) پاکي ده نو د اور له عذابه مو وساتې.(۱۹۱)

اې زموږ ربه! تا چې څوک اور ته داخل کړ، نو هغه دې خوار کړ او ظالمانو لره څوک مرستندوی نشته. (۱۹۲)

اې زموږ ربه! موږ له یو بلونکي څخه د ایمان لور ته بلنه واورېده چې په خپل رب مو ایمان راوړئ، نو ایمان مو راوړو، زموږ ربه نو ګناهونه راته وبښه او بدۍ مو ورژوه او له نېکانو سره مو وفات کړه.(۱۹۳)

اې زموږ ربه! او هغه څه هم راکړه چې د خپلو رسولانو په ژبه دې موږ سره وعده کړې او د قیامت په ورځ مو مه شرموه، یقیناً ته خپله وعده نه ماتوې.(۱۹۴)

نو د هغوی پالونکي هغوی ته ځواب ورکړ چې بېشکه زه له تاسو نه د چا عمل کوونکي هېڅ کار نه ضایع کوم، نارینه وي که ښځینه (ځکه) تاسی یو له بله (زیږېدلي) یاست، نو چا چې هجرت کړی او له خپلو کورونو ایستل شوي او زما په لار کې ځورېدلي، جنګیدلي او وژل شوي، نو خامخا به یې بدۍ ترې لرې کړم او داسې جنتونو ته به یې داخل کړم چې

ترې لاندې يې ويالې بهيږي (دا) د الله له لوري يوه بدله، او الله سره خو ډېره ښه بدله ده.(١٩٥)

(ګوره) چې په ښارونو کې د کافرانو ګرځېدل راګرځيدل دې و نه غولوي.(١٩٦)

دا د لږو (ورځو) ګټه اخيستل دي بيا يې ځای جهنم دی او ځومره بد هستوګنځی دی.(١٩٧)

خو (بل خوا) هغو کسانو ته چې له خپله ربه وېرېږېدلي داسې جنتونه دي چې ترې لاندې ويالې بهيږي، تلپاتې به وي په هغو کې، (دا) د الله له خوا يوه مېلمستيا، او الله سره چې څه دي هغه نېکانو ته ډېر غوره دي.(١٩٨)

او له اهل کتابو نه خامخا ځينې هغه دي چې په الله ايمان راوړي او په هغه څه هم چې تاسو ته نازل شوي او څه چې هغوی ته نازل شوي، الله ته عاجزي کوونکي دي او د الله په ايتونو (دا) لږ غوندې بيه نه پيري، دې خلکو ته يې له خپل رب سره اجر دی، بېشکه چې الله ډېر زر حساب کوونکی دی.(١٩٩)

اې مومنانو صبر کوئ، صابر اوسئ، ټينګ اوسئ (په اسلامي سرحد کې) او الله نه وډار شئ تر څو بريالي شئ.(٢٠٠)

[آل عمران سورت: ١٩٠-٢٠٠ ايت].[1]

---

1 بخاري د الفتح له شرحې سره، ٨/٣٣٧، ۴۵۶۹ شميره، او مسلم، ١/٥٣٠، په: ٢٥۶ شميره.

### د جامو اغوستلو دعا

«الحَمْدُ للّهِ الَّذِي كَسَانِي هَذَا (الثَّوْبَ) وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلَّا قُوَّة...».

ژباړه: ستاینه ده الله لره، هغه ذات چې ماته يې دا (جامې) راواغوستې او زما له کوم ځواک پرته يې ماته راکړې.[1]

### د نويو جامو د اغوستلو دعا

«اللَّهُمَّ لَكَ الحَمْدُ أَنْتَ كَسَوْتَنِيهِ، أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِهِ وَخَيْرِ مَا صُنِعَ لَهُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ».

ژباړه: ای الله تا لره ستاینه ده، تا ماته جامې راواغوستې، زه له تا څخه د هغې د خير او هغه خير چې د هغه لپاره جوړې شوې دي غوښتنه کوم، او د هغو له شر او د هغه څه له شر څخه چې د هغه لپاره جوړې شوې دي پناه غواړم ."[2]

### هغه چاته دعا چې نوې جامې يې اغوستې وي.

«تُبْلِي وَيُخْلِفُ اللَّهُ تَعَالَى».

ژباړه: الله تعالی دې په خير درباندې زړې کړي او نورې دې درکړي.[3]

---

1 اصحاب السنن له نسائی پرته روايت کړی: أبو داود، په: 4023 شميره، او ترمذي، په: 3458 شميره ، او ابن ماجه، په: 3285 شميره، او ألباني په ارواء الغليل کې په: 47/7 حسن کړی .

2 أبو داود، په:4020 شميره، او ترمذي، په: 1767 شميره، او البغوي، 12/ 40 روايت کړی. او وګورئ: مختصر شمائل الترمذي د شيخ الألباني، ص47.

3 أبو داود، 4/ 41، په: 4020 شميره روايت کړی، او وګورئ: صحيح أبي داود 760/2.

«اِلْبَسْ جَدِيدًا، وَعِشْ حَمِيدًا، وَمُتْ شَهِيدًا».
ژباړه: نوي جامې واغونده، ستایل شوی ژوند وکړه او د شهادت په مرګ مړ شه.[1]

### ۵. هغه څه چې د جامو ویستلو پر مهال یې باید ووایي

«بِسْمِ اللَّهِ».
ژباړه: د الله په نوم.[2]

### حمام ته د ننوتلو دعا

«[بِسْمِ اللَّهِ] اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبْثِ وَالْخَبَائِثِ».
ژباړه: "[د الله په نوم]، ای الله، زه پر تا له نارینه او ښځینه وو شیطانانو څخه پناه نیسم."[3]

### له بيت الخلا څخه د راوتلو دعا

«غُفْرَانَكَ».
ژباړه: ای الله بښنه وکړه.[4]

---

1 ابن ماجه، 2/ 1178، په: 3558 شمیره، او البغوي، 41/12 روایت کړی، او وګوره: صحیح ابن ماجه، 275/2 .
2 ترمذي، 2/ 505، په: 606 شمیره، او نور، وګوره: إرواء الغلیل، په: 50 شمیره، او صحیح الجامع، 203/3 .
3 بخاري روایت کړی، 1/ 45، په: 142 شمیره، او مسلم، 1/ 283، په: 375 شمیره، او په سر کې د دې الفاظو په زیاتوالي سره: ((بسم الله)) سعید بن منصور روایت کړی. وګوره: فتح الباري 244/1.
4 له نسائي پرته أصحاب السنن روایت کړی، هغه په: عمل الیوم واللیلة کې په: 79 شمیره، أبو داود، په: 30 شمیره، او ترمذي، په: 7 شمیره، او ابن ماجه، په: 300، او ألباني په: صحیح سنن أبي داود، 1/ 19 کې صحیح بللی.

### د اودس په پیل کې دعا

«بِسْمِ اللَّهِ».

ژباړه: د الله په نوم.[1]

### د اودس په پای کې دعا

«أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ..».

ژباړه: زه شاهدي ورکوم چې له الله جل جلاله پرته بل معبود نشته او هغه لره هېڅ شريک نشته، او شاهدي ورکوم چې محمد د هغه بنده او رسول دی.[2]

«اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِينَ وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِينَ».

ژباړه: اې الله ما له توبه کوونکو او پاکي خوښوونکو څخه وګرځوې.[3]

«سُبْحانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتوبُ إِلَيْكَ».

ژباړه: اې الله ته پاک يې او تا لره ستاينه ده، زه شاهدي ورکوم چې له تا پرته بل معبود نشته، زه ستا څخه بخښنه غواړم او تاته توبه کوم.[4]

---

1 أبو داود، په:101 شمیره، او ابن ماجه، په: 397 شمیره، او أحمد، په: 9418 شمیره روایت کړی، او وګوره إرواء الغلیل 122/1.

2 مسلم، 1/ 209، په:234 شمیره روایت کړی.

3 ترمذي، 1/ 78، په: 55 شمیره روایت کړی، او وګورئ: صحیح الترمذي، 18/1 .

4 نسائي په: عمل الیوم واللیلة کې په:173 شمیره روایت کړی، او وګورئ: إرواء الغلیل 135/1 او 94/3 .

### له کور څخه د وتلو دعا

«بِسْمِ اللَّهِ، تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ».

ژباړه: د الله په نوم، زه په الله توکل کوم، او پرته له الله بل هيڅ ځواک او قوت نشته."[1].

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَضِلَّ، أَوْ أُضَلَّ، أَوْ أَزِلَّ، أَوْ أُزَلَّ، أَوْ أَظْلِمَ، أَوْ أُظْلَمَ، أَوْ أَجْهَلَ، أَوْ يُجْهَلَ عَلَيَّ».

ژباړه: «ای الله! زه تا ته پناه وړم له دې چې لار ورکی شم، يا مي بل څوک بې لارې کړي، يا څوک وښويوم، او يا زه وښويولی شم، يا ظلم وکړم، او يا ظلم را سره وشي، يا خلکو ته ضرر او نقصان ورسوم، يا را ته ضرر راورسولی شي او دا چې زه د جهالت کار وکړم او يا زما سره وشي».[2].

### کور ته د ننوتلو دعا

«بِسْمِ اللَّهِ وَلَجْنَا، وَبِسْمِ اللَّهِ خَرَجْنَا، وَعَلَى اللَّهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا، ثُمَّ لِيُسَلِّمْ عَلَى أَهْلِهِ».

ژباړه: موږ د الله په نوم ننوتلو او د الله په نوم ووتلو او په الله مو توکل کړی چې زموږ رب دی ." بيا خپلې کورنی ته سلام کوي.[3]

---

1 أبو داود، 4/ 325، په: 5095 شميره، او ترمذي، 5/ 490 په: 3426 شميره روايت کړی او وګورئ: صحيح الترمذي 151/3.

2 أبو داود په: 5094 شميره، او ترمذي په: 3427 شميره، او نسائي په: 5501 شميره، او ابن ماجه په: 3884 شميره روايت کړی او وګورئ: صحيح الترمذي، 152/3، او صحيح ابن ماجه، 336/2 .

3 أبو داود په: 325/4، 5096 شميره روايت کړی، او علامه ابن باز يې په: تحفة الاخيار کې اسناد حسن بللی 28 مخ، او په الصحيح کې داسې دي: «إِذَا

«اللَّهُمَّ اجْعَلْ فِي قَلْبِي نُورًا، وَفِي لِسَانِي نُورًا، وَفِي سَمْعِي نُورًا، وَفِي بَصَرِي نُورًا، وَمِنْ فَوْقِي نُورًا، وَمِنْ تَحْتِي نُورًا، وَعَنْ يَمِينِي نُورًا، وَعَنْ شِمَالِي نُورًا، وَمِنْ أَمَامِي نُورًا، وَمِنْ خَلْفِي نُورًا، وَاجْعَلْ فِي نَفْسِي نُورًا، وَأَعْظِمْ لِي نُورًا، وَعَظِّمْ لِي نُورًا، وَاجْعَلْ لِي نُورًا، وَاجْعَلْنِي نُورًا، اللَّهُمَّ أَعْطِنِي نُورًا، وَاجْعَلْ فِي عَصَبِي نُورًا، وَفِي لَحْمِي نُورًا، وَفِي دَمِي نُورًا، وَفِي شَعْرِي نُورًا، وَفِي بَشَرِي نُورًا».

ژباړه: ((ای الله زما زړه رڼا کړه، زما ژبه رڼا کړه، زما غوږونه روښانه کړه، زما سترګې رڼا کړه، زما پورته، زما لاندې، زما ښی لور او زما کیڼ لور رڼا کړه، زما مخې ته، زما شاته او زما په نفس کې روښنايي راوله زما لپاره زما روښنايي لويه کړه، او زما لپاره روښنايي زياته کړه، او ماته روښنايي راکړه، او ما نوراني کړه، ای الله ماته رڼا راکړه، او زما په اعصابو کې روښنايي راوله، زما په غوښه کې، زما په وينه کې، زما په ويښتانو کې روښنايي راوله او بشره مې نوراني کړه))[1].

«اللَّهُمَّ اجْعَلْ لِي نُورًا فِي قَبْرِي... وَنُورًا فِي عِظَامِي» «وَزِدْنِي نُورًا، وَزِدْنِي نُورًا، وَزِدْنِي نُورًا» «وَهَبْ لِي نُورًا عَلَى نُورٍ».

---

دَخَلَ الرَّجُلُ بَيْتَهُ فَذَكَرَ اللَّهَ عِندَ دُخُولِهِ، وَعِندَ طَعَامِهِ، قَالَ الشَّيْطَانُ: لَا مَبِيتَ لَكُمْ، وَلَا عَشَاءَ»، کله چې يو سړی کور ته ننوځي او د ننوتلو او ډوډۍ خوړلو پر مهال الله ياد کړي نو شيطان -خپلو ملګرو ته- وو ايي: نه د اوسېدو ځای لرئ او نه درته ډوډۍ شته، مسلم په: 2018 شميره روايت کړی.

[1] دا ټول الفاظ په: بخاري، 116/11، کې په: 3166 شميره، او مسلم، 526/1، کې په: 529 و 530 و 763 شميرو راغلي دي .

ژباړه: ای الله ماته په قبر کې روښنايي راکړه... او زما په هډوکو کې روښنايي وګرځوه)) ماته روښنايي زياته کړه، ماته روښنايي زياته کړه او ماته روښنايي زياته کړه))] [(( او ماته د رڼا د پاسه رڼا راکړه))].[3][2][1]

### جومات ته د ننوتلو دعا

((په ښي پښې سره به پيل کوي))[4]، او وايي به:

«أَعُوذُ بِاللَّهِ العَظِيمِ، وَبِوَجْهِهِ الكَرِيمِ، وَسُلْطَانِهِ القَدِيمِ، مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ»

ژباړه: په لوی الله د هغه په عزتمن مخ او قديمې پاچاهۍ له رټلی شوي شيطان څخه پناه غواړم[5]

«بِسْمِ اللَّهِ، وَالصَّلَاةُ» «وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ»

---

1 ابن حجر په فتح الباري کې ذکر کړی، او ابن أبي عاصم ته يې په: کتاب الدعاء کې نسبت کړی دی، وګوره: الفتح 118/11، او ويلي يې دي: د رواياتو له ټولګې پنځه ويشت خصلتونه راټول شوي دي.

2 بخاري په: الأدب المفرد کې په:695 شميره 258 روايت کړی او الباني يې په صحيح الأدب المفرد کې اسناد صحيح کړي دي. 536 شميره .

3 ترمذي، 5/ 483، په: 3419 شميره روايت کړی .

4 دليل يې د انس بن مالک رضي الله عنه وينا ده: «سنت طريقه دا ده چې کله جومات ته ننوځې نو ښۍ پښه دې مخکې کړه، او د راوتلو پر مهال دې چپه پښه مخکې کړه»، حاکم په (۲۱۸/۱) کې روايت کړی، او د مسلم په شرط يې صحيح کړی او ذهبي ورسره موافقت کړی دی، او بيهقي په (۴۴۲/۲) کې روايت کړی، او الباني په سلسلة الأحاديث الصحيحة (۶۲۴/۵) کې په (۲۴۷۸) شميره حسن کړی دی.

5 أبو داود، په: 466 شميره روايت کړی، او وګوره: صحيح الجامع،4591 شميره .

ژباړه: «د الله په نوم، او درودواو سلام دې وي پر رسول الله»[2][1]

«اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ».

ژباړه: "ای الله ماته دې د رحمت دروازې پرانیزه"[3].

## له جوماتٔ څخه د وتلو دعا

((په چپه پښه پیل کوي))[4] او وایي:

«بِسْمِ اللَّهِ وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ،

ژباړه: د الله په نوم، او درود او سلام دې وي د الله پر رسول،

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ،

ژباړه: ای الله، زه ستا د فضل غوښتنه کوم،

اللَّهُمَّ اعْصِمْنِي مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ».

ژباړه: «ای الله ما له رټل شوي شیطان څخه وساته»[5].

---

1 أبو داود، 1/ 126، په: 465 شمیره روایت کړی، او وګورئ: صحیح الجامع، 528/1.

2 ابن السني په (88) شمیره روایت کړی، او ألباني په: الثمر المستطاب کې په 607 مخ کې حسن کړی دی.

3 مسلم، 494/1، په: 713 شمېره روایت کړی، او په سنن ابن ماجه کې د فاطمې رضي الله عنها له حدیث څخه داسې الفاظ دي: «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي، وَافْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ»، ای الله ماته زما ګناهونه وبښه او د رحمت دروازې راته پرانیزه، وګوره: صحیح ابن ماجه (128/1) په (129) شمېره.

4 حاکم په: 1/ 218 روایت کړی، او بیهقي په: 2/ 442 کې روایت کړی، او ألباني په: سلسلة الأحادیث الصحیحة کې په:، 5/ 624 شمیره 2478 روایت کړی، تخریج یې وړاندې تېر شو.

5 د مخکیني حدیث د روایتونو تخریج جومات ته د ننوتلو د دعا په حدیث کې په (۲۰) ګڼه وګوره او دا زیاتوالی: ((اللهم اعصمني من الشیطان الرجیم))

هغه څه وايي چې اذان کوونکی يې وايي پرته له: ((حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ)) او ((حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ)) څخه چې هلته به وايي:

«لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ».

ژباړه: له ګناه څخه ګرځېدل نشته او پر نېکو کارونو توفيق نشته مګر د الله په مرسته.[1]

وايي:

«وَأَنَا أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، رَضِيتُ بِاللَّهِ رَبًّا، وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا، وَبِالإِسْلَامِ دِينًا»

ژباړه: «او زه ګواهي ورکوم چې له الله پرته حق معبود نشته، هغه يو دی شريک نه لري او پر دې چې محمد د هغه بنده او رسول دی، زه په الله د رب په توګه، په محمد صلی الله عليه وسلم د نبي په توګه او په اسلام د دين په توګه راضي يم.»[2]

(دا به د مؤذن د شهادتينو پسې وايي).[3]

(د اذان کوونکي له جواب ويلو وروسته به په رسول الله صلی الله عليه وسلم درود وايي).[4]

وايي:

---

ای الله ما له رټلی شوي شيطان څخه وساتې) د ابن ماجه حديث دی. وګوره: صحيح ابن ماجه، 129/1.

[1] بخاري، 152/1، په: 611 شميره، او 613 شميره، او مسلم، 288/1 په: 383 شميره روايت کړی دی.

[2] مسلم، 1/ 290، په: 386 شميره روايت کړی.

[3] ابن خزيمة، 220/1 روايت کړی.

[4] مسلم، 1/ 288، په: 384 شميره روايت کړی.

«اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلَاةِ القَائِمَةِ، آتِ مُحَمَّدًا الوَسِيلَةَ وَالفَضِيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ، [إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ المِيعَادَ]».

ژباړه: "اې الله، اې د دې بشپړ دعوت څښتنه، محمد ته وسيله او فضيلت ورکړه، او هغه د ستاینې مقام ته ورسوه، هغه چې تا ورسره وعده کړې وه، بیشکه چې ته وعده خلافي نه کوې".[1].

(د اذان او اقامت تر منځ به ځان ته دعا کوي، ځکه دا مهال دعا نه رد کیږي)[2].

## د اسْتِفْتَاح (د لمانځه د پیل) دعا

«اللَّهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ المَشْرِقِ وَالمَغْرِبِ، اللَّهُمَّ نَقِّنِي مِنْ خَطَايَايَ كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ، اللَّهُمَّ اغْسِلْنِي مِنْ خَطَايَايَ، بِالثَّلْجِ وَالماءِ وَالبَرَدِ».

ژباړه: «اې الله! زما او زما د ګناهونو تر منځ دومره لرې والی راولې، لکه څنګه چې دې د مشرق او مغرب په منځ کې لرې والی راوستی، اې الله! ما له خپلو ګناهونو څخه داسې پاک کړې، لکه څنګه چې سپینه جامه له خیرو څخه پاکیږي،

---

[1] بخاري، 1/ 152، په: 614 شمیره روایت کړی، او د قوسونو ترمنځ د بیهقي عبارات دي، 410/1، او علامة عبد العزيز بن باز -رحمه الله- یې په تحفة الأخيار کې اسناد حسن کړي دي 38 مخ.

[2] ترمذي، په: 3594 او 3595 شمیره روایت کړی، او أبو داود، په: 525 شمیره، او أحمد، په: 12200 شمیره روایت کړی، او وګوره: إرواء الغليل، 262/1.

اى الله! ما له ګناهونو نه په واوره، اوبو او ږلى سره ووينځې».[1]

«سُبْحانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، وَتَبارَكَ اسْمُكَ، وَتَعالَى جَدُّكَ، وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ».

ژباړه: اى الله! پاكي او ستاينې يوازې تالره دي او نوم دې مبارک دى، شان دې لوړ دى او له تا پرته بل معبود نشته.[2]

«وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ المُشْرِكِينَ، إِنَّ صَلَاتِي، وَنُسُكِي، وَمَحْيَايَ، وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ العَالَمِينَ، لَا شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا مِنَ المُسْلِمِينَ، اللَّهُمَّ أَنْتَ المَلِكُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، أَنْتَ رَبِّي وَأَنَا عَبْدُكَ، ظَلَمْتُ نَفْسِي وَاعْتَرَفْتُ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي ذُنُوبِي جَمِيعًا إِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنوبَ إِلَّا أَنْتَ، وَاهْدِنِي لِأَحْسَنِ الأَخْلاقِ لَا يَهْدِي لِأَحْسَنِها إِلَّا أَنْتَ، وَاصْرِفْ عَنِّي سَيِّئَهَا، لَا يَصْرِفُ عَنِّي سَيِّئَهَا إِلَّا أَنْتَ، لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ، وَالخَيْرُ كُلُّهُ بِيَدَيْكَ، وَالشَّرُّ لَيْسَ إِلَيْكَ، أَنَا بِكَ وَإِلَيْكَ، تَبارَكْتَ وَتَعالَيْتَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتوبُ إِلَيْكَ».

ژباړه: (ما خپل مخ د هغه ذات په لور كړى چې اسمانونه او ځمكه يې پيدا كړي او زه له مشركانو څخه نه يم، زما لمونځ، زما عبادت، زما ژوند او زما مرګ د الله لپاره دى؛ هغه ذات چې د عالميانو رب دى، هغه لره شريک نه نشته، او په همدې

---

1 بخاري، 1/ 181، په: 744 شميره، او مسلم، 1/ 419، په: 598 شميره روايت كړى.

2 مسلم، په: 399 شميره روايت كړى، او أصحاب السنن الأربعة: أبو داود، په: 775 شميره، ترمذي په: 243 شميره، ابن ماجه په: 806 شميره، او نسائي په: 899 شميره روايت كړى او وګوره: صحيح الترمذي،1/77،او صحيح ابن ماجه، 135/1.

سره ماته امر شوی او زه له مسلمانانو څخه یم، ای الله، ته پادشاه یې، له تا پرته بل معبود نشته. ته زما رب یې، او زه ستا بنده یم. ما په خپل ځان ظلم کړی، او زه په خپله ګناه اعتراف کوم، نو زما ټول ګناهونه وبخښه، په حقیقت کې له تا پرته بل څوک ګناهونه نه بخښي، ما ته د غوره اخلاقو لارښوونه وکړه، ځکه چې له تا پرته بل څوک له دې غوره لارښوونه نه کوي، او له ما څخه بد اخلاقي لرې کړه، ځکه چې له تا پرته بل څوک (له ما څخه) بد اخلاقي نه شي چپولی، چمتو یم ستا امر منلو ته او خوښ یم پرې، او ټولې ښېګڼې ستا په لاس کې دي، او شر ستا لخوا نه دی، زما (توکل) پر تا دی، او ټولې چارې مې ستا لپاره دي، ته برکتمن او لوړ یې، زه ستا څخه بخښنه غواړم او تا ته توبه کوم.[1]

«اللَّهُمَّ رَبَّ جِبْرَائِيلَ، وَمِيْكَائِيلَ، وَإِسْرَافِيلَ، فَاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ، عَالِمَ الغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ، اهْدِنِي لِمَا اخْتُلِفَ فِيهِ مِنَ الحَقِّ بِإِذْنِكَ إِنَّكَ تَهْدِي مَنْ تَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ».

ژباړه: ای د جبرائیل، میکائیل او اسرافیل ربه! د آسمانونو او ځمکې پیدا کوونکیه، په پټو او ښکاره وو پوه ذاته، ته د بنده ګانو تر منځه په هغه څه کې پرېکړه کوې چې دوی پکې اختلاف لري، ماته د هغه حق په اړه لارښوونه وکړې چې خلک سره پکې ستا په اجازه اختلاف لري، بېشکه ته سمې لارې ته لارښوونکی یې چالره چې وغواړې.[2]

---

[1] مسلم روایت کړی، 1/ 534، په: 771 شمیره.
[2] مسلم، 1/ 534، په: 770 شمیره روایت کړی .

«اللَّهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا، اللَّهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا، اللَّهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا، وَالحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيرًا، وَالحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيرًا، وَالحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيرًا، وَسُبْحَانَ اللَّهِ بُكْرَةً وَأَصِيلًا»

ژباړه: «الله ډېر لوی دی په لويوالي سره، الله ډېر لوی دی په لويوالي سره، الله ډېر لوی دی په لويوالي سره، او الله لره ډېره ستاينه ده، او الله لره ډېره ستاينه ده، او د الله لره ډېره ستاينه ده، او سهار او ماښام د الله پاکي بيانوم »

درېيم ځلي

«أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ: مِنْ نَفْخِهِ، وَنَفْثِهِ، وَهَمْزِهِ».

ژباړه: «زه له شيطان نه په الله تعالى پورې پناه نيسم: د هغه له پوكي وهلو، پو كولو او د هغه له وسوسو څخه».[1]

«اللَّهُمَّ لَكَ الحَمْدُ، أَنْتَ نُورُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ، وَلَكَ الحَمْدُ أَنْتَ قَيِّمُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ، [وَلَكَ الحَمْدُ أَنْتَ رَبُّ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ] [وَلَكَ الحَمْدُ لَكَ مُلْكُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ] [وَلَكَ الحَمْدُ أَنْتَ مَلِكُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ] [وَلَكَ الحَمْدُ] [أَنْتَ الحَقُّ، وَوَعْدُكَ الحَقُّ، وَقَوْلُكَ الحَقُّ، وَلِقَاؤُكَ الحَقُّ، وَالجَنَّةُ حَقٌّ، وَالنَّارُ حَقٌّ، وَالنَّبِيُّونَ حَقٌّ،

---

[1] أبو داود په: (1/203)، كې په: (764) شميره، او ابن ماجه په: (1/265) كې په: (807) شميره، او أحمد په: (4/85) كې په: (16739) شميره روايت كړى، او شعيب الأرناؤوط د مسند په تحقيق كې ويلي چې: ((حسن لغيره)) دى،او عبد القادر الأرناؤوط د ابن تيمية د الكلم الطيب په تخريج كې ويلي (78): ((هغه حديث په شواهدو سره صحيح دى))، او الباني په صحيح الكلم الطيب كې په (٦٢) شميره كې يادونه كړې ده، او مسلم د ابن عمر رضي الله عنهما څخه د دې په څېر روايت كړى او په دې كې كيسه ده، (1/ 420)، شميره: (601).

وَمحَمَّدٌ ﷺ حَقٌّ، وَالسَّاعَةُ حَقٌّ] [اللَّهُمَّ لَكَ أَسْلَمتُ، وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ، وَبِكَ خاصَمْتُ، وَإِلَيْكَ حاكَمْتُ. فَاغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ، وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ، وَمَا أَعْلَنْتُ] [وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي] [أَنْتَ المُقَدِّمُ، وَأَنْتَ المُؤَخِّرُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ] [أَنْتَ إِلَهِي لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ] [وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ]».

«(یا الله تا لره ستاینه ده، ته د آسمانونو او ځمکې نور یې او څه چې پکې دي، تالره ستاینه، ته د آسمانونو او زمکې چارسمبالی او ساتونکی یې او څه چې پکې دي، تالره ستاینه ده ته د آسمانونو او د ځمکې رب یې او څه چې پکې دي، تا لره ستاینه ده او تا لره د اسمانونو او ځمکې پادشاهي ده او څه چې پکې دي، تا لره ستاینه ده، ته د اسمانونو او ځمکې پادشاه یې، [ته حق یې، ستا ژمنه حقه ده، ستا وینا حق ده، تاسره مخ کېدل حق دي، جنت حق دی، اور (د جهنم) حق دی، پیغمبران حق دي او محمد صلی الله علیه وسلم حق دی او قیامت حق دی] [یا الله! ما تاته غاړه ایښودلې، پر تا مې توکل کړی، پر تا مې ایمان راوړی، او تا ته مې په توبې او پښېمانتیا سره رجوع کړې، ستا لپاره مې جګړه کړې او پر تا فیصله کوم، نو ماته هغه ګناهونه وبښه چې ما مخکې کړې او هغه چې ما وروسته کړي، هغه چې ما پټ کړي او هغه چې ما ښکاره کړي)، هغه چې ته پرې له ما ښه خبر یې، ته مخکې کوونکی او وروسته کوونکی ذات یې، له تا پرته بل حق معبود نشته، ته زما معبود یې؛ له تا پرته بل حق معبود نشته)، (او له ګناه

اوږيدل او د عبادت توفيق نشته مګر د الله په خوښه او د هغه په اراده).»[21]

## د رکوع دعا

«سُبْحانَ رَبِّيَ العَظِيمِ».
ژباړه«زما ستر رب لره پاکي ده».
درې ځلې[3].

«سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي».
ژباړه: «پاکي ده تا لره ای ربه، ته منزه او پاک يې، او ټولې ستاينې تا لره دي، ای الله ما ته بخښنه وکړه».[4]

«سُبُّوحٌ، قُدُّوسٌ، رَبُّ المَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ».
ژباړه: "پاکي ده پاک ذات لره، د ملايکو او روح رب لره"[5].

«اللَّهُمَّ لَكَ رَكَعْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَلَكَ أَسْلَمْتُ، خَشَعَ لَكَ سَمْعِي، وَبَصَرِي، وَمُخِّي، وَعَظْمِي، وَعَصَبِي، [وَمَا اسْتَقَلَّتْ بِهِ قَدَمِي]».

---

1 بخاري د الفتح سره، 3/3، 116/11، 371/13، 423، 465، ګڼه 1120، ګڼه 6317، ګڼه 7385، ګڼه 7442، ګڼه 7499، او مسلم، ورته په لنډيز سره، 532/1، په 769.ګڼه

2 رسول الله صلى الله عليه وسلم به کله چې د شپې لمانځه ته پاڅېده نو دا کلمات به يې ويل.

3 دا حديث اهل السنن او احمد روايت کړی دی: ابو داود، په ګڼه (٨٧٠) او ترمذي په ګڼه (٢٦٢)، او نسائي په ګڼه (١٠٠٧)، او ابن ماجه په ګڼه (٨٩٧)، او احمد په ګڼه (٣٥١٤). وګوره: صحيح الترمذي، ٨٣/١.

4 بخاري په: 99/1، 794 شميره او مسلم، 350/1،په 484 شميره روايت کړی.

5 مسلم، ٣٥٣/١، په: ٤٨٧ شميره ، او ابوداود، ٢٣٠/١، په: ٨٧٢ شميره.

ژباړه: [(اې الله، ستا لور ته مې رکوع وکړه، پر تا مې ایمان راوړ، او تا ته مې غاړه کېښوده، زما غوږونه، زما سترګې، زما مغز، زما هډوکي، زما اعصاب او هغه څه چې زما پښې پرې ولاړې دي ستا په وړاندې عاجزي کړې ده)][1].

«سُبْحَانَ ذِي الجَبَرُوتِ، وَالمَلَكُوتِ، وَالكِبْرِيَاءِ، وَالعَظَمَةِ».

ژباړه: "پاکي ده هغه ذات لره چې د قهر، سلطنت، غرور او لويی خاوند دی"[2]

## له رکوع څخه د پورته کېدو دعا.

«سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ».

ژباړه: الله د ثنا ويونكي ستاينه واورېده.[3]

«رَبَّنَا وَلَكَ الحَمْدُ، حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبارَكًا فِيهِ».

ژباړه: ربه! ټولې ستاينې ستا لپاره دي، ډېرې پاکې او مبارکې ستاينې.[4].

«مِلْءَ السَّمَوَاتِ وَمِلْءَ الأَرْضِ، وَمَا بَيْنَهُمَا، وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيءٍ بَعْدُ. أَهلَ الثَّنَاءِ وَالمَجْدِ، أَحَقُّ مَا قَالَ العَبْدُ، وَكُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ،

---

1 مسلم (۱/۵۳۴) په: (۷۷۱) ګڼه، او له ابن ماجه پرته نورو اهل السنن روايت کړی: ابو داود په: (۷۶۰) او (۷۶۱) شميره، ترمذي په: (۳۴۲۱) شميره، نسائي په: (۱۰۴۹) شميره روايت کړی، او هغه څه چې د قوسونو ترمنځ دي د ابن خزيمه الفاظ دي، (۶۰۷) شميره، او ابن حبان، (۱۹۰۱) شميره.

2 أبو داود: 1/ 230 په: 873 شميره، او نسائي په:1131 شميره، او أحمد په: 23980 شميره روايت کړی او سند يې حسن دی.

3 بخاري د الفتح سره، 2/ 282، په: 796 شميره.

4 بخاري د الفتح له شرحې سره، ۲/ ۲۸۴، په ۳۳۷۱ شميره.

اللَّهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الجَدِّ مِنْكَ الجَدُّ».

((مِلْءَ السَّمَوَاتِ وَمِلْءَ الأَرْضِ، وَمَا بَيْنَهُمَا، وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيءٍ بَعْدُ. أَهلَ الثَّناءِ وَالْمَجْدِ، أَحَقُّ مَا قَالَ الْعَبْدُ، وَكُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ. اللَّهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الجَدِّ مِنْكَ الجَدُّ))[1].

(اى الله تالره پوره ستاينه ده) د آسمانونو او زمكي او د هغو تر منځ د مخلوقاتو د ډكوالي په اندازه، او په اندازه د ډكوالي د هغو شيانو چې تا وورروسته غوښتي دي، اې دستاينې او لويي خاونده! ته چې چاته څه وركړې، د هغه (څوک) بندوونكى نشته، او ته چې (له چانه) څه بند كړې، د هغه (څوک) وركوونكى نشته، او مالدار ته د هغه مال ګټه نه رسوي چې ستا عذاب تر لرې كړي».

### د سجدې دعا

«سُبْحَانَ رَبِّيَ الأَعْلَى»

ژباړه: (زما رب لره پاكي ده چې تر هر څه لوړ او پورته دى)

درې ځلې[2].

«سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي».

---

1 مسلم، 1/ 346، په: 477 شميره روايت كړى.

2 دا حديث اهل السنن او احمد روايت كړى دى: ابو داود، ٨٧٠ توک، ترمذي، ٢٦٢ توک، نسائي، ١٠٠٧ توک، ابن ماجه، ٨٩٧ توک، او احمد، ٣٥١٤ توک. وګوره: صحيح الترمذي، ١/٨٣.

ژباړه: «پاکي ده تالره ای ربه، ته پاک يې، او تولې ستاينې تا لره دي، ای الله ما ته بخښنه وکړه».[1]

«سُبُّوحٌ، قُدُّوسٌ، رَبُّ المَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ».

ژباړه: "پاکي دې وي پاک ذات لره، د ملايکو او روح رب لره".[2]

«اللَّهُمَّ لَكَ سَجَدْتُ وَبِكَ آمَنْتُ، وَلَكَ أَسْلَمْتُ، سَجَدَ وَجْهِيَ لِلَّذِي خَلَقَهُ، وَصَوَّرَهُ، وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ، تَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الخَالِقِينَ».

ژباړه: «ای الله، تا ته مې سجده وکړه، او په تا مې ايمان راوړ، او ما تاته غاړه کېښوده، زما مخ هغه ذات ته سجده وکړه چې پيدا کړی يې دی، غوږ او سترګه يې ورته جوړ کړي، الله ډير د برکت خاوند او تر تولو غوره خالق دی».[3]

«سُبْحَانَ ذِي الجَبَرُوتِ، وَالمَلَكُوتِ، وَالكِبْرِيَاءِ، وَالعَظَمَةِ».

ژباړه: "پاکي ده هغه ذات لره چې د قهر، سلطنت، غرور او لويې خاوند دی".[4]

«اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي كُلَّهُ: دِقَّهُ وَجِلَّهُ، وَأَوَّلَهُ وَآخِرَهُ، وَعَلَانِيَّتَهُ وَسِرَّهُ».

---

1 بخاري په: 794 شميره او مسلم په: 484 شميره روايت کړی او په 34 شمېره کې تېر شو.

2 مسلم په: ۱/۵۳۳، ۴۸۷ شميره، او ابو داود په: ۸۷۲ شميره روايت کړی، او دا وړاندې تېر شوی دی ۳۵ شميره.

3 مسلم، 1/ 534، په:771 شميره او نورو روايت کړی.

4 ابو داود، ۱/۲۳۰، په: ۸۷۳ شميره، او نسائي په: ۱۱۳۱ شميره، او احمد په: ۲۳۹۸۰ شميره روايت کړی، او الباني په صحيح ابي داود کې ۱/۱۶۶ صحيح کړی، او وړاندی يې تخريج تېر شو په: ۳۷ شميره.

ژباړه: "ای الله زما ټول ګناهونه و بښې؛ واړه او غټ، لومړني او وروستني ښکاره او پټ.[1]

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ، وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ، لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ، أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ».

ژباړه: (یا الله زه پناه غواړم ستا په رضا سره ستا له غصې نه، او ستا په عفوې (ببښنې) سره، ستا له سزا نه، او ستا څخه پر تا پناه غواړم، زه ستا پوره ستاینه نه شم کولی، لکه څنګه چې تا د خپل ځان ستاینه کړې ده).[2]

### *د دواړو سجدو ترمنځه د ناستې دعا*

«رَبِّ اغْفِرْ لِي، رَبِّ اغْفِرْ لِي».

ژباړه: (ای ربه! ماته ببښنه وکړه، ای ربه! ماته ببښنه وکړه).[3]

«اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، وَاهْدِنِي، وَاجْبُرْنِي، وَعَافِنِي، وَارْزُقْنِي، وَارْفَعْنِي».

ژباړه: (اې الله ما ته ببښنه وکړه، پر ما رحم وکړه، ما ته هدایت وکړه، ما ته عافیت راکړه، ماته روزي راکړه او زما درجې لوړې کړه).[4]

---

[1] مسلم، 1/ 230، په:483 شمیره.

[2] مسلم، 1/ 352، په: 486 شمیره روایت کړی.

[3] ابوداود، 231/1، په: 874 شمیره ، او ابن ماجه په: 897 شمیره. وګورئ: صحیح ابن ماجه، 148/1.

[4] له نسائي پرته اصحاب السنن روایت کړی: ابو داود، 231/1، په:850 شمیره، ترمذي، په: 284 او 285 شمیرو، او ابن ماجه، په: 898 شمیره. همدارنګه وګورئ: صحیح الترمذي، 90/1، او صحیح ابن ماجه، 148/1.

### د تلاوت د سجدې دعا

«سَجَدَ وَجْهِيَ لِلَّذِي خَلَقَهُ، وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ بِحَوْلِهِ وَقُوَّتِهِ، فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الخَالِقِينَ»

ژباړه: «زما مخ هغه ذات ته سجده وکړه چې پيدا کړی يې دی، په خپل ځواک او قدرت سره يې غوږ او سترګه ورته جوړ کړي، الله ډير د برکت خاوند او تر ټولو غوره خالق دی».

[المؤمنون سورت : 14 آيت][1].

«اللَّهُمَّ اكْتُبْ لِي بِهَا عِنْدَكَ أَجْرًا، وَضَعْ عَنِّي بِهَا وِزْرًا، وَاجْعَلْهَا لِي عِنْدَكَ ذُخْرًا، وَتَقَبَّلْهَا مِنِّي كَمَا تَقَبَّلْتَهَا مِنْ عَبْدِكَ دَاوُدَ».

ژباړه: ای الله! زما لپاره د دې سجدې په بدل کې اجر وليکه، د دې سجدې په بدل کې زما ګناهونه معاف کړه، او دا زما لپاره خپل ځان سره ذخيره کړه، او زما دغه سجده هماغسې قبوله کړه، څرنګه چې تا د خپل بنده داود (عليه السلام) سجده قبوله کړې ده".[2]

## 22. تشهد

«التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ، وَالصَّلَوَاتُ، وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسولُهُ».

---

[1] ترمذي، 2/ 474، په: 3425 شميره، او أحمد، 6/ 30، په: 24022 شميره او حاکم روايت کړی او صحيح يې بللی، ذهبي ورسره موافقه کړې، 220/1 او زيادت د همده دی.

[2] ترمذي، 2/ 473، په: 579 شميره، او حاکم روايت کړی او ذهبي ورسره موافقه کړې ده، 219/1 .

ژباړه: «ټول ژبني، بدني، او مالي عبادتونه الله جل جلاله لره دي، سلام او د الله رحمتونه او برکتونه دې وي پر تا ای پیغمبره، سلام دې وي پر مونږ او د الله پر نېکو بنده ګانو، ګواهي ورکوم چې له الله تعالی پرته بل هېڅوک د عبادت وړ نشته او ګواهي ورکوم چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله بنده او رسول دی».[1] ٧۶

## ۲۳ - له تشهد څخه وروسته په رسول الله صلی الله علیه وسلم درود ویل

«اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ».

ژباړه: یاالله! پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پر کورنۍ رحمت واوروه، لکه پر ابراهیم علیه السلام او د هغه پر کورنۍ دې چې وروليٰ و، بېشکه ته ستایل شوی او لوي يې. یا الله! پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پر کورنۍ برکتونه واوروه، لکه پر ابراهیم - علیه السلام - او د هغه پر کورنۍ دې چې وروليٰ و، بېشکه ته ستایل شوی او لوي يې».[2]

---

1 بخاري د الفتح سره، 2/ 311، په: 831 شمیره، او مسلم، 1/ 301، په: 402 شمیره روایت کړی.

2 بخاري د الفتح سره، 6/ 408، په: 3370 شمیره، او مسلم، په: 406 شمیره روایت کړی.

«اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى أَزْواجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ».

اى الله، پر محمد - صلى الله عليه وسلم - او د هغه پر ميرمنو او اولادې رحمت نازل کړه لکه څنګه چې تا د ابراهيم پر کورنۍ رحمت ليږلی، او پر محمد - صلى الله عليه وسلم - او د هغه پر ميرمنو او اولادې برکتونه راوليږه لکه څنګه چې تا د ابراهيم پر کورنۍ برکت راليږلی دی، بېشکه ته ستايل شوی او لوي يې».[1]

### د وروستي تشهد پسې او له سلام اړولو مخکې دعا

«اللَّهُــمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ».

ژباړه: (اى الله زه پر تا پناه نيسم د جهنم له عذابه، د قبر له عذابه، د ژوند او مرګ له فتنې او د مسيح دجال له فتنې څخه)،[2]

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحيَا وَالْمَمَاتِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْمَأْثَمِ وَالْمَغْرَمِ».

ژباړه: (يا الله! زه پر تا د قبر له عذاب څخه پناه غواړم، او پناه غواړم په تا سره د مسيح دجال له فتنې څخه، او پناه غواړم

---

[1] بخاري د الفتح سره، 6/ 407، په: 3369 شميره، او مسلم، 1/ 306، په:407 شميره، او الفاظ د همده دي.

[2] بخاري، 2/ 102، په: 1377 شميره، او مسلم، 1/ 412، په: 588 شميره روايت کړی او الفاظ د مسلم دي.

په تا سره د ژوند او مرګ له فتنې څخه، یا الله! زه پناه نیسم
پر تا له هر هغه عمل نه چې زما د ګناهګاریدو او قرض دار
کېدو لامل ګرځي.[1]
«اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا، وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ،
فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِي، إِنَّكَ أَنْتَ الغَفُورُ الرَّحِيمُ».
ژباړه: ( یا الله! ما پر خپل ځان ډېر ظلم کړی او له تا پرته بل
څوک ګناهونه نه شي ببښلی، نو ماته له خپل لوري ببښنه وکړه،
او پر ما مهرباني وکړه، بېشکه یوازې ته ببښونکی او رحم
کوونکی یې).[2]
«اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ، وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ، وَمَا
أَعْلَنْتُ، وَمَا أَسْرَفْتُ، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، أَنْتَ المُقَدِّمُ، وَأَنْتَ
المُؤَخِّرُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ».
ژباړه: یا الله ما ته زما هغه ګناهونه وببښې چې ما مخکې کړې
او هغه چې ما وروسته کړي، هغه چې ما په ښکاره کړي او
هغه چې زه پکې له حد نه اوړېدلی یم، او هغه چې ته پرې له
ما څخه ښه خبر یې، ته مخکې کوونکی (د خیر د کارونو
توفیق ورکوونکی) او (د خیر له کارونو وروسته کوونکی
یې چا لره چې وغواړې) او ستا پرته د بندګۍ بل حق معبود
نشته.[3]
«اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى ذِكْرِكَ، وَشُكْرِكَ، وَحُسْنِ عِبادَتِكَ».

---

[1] بخاري، 1/ 202، په: 832 شمیره، او مسلم، 1/ 412، په: 587 شمیره
روایت کړی.
[2] بخاري، 8/ 168، په: 834 شمیره، او مسلم، 4/ 2078، په: 2705
شمیره روایت کړی.
[3] مسلم، 1/ 534، په: 771 شمیره روایت کړی.

ژباړه:"اى الله، ما سره ستا په ذكر، شكر او ښايسته عبادت كولو كې مرسته وكړه!".[1]

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ أُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْقَبْرِ».

ژباړه: (يا الله! زه تا ته له بخل څخه پناه درووړم، او تا ته له بزدلۍ څخه پناه درووړم، او پر تا پناه نيسم له دې چې بدتر بوډاوالي (زوړوالي) ته ورسيږم، او د دنيا له فتنې او د قبر له عذاب څخه تا ته پناه درووړم).[2]

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ».

ژباړه: اى الله زه در څخه د جنت سوال كوم او له اور څخه درپورې پناه نيسم.[3]

«اللَّهُمَّ بِعِلْمِكَ الغَيْبَ وَقُدْرَتِكَ عَلَى الخَلقِ أَحْيِنِي مَا عَلِمْتَ الحَيَاةَ خَيْرًا لِي، وَتَوَفَّنِي إِذَا عَلِمْتَ الْوَفَاةَ خَيْرًا لِي، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَشْيَتَكَ فِي الغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، وَأَسْأَلُكَ كَلِمَةَ الحَقِّ فِي الرِّضَا وَالغَضَبِ، وَأَسْأَلُكَ القَصْدَ فِي الغِنَى وَالفَقْرِ، وَأَسْأَلُكَ نَعِيمًا لَا يَنْفَدُ، وَأَسْأَلُكَ قُرَّةَ عَيْنٍ لَا تَنْقَطِعُ، وَأَسْأَلُكَ الرِّضَا بَعْدَ القَضَاءِ، وَأَسْأَلُكَ بَرْدَ العَيْشِ بَعْدَ المَوْتِ، وَأَسْأَلُكَ لَذَّةَ النَّظَرِ إِلَى وَجْهِكَ، وَالشَّوْقَ إِلَى لِقَائِكَ فِي غَيرِ ضَرَّاءَ مُضِرَّةٍ، وَلَا فِتْنَةٍ مُضِلَّةٍ، اللَّهُمَّ زَيِّنَا بِزِينَةِ الإِيمَانِ، وَاجْعَلْنَا هُدَاةً مُهْتَدِينَ».

---

1 أبو داود، 2/ 86، په: 1522شميره، او نسائي، 3/ 53، په: 2302 شميره روايت كړى او الباني په صحيح أبي داود، 1/284 كې صحيح كړى دى.

2 بخاري د الفتح سره، 35/6، په: 2822 او 6390 شمېرو روايت كړى.

3 أبو داود، په: 792 شميره ، او ابن ماجه، په: 910 شميره روايت كړى او وګورئ: صحيح ابن ماجه، 328/2 .

ژباړه: (یا الله، ستا د غیبو په علم او پر مخلوق ستا له ځواکمنۍ، ما ژوندی وساته تر هغه چې ته پوهیږې چې ژوند زما لپاره غوره دی او ما وفات کړه؛ کله چې ته پوهیږې چې مرګ زما لپاره غوره دی، ای الله زه له تا څخه په غیب او حضور کې د ویرې درلودلو سوال کوم او زه له تا څخه د خوښۍ او غصې پر مهال د حق وینا کولو توفیق غواړم، او تا ته د شتمنۍ او فقر پر مهال د رجوع کولو سوال کوم، او له تا څخه د نعمتونو د نه ختمېدلو غوښتنه کوم، او ستا څخه د سترګو د یخوالي نه پرې کېدو سوال کوم، او ستا څخه له پرېکړې وروسته د خوښۍ سوال کوم، او ستا څخه د مرګ نه وروسته د خوشحاله او هوسا ژوند غوښتنه کوم، او ستا عزتمند مخ ته د کتلو د خوند اخیستلو او ستا سره د ملاقات غوښتنه کوم، پرته له زیان رسوونکي کړاوونو او نه هم ګمراه کوونکې فتنې څخه، ای الله مونږ ته په ایمان سره ښکلا راکړه، او موږ هدایت کوونکي او له هدایت موندونکي وګرځوه).[1]

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ يَا أَللَّهُ بِأَنَّكَ الوَاحِدُ الأَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ، وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ، أَنْ تَغْفِرَ لِي ذُنُوبِي إِنَّكَ أَنْتَ الغَفُورُ الرَّحِيمُ».

ژباړه: (ای الله! زه ستا څخه سوال کوم، ځکه بېشکه ته یوازې (واحد) او بې نیازه یې، هغه ذات یې چې نه ترې څوک

---

[1] نسائي، 3/ 54، 55، په: 1304شمیره، او أحمد، 4/ 364 په: 21666 شمیره روایت کړی او الباني په: صحیح النسائي کې 281/1 صحیح کړې دی.

پیدا شوی او نه له چا څخه پیداشوی، او هیڅ د ده بیلګه او سیال نه شته، نو ماته زما د ګناهونو ببننه وکړه، بېشکه ته ببنونکی مهربان ذات یې).[1]

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنَّ لَكَ الحَمْدَ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ وَحْدَكَ لَا شَرِيكَ لَكَ، المَنَّانُ، يَا بَدِيعَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ يَا ذَا الجَلَالِ وَالإِكْرَامِ، يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ إِنِّي أَسْأَلُكَ الجَنَّةَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ».

ژباړه: (ای الله زه له تا څخه سوال کوم، ځکه ستاینه خاص تا لره ده، له تا پرته بل حق معبود نشته [ته یوازې یې شریک نه لرې] احسان کوونکی یې، ای د اسمانونو او ځمکې پیدا کوونکې او نوښتګر ذاته، ای د عظمت او عزت خاونده، ای ژوندی او سمبالوونکې ذاته، زه له تا څخه د جنت سوال کوم او له جهنم څخه تا ته پناه دروړم).[2]

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنِّي أَشْهَدُ أَنَّكَ أَنْتَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ الأَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ».

ژباړه: (ای الله! زه له تا څخه سوال کوم، ځکه زه ګواهي ورکوم چې ته الله یې، له تا پرته په حق بل معبود نشته، بېشکه ته یو او بې نیازه یې، هغه ذات یې چې نه ترې څوک پیدا

---

1 نسائي، 3/ 52، په: 1300 شمیره په خپلو الفاظو روایت کړی، او أحمد، 4/ 338، په: 18974شمیره، او الباني په صحیح النسائي کې 280/1 صحیح کړی دی.

2 أهل السنن روایت کړی: أبو داود، په 1495، ترمذي، په: 3544، ابن ماجه په: 3858 او نسائي په: 1299 شمیره روایت کړی او وګوره: صحیح ابن ماجه، 329/2.

شوي او نه دی له چا پیدا شوی او هیڅ د ده ېیلګه او سیال نه شته).[1]

## د لمانځه له سلام ګرځولو څخه وروسته اذکار

«أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ
له الله څخه ببننه غواړم
(درې ځلې)

اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ، وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ يَا ذَا الجَلَالِ وَالإِكْرَامِ».

«ای الله، ته سلام يې، او ستا له طرفه سلامتيا ده، ته د بركت والا يې، ای د عظمت او عزت خاونده».[2]

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ المُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ

ژباړه: "له الله پرته بل معبود نشته هغه یو دی شریک نه لري، د هغه لپاره پاچاهي ده او د هغه لپاره ستاینه ده، او هغه په هر څه قادر دی".
[درې ځلې]،

اللَّهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الجَدِّ مِنْكَ الجَدُّ».

---

[1] أبو داود، 2/ 62، په:1493، ترمذي، 5/ 515، په: 3475، ابن ماجه، 2/ 1267، په: 3857، نسائي په: 1300 شميره په خپلو الفاظو روايت کړی او أحمد په: 18974 شميره روايت کړی او ألباني په: صحيح النسائي، 280/1 کې روايت کړی او وګوره: صحيح ابن ماجه، 2/ 329، او صحيح الترمذي، 3/ 163 .

[2] مسلم، 1/ 414، په: 591 شميره روايت کړی.

ژباړه: ای الله! هر څه چې ورکوې څوک یی مخه نشي نیولی، او هر څه چې له چا څخه منع کړې څوک یی نشي ورکولی، د شرافت او مرتبې خاوند ته ستا له عذاب څخه د هغه شرافت او مرتبه هېڅ ګټه نه شي رسولای".[1]

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ المُلْكُ، وَلَهُ الحَمدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَلَا نَعْبُدُ إِلَّا إِيَّاهُ لَهُ النِّعْمَةُ وَلَهُ الفَضْلُ وَلَهُ الثَّنَاءُ الحَسَنُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الكَافِرُونَ».

ژباړه: "له الله پرته بل معبود نشته، یوازې او بې شریکه دی، پاچایي د هغه ده او ستاینه همغه لره ده، او هغه په هر څه قادر دی، نشته له بدی څخه ګرځېدل او په نیکی توفیق ورکول مګر د الله په مرسته، له الله پرته بل معبود نشته، او موږ د بل چا عبادت نه کوو مګر د لوی الله، الله لره لورینه او غوره والی او نېکه ستاینه ده، نشته بل حق معبود پرته د لوی الله څخه، هغه ته په دین کې مخلص یو، که څه هم کافران یې بد ګڼې.[2]

«سُبْحَانَ اللَّهِ، وَالحَمْدُ لِلَّهِ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ

ژباړه: پاکي وایم د الله تعالی، او ستاینه کوم د الله تعالی، او الله تعالی لوی دی.

(درې دیرش ځلې)،

لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ المُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ».

---

[1] بخاري، 1/ 255، په: 844، او مسلم، 1/ 414، په: 593 شمیره روایت کړی، او د دوو قوسونو تر منځه زیاتوالی د بخاري دی،6473 شمیره.

[2] مسلم، 1/ 415 په: 594 شمیره روایت کړی.

ژباړه: "له الله پرته بل معبود نشته هغه یو دی شریک نه لري، د هغه لپاره پاچاهي ده او د هغه لپاره ستاینه ده، او هغه په هر څه قادر دی".[1]

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ1 ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ2 لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ3 وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ4﴾

ووايه هغه الله يو دی.

الله بې نيازه دی.

نه يې (څوک) زېږولي او نه دی (له چا) زېږول شوی دی.

او د ده هېڅوک سيال (او) برابر نشته.

[الإخلاص: 1-4].

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ1 مِن شَرِّ مَا خَلَقَ2 وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ3 وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ4 وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ5﴾

ووايه د سباوون پر رب پناه غواړم.

د هر هغه شي له شر نه چې ده پيدا کړی دی

او د تيارې شپې له شر نه کله چې تکه توره (او خوره) شي

او په غوټو کې د پو کوونکو له شره.

---

[1] مسلم، 1/ 418، په: 597 روايت کړی، او پکې راځي: «مَنْ قَالَ ذَلِكَ دُبُرَ كُلِّ صَلاةٍ غُفِرَتْ خَطَايَاهُ، وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ البَحْرِ». چا چې دا ذکر د هر لمانځه پسې ووايه، نو ګناهونه به يې وبښل شي، که څه هم د درياب د زګ په څېر (زيات) وي.

او د حسد کوونکي له شر نه کله چې دی حسد (شروع او ښکاره) کړي.

[سورة الفلق: 1 - 5].

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ1 مَلِكِ ٱلنَّاسِ2 إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ3 مِن شَرِّ ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ4 ٱلَّذِي يُوَسۡوِسُ فِي صُدُورِ ٱلنَّاسِ5 مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ6﴾

ووايه د (ټولو) خلکو پر پالونکي پناه غواړم.

چې د خلکو پاچا دی.

په حقه د عبادت لايق دی.

د بيا بيا تلونکي راتلونکي وسوسه اچوونکي له شره.

هغه چې د خلکو په زړونو کې وسوسې اچوي.

هم له پيريانو او هم له انسانانو.

[الناس: 1-6].

د هر لمانځه پسې[1].

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ255﴾

---

[1] أبو داود، 2/ 86، په: 1523 شميره، ترمذي په: 2903 شميره او نسائي، 3/ 68، په: 1335شميره روايت کړی، او وګوره: صحيح الترمذي، 2/ 8.
او دې دريو سورتونو ته: المعوذات ويل کيږی. وګوره: فتح الباري، 9/ 62.

الله هماغه دی چې له ده پرته بل معبود نشته تل ترتله ژوندی سمبالوونکی دی، نه پرکالي پرې راځي او نه خوب، څه چې په اسمانو کې دي او څه چې په ځمکه کې دي (ټول) د هغه دي، دا به څوك وي چې د هغه له خوښې پرته د چا سپارښتنه ورته وکړي؟ په هر هغه څه پوهیږي چې د دوی مخې یا یې شاته دي، او دوی د هغه له معلوماتو هېڅ شی نه شي راګیرولای مګر هغه چې د ده خوښه وي، کرسی یې پر اسمانو او ځمکې پراخه ده، او د دې دواړو (ځمکی او اسمان) ساتنه یې نه ستومانه کوي او هغه لوی اوچت ذات دی.

[البقرة سورت : ایت 255] د هر لمانځه پسې.[1]

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ»

ژباړه: "له الله پرته (پر حقه) بل معبود نشته هغه یو دی شریک نه لري، د هغه لپاره پاچاهي ده او د هغه لپاره ستاینه ده، ژوندي کول او مړه کول کوي، او هغه پر هر څه قادر دی"

د ماښام او سهار د لمونځونو پسې لس ځلې.[2]

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْمًا نافِعًا، وَرِزْقًا طَيِّبًا، وَعَمَلًا مُتَقَبَّلًا»

---

1 «چا چې د هر لمانځه پسې ولوسته، نو له مرګ پرته به یې بل هېڅ شی جنت ته د ننوتلو مانع ونه ګرځي». نسائي په عمل اليوم والليلة کې په (100) شمیره، او ابن السني په (121) شمیره روایت کړی، او ألباني په صحیح الجامع (339/5)، او سلسلة الأحاديث الصحيحة (697/2) کې په (972) شمیره صحیح ګڼلې دی.

2 ترمذي، 5/ 515 په: 3474 شمیره، او أحمد، 4/ 227، په: 17990 شمیره روایت کړی، او تخریج یې په: زاد المعاد 300/1 کې وګوره.

ژباړه: (ای الله زه له تا څخه د ګټور علم، پاکیزه روزۍ، او قبول شوي عمل سوال کوم).

بَعْدَ السَّلامِ مِنْ صَلَاةِ الفَجْرِ.

د سهار لمانځه له سلام څخه وروسته[1].

### د استخارې د لمانځه دعا

جابر بن عبدالله رضي الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به موږ ته په ټولو چارو کې استخاره داسې رازده کوله، لکه څنګه چې به يې موږ ته د قرآن کريم يو سورت رازده کاوه، ویل به يې:

«إِذَا هَمَّ أَحَدُكُمْ بِالأَمْرِ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ مِنْ غَيْرِ الفَرِيضَةِ، ثُمَّ لْيَقُلْ:

«کله چې په تاسو کې څوک د يو کار کول وغواړي نو له فرضو پرته (يعنې نفل) دې دوه رکعته لمونځ وکړي او بيا دې ووايي:

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ، وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ العَظِيمِ؛ فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا أَقْدِرُ، وَتَعْلَمُ وَلَا أَعْلَمُ، وَأَنْتَ عَلَّامُ الغُيُوبِ، اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ - وَيُسَمِّي حَاجَتَهُ - خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي – أَوْ قَالَ: عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ - فَاقْدُرْهُ لِي وَيَسِّرْهُ لِي ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ، وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي – أَوْ قَالَ: عَاجِلِهِ

---

[1] ابن ماجه، په: 925 شمیره، او نسائي په: عمل اليوم والليلة کې په: 102 شمیره روایت کړی، او وګوره: صحيح ابن ماجه، 152/1، او مجمع الزوائد 111/10، او په: 95 شمیره کې راځي.

وَآجِلِهِ - فَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاصْرِفْنِي عَنْهُ وَاقْدُرْ لِيَ الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ، ثُمَّ أَرْضِنِي بِهِ».

ژباړه:" ای الله! زه له تانه مشوره او د خېر غوښتنه کوم، ستا په کامل علم او لوی قدرت سره ستا د پرېکړې غوښتنه کوم، او تا څخه ستا د لوی فضل غوښتنه کوم، بې له شکه چې ته په هر څه ځواکمن یې او زما هېڅ په وس کې نشته، او ته په هر څه ښه پوهېږې زه نه پوهېږم، او ته په پټو ډېر ښه خبردار یې، ای الله! که ستا په علم کې داسې وي چې دا کار (د خپل حاجت نوم به اخلي) زما لپاره زما په دین، ژوند او د پایلې له اړخه ګټور دی، -او یا یې داسې وویل: چې په نږدې او لرې کې- نو راته یې غوره کړه، آسان یې کړه راته، بیا راته پکې برکت واچوه، او که ستا په علم کې داسې وي چې دا کار زما لپاره زما په دین، ژوند او د پایلې له اړخه بد دی، -او یا یې داسې وویل: چې په نږدې او لرې کې- نو له ما یې چپ کړې، او ما ترې هم چپ کړې، او په کوم کار کې چې زما لپاره خېر وي، هر چېرې چې وي ما پرې ښاد او خوښ کړې."[1]

هغه څوک چې له خالق څخه لارښوونه غواړي، له مومنانو سره مشوره کوي، او په خپل کار ډاډه وي، هیڅکله به پښیمانه نه شي. الله تعالی فرمايلي:

﴿...وَشَاوِرۡهُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِۖ فَإِذَا عَزَمۡتَ فَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِ...﴾.

ژباړه: (...او په کارو کې مشوره ورسره کوه بیا چې پر څه دې اراده ټینګه شوه نو په الله توکل وکړه...).[2]

---

1 بخاري، 7/ 162 په: 1162 شمېره روایت کړی.

2 آل عمران سورت: 159 آیت .

ستاینه یوازې الله لره ده، درود او سلام دي وي پر هغه چا چې وروسته ترې بل نبي نشته..[1]

ژباړه: زه له رټل شوي شیطان نه په الله تعالی پورې پناه نیسم.

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ255﴾

الله هماغه دی چې له ده پرته بل معبود نشته تل ترتله ژوندی سمبالوونکی دی، نه پرکالي پرې راځي او نه خوب، څه چې په اسمانو کې دي او څه چې په ځمکه کې دي (ټول) د هغه دي، دا به څوک وي چې د هغه له خوښې پرته د چا سپارښتنه ورته وکړي؟ په هر هغه څه پوهیږي چې د دوی مخې یا یې شاته دي، او دوی د هغه له معلوماتو هېڅ شی نه شي راګیرولای مګر هغه چې د ده خوښه وي، کرسی یې پر

---

1 له انس څخه مرفوع روایت دی " دا چې له هغو خلکو سره کېنم چې د سهار له لمانځه څخه تر لمر راختو پورې د الله تعالی ذکر کوي، ماته له دې ډیر خوښ دی چې د اسماعیل علیه السلام له اولادې څخه یې څلور (مریان) آزاد کړم، او زما لپاره د هغو خلکو سره کښیناستل چې د مازدیګر له لمانځه څخه تر لمر لوېدو پورې د الله تعالی ذکر کوي، له دې ډیر خوښ دي چې څلور (مریان) آزاد کړم" ابو داود په: 3667 شمیره روایت کړی، او الباني په صحیح ابو داود، 698/2 کې تایید کړی دی.

اسمانو او ځمکې پراخه ده، او د دې دواړو (ځمکې او اسمان) ساتنه يې نه ستومانه کوي او هغه لوی اوچت ذات دی.

[البقرة سورت: ايت 255][1].

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ1 ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ2 لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ3 وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ4﴾

ووايه هغه الله يو دی.

الله بې نيازه دی.

نه يې (څوک) زيږولی او نه دی (له چا) زيږېدلی دی.

او نه د ده هېڅوک سيال (او) برابر شته.

[الإخلاص: 1-4].

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ1 مِن شَرِّ مَا خَلَقَ2 وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ3 وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ4 وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ5﴾

ووايه د سباوون پر رب پناه غواړم.

د هر هغه شي له شر نه چې ده پيدا کړی دی

او د تيارې شپې له شر نه کله چې تکه توره (او خوره) شي.

او په غوټو کې د پو کوونکو له شره.

[1] چا چې سهار مهال وويله نو تر بېګا به له پيريانو په امن کې شي، او چا چې بيګا مهال وويله تر سهاره به ترې په امن کې شي. حاکم روايت کړی دی، 562/1، او الباني په: صحيح الترغيب والترهيب کې 273/1 روايت کړی او نسائي او طبراني ته يې منسوب کړی، او ويلی يې دي چې: د طبراني اسناد جيد (ښه) دی.

او د حسد کوونکي له شر نه کله چې دی حسد (شروع او ښکاره) کړي

[الفلق: 1-5].

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ1 مَلِكِ ٱلنَّاسِ2 إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ3 مِن شَرِّ ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ4 ٱلَّذِي يُوَسۡوِسُ فِي صُدُورِ ٱلنَّاسِ5 مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ6﴾

ووايه د (ټولو) خلکو پر پالونکي پناه غواړم.

چې د خلکو پاچا دی.

په حقه د عبادت لایق دی.

د بیا بیا تلونکي راتلونکي وسوسه اچوونکي له شره.

هغه چې د خلکو په زړونو کې وسوسې اچوي.

هم له پیریانو او هم له انسانانو.

[الناس: 1-6] (درې ځلې)[1].

«أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، رَبِّ أَسْأَلُكَ خَيْرَ مَا فِي هَذَا الْيَوْمِ وَخَيرَ مَا بَعْدَهُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِي هَذَا الْيَوْمِ وَشَرِّ مَا بَعْدَهُ، رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَسُوءِ الْكِبَرِ، رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابٍ فِي النَّارِ وَعَذَابٍ فِي الْقَبْرِ».

ژباړه: مونږ سهار کړ، او پادشاهي ټوله خاص الله تعالی لره ده او پوره ستاینه خاص الله تعالی لره ده پرته له هغه نه بل د

---

[1] چا چې سهار او ماښام درې ځله وویل، دا به ورته له هر څه بسنه وکړي. ابو داود، 4/322، په: 5082 شمیره، او ترمذي، 5/567، په: 3575 شمیره روایت کړی. او وګوره: صحیح الترمذي، 3/182.

عبادت مستحق نشته، هغه یو دی شریک نه لري، خاص هغه لره بادشاهي ده او خاص هغه لره ټولې ستاینې دي او هغه په هر شي قدرت لرونکی ذات دی، ای زما ربه! تا نه د هغه خېر سوال کوم چې په دې ورځ کې دی او کوم چې د دې نه وروسته دی، او په تا سره پناه نېسم له هغه شر نه چې په دې ورځ کې دی او له هغه شر نه چې له دې ورځې وروسته دی، ای ربه! پناه غواړم په تا سره د لټۍ (سستۍ)، بوډاوالي (زوړوالي)، او پناه غواړم په تا سره د دوزخ او د قبر له عذاب څخه.[1]

او کله چې بېګا کړي نو وايي:

«أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْكُ لِلَّهِ، وَالحَمْدُ لِلَّهِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، رَبِّ أَسْأَلُكَ خَيْرَ مَا فِي هَذِهِ اللَّيْلَةِ، وَخَيْرَ مَا بَعْدَهَا، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِي هَذِهِ اللَّيْلَةِ، وَشَرِّ مَا بَعْدَهَا، رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنَ الكَسَلِ وَسُوءِ الكِبَرِ، رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابٍ فِي النَّارِ وَعَذَابٍ فِي القَبْرِ» [104].

ژباړه: مونږ بېګا کړ، او پادشاهي ټوله خاص الله تعالی لره ده او پوره ستاېنه خاص الله تعالی لره ده پرته له هغه نه بل د عبادت مستحق نشته، هغه یو دی شریک نه لري، خاص هغه لره بادشاهي ده او خاص هغه لره ټولې ستاینې دي او هغه په هر شي قدرت لرونکی ذات دی، ای زما ربه! تا نه د هغه خېر سوال کوم چې په دې شپه کې دی او کوم چې د دې نه وروسته دی، او په تا سره پناه نېسم له هغه شر نه چې په دې شپه کې

---

[1] مسلم، 4/ 2088، په:2723 شمیره روایت کړی.

دی او له هغه شر نه چي له دې شپې وروسته دی، ای ربه! پناه غواړم په تا سره د لټی (سستی)، بوډاوالي (زوړوالي)، او پناه غواړم په تا سره د دوزخ او د قبر له عذاب څخه.[1]

«اللَّهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا، وَبِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ النُّشُورُ».

ژباړه: (یا الله ! مونږ - ستا پر نعمتونو او ساتنه کې - سهار کړ، او مونږ- ستا پر نعمتونو او ساتنه کې - مو بیګا کړ . او - په هر حالت؛ ژوند او مرګ دواړو کې په تا پناه نیسو، او له مرګ نه وروسته ستا لوري ته بېرته پورته کېدل دي).[2]

او کله چې بیګا کړي نو وايي:

«اللَّهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ أَصْبَحْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ» [106].

ژباړه: (یا الله ! مونږ - ستا پر نعمتونو او ساتنه کې - بیګا کړ، او مونږ- ستا پر نعمتونو او ساتنه کې - مو سهار کړ . او - په هر حالت؛ ژوند او مرګ دواړو کې په تا پناه نیسو، او له مرګ نه وروسته ستا لوري ته بېرته درګرځېدل دي).[3]

«اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوءُ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ».

---

1 مخکینی ماخذ.

2 ترمذي، 5/ 466، په: 3391 شمېره روایت کړی، او وګوره: صحیح الترمذي 142/3.

3 مخکینی مرجع.

ژباړه: (ای الله! ته زما رب یې، له تا پرته بل معبود نشته، تا زه پیدا کړی یم او زه ستا بنده یم او زه ستا په هوکړې او وعدې تر هغه حده پابند یم چې زه یې توان لرم، زه پر تا له هر هغه څه څخه پناه غواړم چې ما کړي دي، پر ما ستا د احسان اعتراف کوم او په خپله ګناه اقرار کوم، نو ما ته ببښنه وکړه، ځکه چې؛ له تا پرته بل څوک ګناهونه نه ببښي).[21]

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَصْبَحْتُ أُشْهِدُكَ، وَأُشْهِدُ حَمَلَةَ عَرْشِكَ، وَمَلَائِكَتِكَ، وَجَمِيعَ خَلْقِكَ، أَنَّكَ أَنْتَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ وَحْدَكَ لَا شَرِيكَ لَكَ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُكَ وَرَسُولُكَ»

ژباړه: (یا الله! ما سبا کړ، زه - په دې خبره - تا ګواه کرځوم او ستا د عرش پورته کوونکي، او نورې تولې پرښتې او ستا تول مخلوقات ګواه ګرځوم چې ببشکه همدا ته الله یې؛ نشته دی بل معبود په حقه مګر همدا ته یې، ته یو یې او هیڅ شریک نلرې، او په دې چې محمد - صلی الله علیه وسلم - ستا بنده او ستا رسول دی).

څلور ځلې[3].

---

1 (څوک چې دا په یقین سره د ویده کېدو پر مهال ووایي او په هغه شپه مړ شي، جنت ته به ننوځي، او همدارنګه کله چې سبا کړي)، بخاري 150/7 په: 6306 شمیره روایت کړی.

2 اقرار او اعتراف کوم.

3 څوک چې دا (ذِکر) سهار یا ماښام څلور ځلې ووایي، الله جل جلاله به یې له اور څخه خلاص کړي. دا حدیث ابو داود، 317/4، په: 5071 شمیره، او بخاري په الادب المفرد کې په: 1201 شمیره، او نسائي په عمل الیوم واللیلة کې په: 9 شمیره، او ابن السني، په: 70 شمیره روایت کړی، شیخ ابن باز -الله تعالی دې پر رحم وکړي- د تحفة الاخبار په 23 مخ کې د نسائي او ابو داود د روایت سند ستایلی دی.

او کله چې بېګا کړي نو وايي:

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَمْسَيْتُ أُشْهِدُكَ، وَأُشْهِدُ حَمَلَةَ عَرْشِكَ، وَمَلَائِكَتِكَ، وَجَمِيعَ خَلْقِكَ، أَنَّكَ أَنْتَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ وَحْدَكَ لَا شَرِيكَ لَكَ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُكَ وَرَسُولُكَ»

ژباړه: (یا الله! ما ماښام کړ، زه - پدې خبره- تا ګواه ګرځوم او ستا د عرش پورته کوونکي، او نورې ټولې پرښتې او ستا ټول مخلوقات ګواه ګرځوم چې بېشکه همدا ته الله يې؛ نشته دی بل معبود په حقه مګر همدا ته يې، ته يوازې يې او شريک نه لرې، او پدې چې محمد - صلی الله عليه وسلم- ستا بنده او ستا رسول دی).

څلور ځلې[1].

«اللَّهُمَّ مَا أَصْبَحَ بِي مِنْ نِعْمَةٍ أَوْ بِأَحَدٍ مِنْ خَلْقِكَ فَمِنْكَ وَحْدَكَ لَا شَرِيكَ لَكَ، فَلَكَ الحَمْدُ وَلَكَ الشُّكْرُ».

ژباړه: (یا الله! ما؛ او ستا هېڅ مخلوق له يو نعمت سره نه دی سبا کړی مګر دا چې يوازې ستا لخوا دی، ته شريک نه لرې، نو تا لره ستاينه او شکر دی).[2]

او کله چې بېګا کړي نو وايي:

---

[1] مخکينی ماخذ.

[2] چا چې دا اذکار سهار مهال وويل، هغه د ورځې لپاره خپل شکر ادا کړ، او چا چې ماښام مهال وويل، هغه د شپې لپاره خپل شکر ادا کړ. دا روايت ابو داود، 318/4، په: 5075 شميره، او نسائي په عمل اليوم والليلة کې په: 7 شميره، او ابن السني په 41 شميره، او ابن حبان، په ((موارد)) کې په: 2361 شميره روايت کړی، او ابن باز - رحمه الله - د تحفة الاخيار په: 24 مخ کې د دې سند تاييد کړی دی.

«اللَّهُمَّ مَا أَمْسَى بِي مِنْ نِعْمَةٍ أَوْ بِأَحَدٍ مِنْ خَلْقِكَ فَمِنْكَ وَحْدَكَ لَا شَرِيكَ لَكَ، فَلَكَ الحَمْدُ وَلَكَ الشُّكْرُ»[112].
ژباړه: (يا الله! ما؛ او ستا هېڅ مخلوق له يو نعمت سره نه دى مابښام كړى مگر دا چې يوازې ستا لخوا دى، ته شريک نه لرې، نو تا لره ستاينه او شكر دى).[1]
«اللَّهُمَّ عَافِنِي فِي بَدَنِي، اللَّهُمَّ عَافِنِي فِي سَمْعِي، اللَّهُمَّ عَافِنِي فِي بَصَرِي، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الكُفْرِ، وَالفَقْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ القَبْرِ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ»
ژباړه: «يا الله! ماته زما په بدن كې روغتيا راكړه، اى الله، ماته زما په غوږونو (اوريدو) كې روغتيا راكړه، اى الله، ماته زما په سترگو (ليد) كې روغتيا راكړه. له تا پرته بل معبود نشته. اى الله! زه له كفر او فقر څخه تا پورې پناه نيسم، او تا پورې د قبر له عذاب څخه پناه نيسم، له تا پرته بل حق معبود نشته»
درې ځلې[2].
«حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ عَلَيهِ تَوَكَّلتُ وَهُوَ رَبُّ العَرْشِ العَظِيمِ»
ژباړه: (ما ته الله كافي دى، نشته دى هېڅ لايق د عبادت مگر هغه دى، خاص په هغه ما توكل كړى دى او هم هغه د عظيم عرش څښتن دى).

1 مخكينى ماخذ.
2 ابوداود، 324/4 په: 5092 شميره، احمد، 42/5 په: 20430 شميره، نسائى په عمل اليوم والليلة كې په: 22 شميره، ابن السنى په: 69 شميره، بخاري په الادب المفرد كې په: 701 روايت كړى - او علامة ابن باز - رحمه الله- په تحفة الاخيار كې د هغې اسناد ستايلى دى ۲۶ مخ.

اووه ځلې[1].

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ العفْوَ وَالعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ العفْوَ وَالعَافِيَةَ: فِي دِينِي وَدُنْيَايَ وَأَهْلِي، وَمَالِي، اللَّهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِي، وَآمِنْ رَوْعَاتِي، اللَّهُمَّ احْفَظْنِي مِنْ بَينِ يَدَيَّ، وَمِنْ خَلْفِي، وَعَنْ يَمِينِي، وَعَنْ شِمَالِي، وَمِنْ فَوْقِي، وَأَعُوذُ بِعَظَمَتِكَ أَنْ أُغْتَالَ مِنْ تَحْتِي».

ژباړه: (یا الله زه له تا څخه په دنیا او اخرت کې د ښښنې او روغتیا سوال کوم، یا الله! زه له تا څخه زما په دین، دنیا، کورنۍ او مال کې د ښښنې او عافیت سوال کوم، یا الله! زما عورتونه (عیبونه) پټ کړه، وېره مې لرې کړه، ای الله ! د مخې لخوا، د شا لخوا، له ښي طرفه، له چپ طرفه او له پاسه مې ساتنه وکړې او زه ستا په لویې پناه نیسم چې له لاندې طرفه ترور شم)[2].

«اللَّهُمَّ عَالِمَ الغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ، رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيكَهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِي، وَمِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ وَشَرَكِهِ، وَأَنْ أَقْتَرِفَ عَلَى نَفْسِي سُوءًا، أَوْ أَجُرَّهُ إِلَى مُسْلِمٍ».

---

1 څوک چې دا ذکر سهار او ماښام اووه ځلې ووايي، الله تعالى به يې په دنيوي او اخروي چارو کې بسيا شي چې دی پکې فکر او سوچ کوي. دا حديث ابن السني په: ۷۱ شميره مرفوع روايت کړی، او ابو داود موقوف روايت کړی، ۴/۳۲۱ په:، ۵۰۸۱ شميره روايت کړی، د دې حديث سند د شعيب او عبدالقادر الارناؤوط لخوا صحيح بلل شوی، وګوره: زاد المعاد، ۲/۳۷۶.

2 أبو داود، په:5074 شميره، او ابن ماجه په: 3871 شميره روايت کړی او وګوره: صحيح ابن ماجه، 332/2.

ژباړه: (ای الله په پټو اوښکاره وو پوه ذاته، د آسمانونو او ځمکې پیدا کوونکیه! د هر شي څښتن او مالک ذاته! زه ګواهي ورکوم چې پر حقه بل معبود نشته مګر ته يې، زه پر تا د خپل نفس له شر څخه - چې په بدی امر کوونکی دی -پناه نیسم او پر تا د شیطان له شر او شرک څخه پناه نیسم- یعنې چې شر او شرک کولو ته مې وبلي- او پرتا پناه نیسم له دې څخه چې په خپله بدي وکړم او یا بل مسلمان ته د بدی رسولو سبب وګرځم).[1]

«بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيعُ العَلِيمُ»

ژباړه: (د هغه الله په نوم، چې ضرر نشي رسولی د هغه له نوم سره هیڅ یو شی نه پر ځمکه او نه په آسمان کې، او هغه اورېدونکی او پوه دی).

درې ځلې[2].

«رَضِيتُ بِاللَّهِ رَبًّا، وَبِالإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ ﷺ نَبِيًّا»

«راضي یم چې الله تعالی مې پالونکی (رب) دی، اسلام مې دين دی، او محمد صلی الله علیه وسلم مې پیغمبر دی.»

---

[1] ترمذي په: 3392 شمیره او أبو داود په: 5067 شمیره روایت کړی او وګوره: صحيح الترمذي، 142/3 .

[2] څوک چې دا ذکر درې ځلې سهار او درې ځلې بېګا مهال ووايي، هیڅ شی به هغه ته زيان ونه رسوي. دا حدیث ابو داود، 323/4، په: 5088 شمیره، ترمذي، 465/5، په: 3388 شمیره، ابن ماجه په: 3869 شمیره، او احمد په: 446 شمیره روایت کړی دی. وګوره: صحیح ابن ماجه، 332/2، او د دې سند د علامه ابن باز - رحمه الله - لخوا په تحفة الاخيار، 39 مخ کې حسن بلل شوی دی.

دري ځلي[1].

«يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ أَصْلِحْ لِي شَأْنِيَ كُلَّهُ وَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ».

ژباړه: "اى تل ژوندي (ذاته)! اى د چارو سمبالوونكي (ذاته)! ستا په رحمت سره مرسته غواړم، زما ټولې چارې را سمې كړه، او ما د سترګو د رپ په اندازه هم ځان ته مه پرېږده".[2]

«أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ المُلْكُ لِلَّهِ رَبِّ العَالَمِينَ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ هَذَا اليَوْمِ: فَتْحَهُ، وَنَصْرَهُ، وَنورَهُ، وَبَرَكَتَهُ، وَهُدَاهُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِيهِ وَشَرِّ مَا بَعْدَهُ».

ژباړه: موږ سبا كړه، او پادشاهي الله رب العالمين لره ده، اى الله! زه ستا څخه د دې ورځې د خېر سوال كوم، د دې ورځې د فتحې، ملاتړ، روښنايي، بركت او هدايت او تا پورې له هغه شر څخه پناه نيسم چې په دې ورځ كې دى او له دې ورځې وروسته دى.[3]

---

1 څوك چې دا ذكر درې ځلي سهار او درې ځلي بيګا مهال ووايي، نو د قيامت په ورځ د هغه راضي كول پر الله حق دى. احمد، 337/4، په: 18967شميره، او نسائي په عمل اليوم و الليلة كې په: 4 شميره، او ابن السني په: 68 شميره، او ابو داود، 318/4، په:1531 شميره او ترمذي، 465/5، په: 3389 شميره روايت كړى، او ابن باز - رحمه الله - په تحفة الاخيار، 39 مخ كې حسن بللى دى.

2 حاكم روايت كړى او صحيح كړى او ذهبي ورسره موافقت كړى دى، 545/1. وګوره: صحيح الترغيب و الترهيب، 273/1.

3 أبو داود، 4/ 322، په: 5084 شميره روايت كړى، او شعيب او عبد القادر الأرناؤوطيې د زاد المعاد په تحقيق كې اسناد حسن بللى دى، 373/2 .

او کله چې بيګا کړي نو وايي:

«أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى المُلْكُ لِلَّهِ رَبِّ العَالَمِينَ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ هَذِهِ اللَّيْلَةِ: فَتْحَهَا، وَنَصْرَهَا، وَنُورَهَا، وَبَرَكَتَهَا، وَهُدَاهَا، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِيهَا، وَشَرِّ مَا بَعْدَهَا».

ژباړه: موږ بیګا کړ، او پاچاهي الله رب العالمین لره ده، ای الله! زه ستا څخه د دې شپې د خیر سوال کوم؛ د دې د فتحې، ملاتړ، روښنايۍ، برکت او هدایت، او تا پورې له هغه شر څخه پناه نیسم چې په دې کې دی او له هغه شر څخه چې له دې شپې وروسته دی.[1]

«أَصْبَحْنا عَلَى فِطْرَةِ الإِسْلَامِ، وَعَلَى كَلِمَةِ الإِخْلَاصِ، وَعَلَى دِينِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ ﷺ، وَعَلَى مِلَّةِ أَبِينَا إِبْرَاهِيمَ، حَنِيفًا مُسْلِمًا وَمَا كَانَ مِنَ المُشْرِكِينَ».

ژباړه: «موږ له اسلامي فطرت، د اخلاص له کلمې، زموږ د نبي صلی الله علیه وسلم له دین، او زموږ د پلار ابراهیم علیه السلام له حنیفي ملت سره سبا کړ (یعنې له شرک څخه توحید ته مایل)؛ او حال دا چې هغه له مشرکانو څخه نه و.»[2].

او کله چې بيګا کړي نو وايي:

«أَمْسَيْنَا عَلَى فِطْرَةِ الإِسْلَامِ، وَعَلَى كَلِمَةِ الإِخْلَاصِ، وَعَلَى دِينِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ ﷺ، وَعَلَى مِلَّةِ أَبِينَا إِبْرَاهِيمَ، حَنِيفًا مُسْلِمًا وَمَا كَانَ مِنَ المُشْرِكِينَ».

---

1 مخکینی ماخذ.

2 أحمد په: 3/ 406، او 407 کې په: 15360 او : 15563 شمیرو روایت کړی، او ابن السني په: عمل الیوم واللیلة کې په: 34 شمیره روایت کړی او وګوره: صحیح الجامع، 4/209.

ژباړه: «موږ له اسلامي فطرت، د اخلاص له کلمې، زموږ د نبي صلی الله علیه وسلم له دین، او زموږ د پلار ابراهیم علیه السلام له حنیفي ملت سره بیګا کړ (یعنې له شرک څخه توحید ته مایل)؛ او حال دا چې هغه له مشرکانو څخه نه و.»[1].

«سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ»

ژباړه: "پاکي وایم د الله تعالی په ستاینې د هغه"

(سل ځلې)[2].

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ»

ژباړه: "له الله پرته بل معبود نشته هغه یو دی شریک نه لري، د هغه لپاره پاچاهي ده او د هغه لپاره ستاینه ده، او هغه په هر څه قادر دی."

لس ځلې[3]، او یا یو ځل د سستی په وخت کې[4].

---

1 مخکېنی مرجع.

2 څوک چې دا ذکر سهار او ماښام مهال سل ځلې ووايي، نو د قیامت په ورځ به هېڅوک له ده څخه د غوره عمل سره نه راځي لکه دی چې ورسره راغلی، البته پرته له هغه چا چې ده ته ورته او یا یې له ده زیات عمل کړی وي. مسلم، 2071/4، په: 2692 شمیره روایت کړی.

3 نسائي په: عمل الیوم واللیلة کې په: 24 شمیره روایت کړی او وګوره: صحیح الترغیب والترهیب، 272/1، او تحفة الأخیار د ابن باز -رحمه الله- ، 44 مخ، او فضیلت یې په: 146 مخ، او 255 شمیره حدیث کې وګورئ.

4 أبو داود، په:5077 شمیره، ابن ماجه په: 3798 شمیره، او احمد په: 8719 شمیره روایت کړی او وګوره: صحیح الترغیب والترهیب، 270/1 او صحیح أبي داود، 957/3، او صحیح ابن ماجه، 331/2، او زاد المعاد، 377/2.

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ المُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ»
ژباړه: "له الله پرته بل معبود نشته هغه يو دی شريک نه لري، د هغه لپاره پاچاهي ده او د هغه لپاره ستاينه ده، او هغه په هر څه قادر دی"
(سل ځلې) کله چې سبا شي[1].
«سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ: عَدَدَ خَلْقِهِ، وَرِضَا نَفْسِهِ، وَزِنَةَ عَرْشِهِ، وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ»
ژباړه: «د الله پاکي -بيانوم- د هغه د مخلوقاتو د شمېر په اندازه، د الله پاکي -بيانوم- تر هغه چې هغه پرې راضي شي، د الله پاکي -بيانوم- د هغه د عرش د درونوالي په اندازه، د الله پاکي -بيانوم- د هغه سياهۍ (رنګ) په اندازه چې د هغه کلمې پرې ليکل کيږي»."
درې ځلې کله چې سهار شي[2].
«اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا، وَرِزْقًا طَيِّبًا، وَعَمَلًا مُتَقَبَّلًا»
ژباړه: (ای الله زه له تا څخه د ګټور علم، پاکيزه روزی، او قبول شوي عمل سوال کوم).

1 " «څوک چې دا ذکر په ورځ کې سل ځلې ووايي، د لسو غلامانو د آزادولو ثواب ورته لري، او سل نيکۍ به ورته وليکل شي، سل بدۍ به ترې پاکې شي، او په هغه ورځ به تر بېګا پورې له شيطان څخه په امن کې وي. هېڅوک به د هغه څه څخه له غوره عمل سره نه راځي لکه دی چې ورسره راغلی دی، مګر هغه څوک چې له ده يې عمل ډير وي.» بخاري، 4/95، په: 3293، او مسلم په: 4/2071، کې په: 2691 شميره روايت کړی."
2 مسلم په: 4/ 2090 کې په: 2726 شميره روايت کړی دی.

کله چې سبا کېږي[1].

«أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ»

ژباړه: له الله تعالی څخه بښنه غواړم او هغه ته توبه وباسم.

په ورځ کې سل ځلې[2].

«أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ»

ژباړه: «د الله په بشپړو کلمو سره پناه نیسم د هر هغه شي له شر څخه چې هغه پیدا کړي»

درې ځلې کله چې ماښام شي[3].

«اللَّهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ عَلَى نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ»

ژباړه: «ای الله! زموږ پر نبي محمد صلی الله علیه وسلم رحمت او سلام ووروه»"

لس ځلې[4].

---

1 ابن السني په: عمل اليوم والليلة کې په: 54 شمیره، او ابن ماجه په: 925 شمیره روایت کړی، او عبد القادر او شعیب الأرناؤوط یې د زاد المعاد په تحقیق کې اسناد حسن بللی، 375/2، او تخریج یې په: 73 شمیره وړاندې تېر شوی دی.

2 بخاري له الفتح سره په: 11/ 101 کې په: 6307 شمیره روایت کړی او مسلم، 4/ 2075 په: 2702 شمیره روایت کړی.

3 څوک چې دا ذکر ماښام مهال درې ځلې ووایي، هغه ته به زهر او یا د زهرجنو ځځنده وو چیچل زیان ونه رسوي. دا حدیث احمد، 290/2 په: 7898 شمیره او نسائي په عمل اليوم والليلة کې په: 590 شمیره او ابن السنني په: 68 شمیره روایت کړی. وګوره: صحیح الترمذي، 187/3، صحیح ابن ماجه، 266/2، او تحفة الاخیار د ابن باز، 45 مخ.

4 ((څوک چې سهار او ماښام مهال پر ما لس ځلې درود ووایي نو د قیامت په ورځ به زما له شفاعت څخه برخمن شي)) طبراني په دوو سندونو روایت

دواړه لاسونه لپه کوي بیا پکې لاندې اذکار لولي او چف کوي:

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ1 ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ2 لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ3 وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ4﴾

ووايه هغه الله يو دی.

الله بې نيازه دی2

نه يې (څوک) زېږولي او نه دی (له چا) زېږول شوی دی

او د ده هېڅوک سيال (او) برابر نشته. [الإخلاص: 1-4].

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ1 مِن شَرِّ مَا خَلَقَ2 وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ3 وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ4 وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ5﴾

ووايه د سباوون پر رب پناه غواړم.

د هر هغه شي له شر نه چې ده پيدا کړی دی

او د تيارې شپې له شر نه کله چې تکه توره (او خوره) شي

او په غوټو کې د پو کوونکو له شره.

او د حسد کوونکي له شر نه کله چې دی حسد (شروع او ښکاره) کړي

[الفلق: 1-5].

کړی دی: چې يو يې جيد دی. وګوره: مجمع الزوائد، 120/10، او صحيح الترغيب و الترهيب، 273/1.

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ1 مَلِكِ ٱلنَّاسِ2 إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ3 مِن شَرِّ ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ4 ٱلَّذِي يُوَسۡوِسُ فِي صُدُورِ ٱلنَّاسِ5 مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ6﴾

ووايه د (ټولو) خلکو پر پالونکي پناه غواړم.

چې د خلکو پاچا دی.

په حقه د عبادت لايق دی.

د بيا بيا تلونکي راتلونکي وسوسه اچوونکي له شره.

هغه چې د خلکو په زړونو کې وسوسې اچوي.

هم له پېريانو او هم له انسانانو.

[الناس: 1-6]

بيا تر هغه ځايه دواړه لاسونه پر ځان راکاږي چې کولی شي پرې يې راکاږي، له سر څخه پيل کوي، بيا مخ او د بدن مخکې برخه ) (دا کار درې ځلې کوي)[1].

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ255﴾

ژباړه: «الله هماغه دی چې له ده پرته بل معبود نشته تل ترتله ژوندی سمبالونکی دی، نه پرکالي پرې راځي او نه خوب، څه چې په اسمانو کې دي او څه چې په ځمکه کې دي

---

[1] بخاري د الفتح سره په: 9/ 62 کې په: 5017 شميره او مسلم په: 2192 شميره روايت کړی.

(تړول) د هغه دي، دا به څوک وي چې د هغه له خوښې پرته د چا سپارښتنه ورته وکړي؟ په هر هغه څه پوهيږي چې د دوی مخې يا يې شاته دي، او دوی د هغه له معلوماتو هيڅ شی نه شي راګيرولای مګر هغه چې د ده خوښه وي، کرسی يې پر اسمانو او ځمکې پراخه ده، او د دې دواړو (ځمکی او اسمان) ساتنه يې نه ستومانه کوي او هغه لوی اوچت ذات دی».

[البقرة سورت: آيت 255][1].

﴿ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّن رُّسُلِهِۦۚ وَقَالُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ غُفۡرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ 285 لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۚ لَهَا مَا كَسَبَتۡ وَعَلَيۡهَا مَا ٱكۡتَسَبَتۡۗ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذۡنَآ إِن نَّسِينَآ أَوۡ أَخۡطَأۡنَاۚ رَبَّنَا وَلَا تَحۡمِلۡ عَلَيۡنَآ إِصۡرٗا كَمَا حَمَلۡتَهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِنَاۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلۡنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِۦۖ وَٱعۡفُ عَنَّا وَٱغۡفِرۡ لَنَا وَٱرۡحَمۡنَآۚ أَنتَ مَوۡلَىٰنَا فَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ 286﴾

ژباړه: «پيغمبر صلی الله عليه وسلم پر هغه څه ايمان راوړی دی چې د هغه د رب له خوا پر هغه نازل شوی دی او هغوی هم (ايمان راوړی) چې مومنان دي، دوی ټولو پر الله، د هغه پر پريښتو، د هغه پر کتابونو او د هغه پر پيغمبرانو (عليهم السلام) ايمان راوړی دي، (او د هغوی وينا دا ده

[1] «څوک چې دا د ويده کېدو پر مهال ولولي، نو د الله تعالی له لوري به پرې ساتونکی وګمارل شي او تر سهاره پورې به هيڅ شيطان ورته نږدې نه شي». بخاري د الفتح سره (487/4) شميره (2311) روايت کړی.

چې:) مونږ د الله د پیغمبرانو ترمنځ توپیر نه کوو، مونږ حکم واورېده او اطاعت مو ومانه ای الله! مونږ ستا څخه د ګناه د ښښنې غوښتونکي یو او همدا ستا لوري ته زمونږ درتګ دی».

الله هیڅ ساکښ ته د هغه له وسې پورته مسؤولیت نه متوجه کوي چا چې څه ښه کړیدي، د هغه ګټه د هماغه ده او چا چې څه بدي کړېده، د هغه ګناه پر هماغه ده. (مؤمنانو! تاسې داسې دعا وکړئ) ای زمونږ ربه! که له مونږ څخه څه هېره او خطا شوې وي، مونږ پرې مه نیسه، ای ربه! پر مونږ هغه پېټی مه ږده چې له مونږ څخه پر مخکېنېو خلکو دې ایښی و. زمونږه ربه! د کوم پیټي پورته کولو چې په مونږ کې وس نشته، هغه پر مونږ مه ږده، له مونږ سره اساني وکړه، زمونږ (له ګناهونو) څخه تېر شه، پر مونږ رحم وکړه، ته زمونږ کار جوړوونکی یې، د کافرانو په مقابل کې زمونږ مرسته وکړه.

[البقره سورت: ۲۸۵-۲۸۶ آیت].[1]

«بِاسْمِكَ رَبِّي وَضَعْتُ جَنْبِي، وَبِكَ أَرْفَعُهُ، فَإِنْ أَمْسَكْتَ نَفْسِي فَارْحَمْهَا، وَإِنْ أَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا، بِمَا تَحْفَظُ بِهِ عِبَادَكَ الصَّالِحِينَ».

1 «څوک چې دا دوه آیتونه په شپه کې ولولي ورته بسنه کوي». بخاري له الفتح سره، 9/ 94، په: 4008 شمیره، او مسلم، 1/ 554، په: 807 شمیره روایت کړی.

ژباړه: (ای ربه ستا په نوم[1] مې اړخ ولګاوه، او ستا په نوم يې پورته کوم، نو که زما روح دې قبض کړ؛ پرې ېې ورحميږه،[2] او که دې پرېښود؛ نو ويې ساته په هغه څه سره چې د خپلو نيکو بندګانو ساتنه پرې کوې).

«اللَّهُمَّ إِنَّكَ خَلَقْتَ نَفْسِي وَأَنْتَ تَوَفَّاهَا، لَكَ مَمَاتُهَا وَمَحْيَاهَا، إِنْ أَحْيَيْتَهَا فَاحْفَظْهَا، وَإِنْ أَمَتَّهَا فَاغْفِرْ لَهَا، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ العَافِيَةَ».

ژباړه: «ای الله تا زما نفس پيدا کړی او ته يې وفاتوې، مرګ او ژوند يې ستا په واک کې دي، نو که دې ژوند ورکړ، ساتنه يې وکړه او که دې راڅخه واخېست، ببښنه ورته وکړه، ای الله زه ستا څخه د سلامتيا سوال کوم».[3]

«اللَّهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ».

---

1 " «که له تاسو څخه څوک له خپل بستر څخه پورته شي او بيا بيرته ورته راشي، نو هغه دې د خپلې جامې (يا څادر )په څنډه درې ځلې وڅنډي، او د الله نوم دې پرې ياد کړي، ځکه هغه نه پوهيږي چې وروسته يې پرې څه پرېښودل، او کله چې ويده کيږي نو ودې وايي:..» حديث، [او د : بصَنِفة إزاره معنا ده: څنډه يې چې غاړې طرف ته وي]. النهايه في غريب الحديث و الاثر (صَنَفَ)."

2 بخاري له الفتح سره، 11/ 126، په: 6320 شميره. او مسلم، 4/ 2084، په: 2714 شميره روايت کړی.

3 مسلم په: 4/ 2083 کې په: 2712 شميره روايت کړی، او احمد په خپلو الفاظو سره په:، 2/ 79، کې په: 5502 شميره روايت کړی.

یا الله! په هغه ورځ مې ستا له عذابه وژغوره چې خپل بندګان راپورته کوې.[21]

«بِاسْمِكَ اللَّهُمَّ أَمُوتُ وَأَحْيَا».

ژباړه: «یا الله! ستا په نوم مرم (ویده کیږم) او ستا په نوم راژوندی کیږم (له خوبه راپاڅیږم).[3]

«سُبْحَانَ اللَّهِ

"پاکي ده الله تعالی لره"

(ثَلاثًا وَثَلاثِينَ)،

(درې دېرش ځلې)،

وَالحَمْدُ لِلَّهِ

او ستاینه الله لره ده

(ثَلاثًا وَثَلاثِينَ)،

"(درې دېرش ځلې)،"

وَاللَّهُ أَكْبَرُ

"او الله ډېر لوی دی"

(أَرْبَعًا وَثَلاثِينَ)».

---

1 أبو داود په خپلو الفاظو روایت کړی، 4/ 311، په: 5045 شمیره، او ترمذي په: 3398 شمیره، او وګوره: صحیح الترمذي، 3/143، او صحیح أبي داود، 3/ 240.

2 " ((کله چې به رسول الله - صلی الله علیه وسلم - غوښتل چې ویده شي، نو خپل ښی لاس به یې د خپل مخ لاندې کېښود او بیا به یې ویل: ...)) حدیث.

3 بخاري له الفتح سره په:، 11/ 113 کې په: 6324 شمیره روایت کړی، او مسلم، 4/ 2083، په: 2711 شمیره.

"(څلور ديرش ځلې)[1]."

«اللَّهُمَّ رَبَّ السَّمَوَاتِ السَّبْعِ وَرَبَّ الأَرْضِ، وَرَبَّ العَرْشِ العَظِيمِ، رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ، فَالِقَ الحَبِّ وَالنَّوَى، وَمُنْزِلَ التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ، وَالفُرْقَانِ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ شَيْءٍ أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ، اللَّهُمَّ أَنْتَ الأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الآخِرُ فَلَيسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ البَاطِنُ فَلَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ، اقْضِ عَنَّا الدَّيْنَ وَأَغْنِنَا مِنَ الفَقْرِ».

ژباړه: (ای د اوو آسمانونو، ځمکې او د لوی عرش ربه! زمونږ او د هر شي ربه، د داني او زړي چوونکيه، د تورات، انجيل او فرقان نازلوونکيه، پناه دروړم تاته د هر هغه شي له شر نه چې ته يې له تندي څخه نيوونكى يې، يا الله! ته اول يې له تا مخکې څه نشته، ته آخر يې له تا وروسته څه نشته، ته لوړ يې له تا پورته څوک نشته، او ته باطن يې (په ټولو چارو له هر چا ښه عالم يې) له تا بل باطن ذات نشته؛ زمونږ څخه پور پرې کړه، او مونږ له غريبى شتمن کړه)[2].

«الحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا، وَكَفَانَا، وَآوَانَا، فَكَمْ مِمَّنْ لَا كَافِيَ لَهُ وَلَا مُؤْوِيَ».

ژباړه: «د الله ستاينه ده چې موږ ته يې خواړه او څښاک راکړل او زموږ لپاره کافي شو او موږ ته يې سرپناه راکړه؛

---

1 څوک چې دا ذکر د ويده کېدو پر مهال ووايي، نو دا ورته له يو خادم څخه غوره دي (چې چاروته يې پاملرنه وکړي). بخاري د الفتح سره، 71/7، په: 3705 شميره، او مسلم، 2091/4، په: 2726 شميره روايت کړی.

2 مسلم، 4/ 2084 په: 2713 شميره روايت کړی.

څومره ډير دي هغه خلک چې نه کافي لرونکی لري او نه سرپناه ورکوونکی!».[1]

«اللَّهُمَّ عَالِمَ الغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ، رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيكَهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِي، وَمِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ وَشِرْكِهِ، وَأَنْ أَقْتَرِفَ عَلَى نَفْسِي سُوءًا، أَوْ أَجُرَّهُ إِلَى مُسْلِمٍ».

ژباړه: (ای الله په پټو او ښکاره وو پوه ذاته، د آسمانونو او ځمکې پيدا کوونکيه! د هر شي څښتن او مالک ذاته! زه ګواهي ورکوم چې پر حقه بل معبود نشته مګر ته يې، زه پر تا د خپل نفس له شر څخه -چې په بدی امر کوونکی دی- پناه نيسم او پر تا د شيطان له شر او شرک څخه پناه نيسم -يعني چې شر او شرک کولو ته مې وبلي- او پرتا پناه نيسم له دې څخه چې په خپله بدي وکړم او يا بل مسلمان ته د بدی رسولو سبب وګرځم).[2]

«يَقْرَأُ ﴿الـم﴾ تَنْزِيلَ السَّجْدَةِ، وَتَبَارَكَ الَّذي بِيَدِهِ المُلْكُ».

((﴿الـم﴾ تَنْزِيلَ السَّجْدَةِ، او: تَبَارَكَ الَّذي بِيَدِهِ الْمُلْكُ))[3]. سورتونه به ولولي.

«اللَّهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِي إِلَيْكَ، وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ، وَوَجَّهْتُ وَجْهِي إِلَيْكَ، وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ، رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ، لَا مَلْجَأَ

---

[1] مسلم، 4/ 2085، په:2715 شميره روايت کړی.

[2] أبو داود، 4/ 317، په:5067 شميره او ترمذي، په: 3629 شميره روايت، او وګوره: صحيح الترمذي 3/142 .

[3] ترمذي، په: 3404 شميره، او نسائي په: عمل اليوم والليلة کې په: 707 شميره روايت کړی او وګوره: صحيح الجامع 4/255.

وَلَا مَنْجَا مِنْكَ إِلَّا إِلَيْكَ، آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ، وَبِنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ».

ژباړه: «اى الله![1] ځان مې تاته سپارلى، خپله چاره مې تاته سپارلې، مخ مې تاته اړولى او شا مې تاته در سپارلې تاسره د مينې او ستا د ويرې له امله، له تا پرته بل هېڅ پناه ځاى او د ژغورنې ځاى نشته، ما ستا پر هغه کتاب ايمان راوړى چې تا نازل کړى، او ستا په هغه پيغمبر چې تا رالېږلى»[2].

### په شپه کې د اړخ اړولو پر مهال دعا

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ الوَاحِدُ القَهّارُ، رَبُّ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا العَزِيزُ الغَفَّارُ».

ژباړه: "له الله پرته بل معبود نشته، هغه يو دى، پر تولو څواکمن دى، د اسمانونو او ځمکې او د هغو ټولو شيانو رب دى چې د دوى په منځ کې دي، غالب او زيات بخښونکى ذات دى".[3]

---

1 ((کله چې بستر ته لاړې، نو د لمانځه په څېر اودس وکړه، بيا په ښي اړخ پرېوځه، او همدا دعا ووايه: ...)) حديث.

2 رسول الله - صلى الله عليه وسلم - هغه چا ته چې دا اذکار ووايي ويلي: «که چېرته مړ شوې، نو په فطرت مړ شوى يې» بخاري د الفتح سره، (113/11)، په: (6313)، او مسلم، (2081/4)، په: (2710) شميره روايت کړى.

3 دا دعا هغه مهال وايي چې په شپه کې له يوې خوا څخه بلې خوا ته په اړخ اوړي، دا حديث حاکم روايت کړى، ذهبي صحيح بللى او موافقه يې ورسره کړې ده، 540/1، او نسائي په عمل اليوم والليلة کې په: 202، او ابن السني په: 757 شميره روايت کړى. وګوره: صحيح الجامع، 213/4.

### په خوب کې د وېرې او له یوازې والي څخه د ځوریدونکو کسانو لپاره دعا

«أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ، وَشَرِّ عِبَادِهِ، وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَأَنْ يَحْضُرُونِ».

ژباړه: «د الله تعالی په بشپړو کلمو سره پناه نیسم د هغه له غصې، سزا او د هغه د بندګانو له شر او د شیطانانو له وسوسو څخه او دا چې (شیطانان) زما په چارو کې راګډ شي».[1]

### هغه څوک به څه کوي کله چې بد خوب وګوري

((خپل چپ اړخ ته به درې ځلې لیاړې تو کړي)) (او درې ځلې به ووایي)[2].

((د شیطان او د هغه څه له شر څخه به په الله تعالی پناه غواړي چې لیدلی یې دی)) (درې ځلې)[3].

((هیچاته به یې نه وایي))[4].

((په کوم اړخ چې وي، په بل اړخ به واوړي))[5].

((که وغواړي نو لمونځ دې وکړي.))[6].

---

1 أبو داود، 4/ 12، په: 3893 شمیره، او ترمذي په: 3528 شمیره روایت کړی او وګوره: صحیح الترمذي، 3/171 .

2 مسلم، 4/ 1772 په:2261 شمیره روایت کړی.

3 مسلم، 4/ 1772، 1773، په: 2261، او 2262 شمیرو روایت کړی.

4 مسلم، 4/ 1772 په:2261 او 2263 شمیرو روایت کړی.

5 مسلم، 4/ 1773، په:2261 شمیره روایت کړی.

6 مسلم په: 4/ 1773کې په: 2263 شمیره روایت کړی.

«اللَّهُمَّ اهْدِنِي فِيمَنْ هَدَيْتَ، وَعَافِنِي فِيمَنْ عَافَيْتَ، وَتَوَلَّنِي فِيمَنْ تَوَلَّيْتَ، وَبَارِكْ لِي فِيمَا أَعْطَيْتَ، وَقِنِي شَرَّ مَا قَضَيْتَ؛ فَإِنَّكَ تَقْضِي وَلَا يُقْضَى عَلَيْكَ، إِنَّهُ لَا يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ، [وَلاَ يَعِزُّ مَنْ عَادَيْتَ]، تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ».

ژباړه: «ای الله ما ته هدايت وکړه د هغه خلکو تر منځه چې تا ورته هدايت کړی، او ما ته د هغه خلکو تر منځه عافيت راکړه چې تا هغوی ته عافيت ورکړی، او د هغه خلکو تر منځه زما پالنه وکړه چې تا د هغوی پالنه کړې ده، او ماته په هغه څه کې برکت راکړه چې تا راکړي دي، او ما له هغه شر څخه وژغوره چې تا فيصله کړی دی، هغه کس نه سپک کيږي چې تا د هغه پالنه کړې وي، ته د برکت او لوړ مقام والا يې».[1]

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ، وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ، لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ، أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ».

ژباړه: (يا الله زه پناه غواړم ستا په رضا سره ستا له غصې نه، او ستا په عفوې (ببننې) سره ستا له سزا نه، او ستا څخه

---

[1] سنن اربعه او احمد، دارمي او بيهقي روايت کړی: ابوداود په: 1425، ترمذي په: 464، نسائي په: 1744، ابن ماجه په: 1178، أحمد په: 1718 شميره روايت کړی، دارمی په 1592شميره او حاکم په 172/3 بيهقی، 2/ 209، او هغه څه چې د دوو قوسونو تر منځ دي د بيهقی لخوا دي. وګوره: صحيح الترمذي، 144/1، او صحيح ابن ماجه 194/1، او ارواء الغليل د الباني، 172/2.

پر تا پناه غواړم، زه ستا پوره ستاینه نه شم کولی، ته هماغسې یې لکه څنګه چې تا د خپل ځان ستاینه کړې ده)."[1]

«اللَّهُمَّ إِيَّاكَ نعْبُدُ، وَلَكَ نُصَلِّي وَنَسْجُدُ، وَإِلَيْكَ نَسْعَى وَنَحْفِدُ، نَرْجُو رَحْمَتَكَ، وَنَخْشَى عَذَابَكَ، إِنَّ عَذَابَكَ بِالْكَافِرِينَ مُلْحِقٌ، اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِينُكَ، وَنَسْتَغْفِرُكَ، وَنُثْنِي عَلَيْكَ الخَيْرَ، وَلَا نَكْفُرُكَ، وَنُؤْمِنُ بِكَ، وَنَخْضَعُ لَكَ، وَنَخْلَعُ مَنْ يَكْفرُكَ».

ژباړه: ((یا الله! موږ یوازې ستا عبادت کوو، ستا لپاره لمونځ او سجده کوو، ستا لور ته (په عبادت او طاعت سره) بیړه کوو، ستا د رحمت هیله لرو او ستا له عذابه ویرېږو، په حقیقت کې ستا عذاب کافرانو ته رسیدونکی دی، یا الله! موږ له تا مرسته غواړو، ستا څخه بښنه غواړو او په ښه توګه ستا ستاینه کوو، موږ په تا کفر نه کوو، په تا ایمان لرو، موږ ستا اطاعت کوو، او هغه کسان پرېږدو چې له تا څخه انکار کوي)).[2]

## له وترو څخه د سلام ګرځولو وروسته اذکار

«سُبْحَانَ المَلِكِ القُدُّوسِ»

«پاکی ده سپېڅلي پاچا لره»

[1] د څلورو سننو خاوندانو روایت کړی او احمد: أبو داود په: 1427 شمیره، ترمذي په: 3566 شمیره، نسائي په: 1746 شمیره، ابن ماجه په: 1179 شمیره، او احمد په: 751 شمیره روایت کړی. وګوره: صحيح الترمذي، 180/3، او صحيح ابن ماجه، 194/1، او الإرواء، 175/2.

[2] بیهقي په السنن الکبری کې روایت کړی او اسناد یې صحیح ګڼلي، 211/2، او شیخ ألباني په إرواء الغليل کې ویلي: ((وهذا إسناد صحيح)) یعنې دا اسناد صحیح دی، 170/2. او دا له عمر رضي الله عنه څخه موقوف روایت دی.

ثلاثَ مرَّاتٍ
درې ځلې
والثَّالِثَةُ يَجْهَرُ بها ويَمُدُّ بِهَا صَوتَهُ يَقُولُ:
او درېيمه يې په لوړ اواز وايي او خپل اواز پرې اوږدوي، وايي:
«رَبِّ المَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ».
"د ملايکو او روح رب".[1]

### د اندېښنې او غم پر مهال دعا

«اللَّهُمَّ إِنِّي عَبْدُكَ، ابْنُ عَبْدِكَ، ابْنُ أَمَتِكَ، نَاصِيَتِي بِيَدِكَ، مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ، عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ، أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ، سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ، أَوْ أَنْزَلْتَهُ فِي كِتَابِكَ، أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ، أَوِ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي عِلْمِ الغَيْبِ عِنْدَكَ، أَنْ تَجْعَلَ الْقُرْآنَ رَبِيعَ قَلْبِي، وَنُورَ صَدْرِي، وَجَلَاءَ حُزْنِي، وَذَهَابَ هَمِّي».
ژباړه: (يا الله! زه ستا بنده، ستا د بنده او ستا د وينځې زوى يم، زما تنده (د تندې ويښتان) ستا په لاس کې دي، ستا حکم پر ما جاري دى، ستا پرېکړه زما په اړه عادلانه ده، ستا په ټولو هغو نومونو له تا څخه سوال کوم، چې تا پرې خپل ځان نومولی، او يا دې له خپلو بندګانو څخه چاته ښودلي او يا دې په خپل کتاب کې راليږلي او يا دې په پټ علم کې له ځان سره ساتلي، دا چې قرآن کريم زما د زړه پسرلی، او زما د سينې

[1] نسائي روايت کړی، 3/ 244، په: 1734 شميره، او دارقطني، 2/ 31، او نورو، او د دوو قوسونو تر منځه زيادت د دار قطني دی 31/2، په 2 شميره، او اسناد يې صحيح دي، وګوره: زاد المعاد د شعيب الأرناؤوط او عبدالقادر الأرناؤوط په تحقيق سره، 337/1.

رڼا او زما د غمونو لرې کوونکی او زما د مصیبت او پرېشانی له منځه وړونکی وګرځوه).[1]

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الهَمِّ وَالحَزَنِ، وَالعَجْزِ وَالكَسَلِ، وَالبُخْلِ وَالجُبْنِ، وَضَلَعِ الدَّيْنِ وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ».

ژباړه: (ای الله! زه له پرېشانی، غم، کمزوری او لټی، بخل او بزدلی، او د پور له شدت، او د خلکو د قهر او تسلط څخه تا ته پناه وړم).[2]

### د سخت خفګان پر مهال دعا

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ العَظِيمُ الحَلِيمُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ رَبُّ العَرْشِ العَظِيمِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ رَبُّ السَّمَوَاتِ وَرَبُّ الأَرْضِ وَرَبُّ العَرْشِ الكَرِيمِ».

ژباړه: (نشته د عبادت وړ پر حقه پرته له لوی او زغم لرونکي ذات څخه، نشته د عبادت وړ په حقه سره پرته له الله تعالی څخه، چې د لوی عرش څښتن دی، نشته د عبادت وړ پرته له الله تعالی څخه، چې د آسمانونو، ځمکې او د عزتمن عرش رب دی).[3]

«اللَّهُمَّ رَحْمَتَكَ أَرْجُو، فَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ، وَأَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ».

---

[1] أحمد په: 1/ 391 کې په: 3712 شمېره روایت کړی، او ألباني په: سلسلة الأحاديث الصحيحة کې صحيح کړی دی، 1/ 337.

[2] بخاري (7/ 158) په 2893 شمېره روايت کړی چې رسول صلى الله عليه وسلم به دا دعا زیاته ویله، وګوره: بخاري د الفتح سره (11/ 173)، او په 89 مخ کې به هم په: 137 شمېره راشي.

[3] بخاري، 7/ 154، په: 6345 شمېره، او مسلم، 4/ 2092، په: 2730 شمېره روايت کړی.

ژباړه: (ای الله! زه ستا د رحمت هیله لرم، نو ما د سترګو د رپ په اندازه هم ځان ته مه پرېږده، او زما ټولې چارې سمې کړه، له تا پرته بل معبود نشته)[1].

«لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ».

ژباړه: (نشته هېڅ لایق د عبادت مګر ته یې، ته پاک یې، بېشکه هم زه له ظالمانو څخه یم)[2].

«اللَّهُ اللَّهُ رَبِّي لَا أُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا».

ژباړه: «الله، الله مې رب دی، هېڅ شی ورسره نه شریکوم»[3].

### *د دښمن او د واک او ځواک د خاوند سره د مخ کېدو دعا*

«اللَّهُمَّ إِنَّا نَجْعَلُكَ فِي نُحُورِهِم، وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شُرُورِهِمْ».

ژباړه: «یا الله موږ تا د دوی د سینو پر وړاندې ګرځوو، او پر تا د دوی له بدیو څخه پناه غواړو. (یعنې موږ د دوی له شر څخه وژغوره)[4].

«اللَّهُمَّ أَنْتَ عَضُدِي، وَأَنْتَ نَصِيرِي، بِكَ أَحُولُ وَبِكَ أَصُولُ، وَبِكَ أُقَاتِلُ».

---

1 أبو داود، 4/ 324، په: 5090، او أحمد، 5/ 42، په: 20430 شمیره روایت کړی او الباني په: صحیح أبي داود، 3/959 کې حسن ګڼلی دی.

2 ترمذي، 5/ 529، په: 3505 شمیره او حاکم روایت کړی او صحیح یې ګڼلی او ذهبي ورسره موافقه کړې ده 1/505، او وګوره: صحیح الترمذي، 3/168.

3 أبو داود، 2/ 87، په: 1525 شمیره او ابن ماجه په: 3882 شمیره روایت کړی او وګوره: صحیح ابن ماجه، 2/335 .

4 أبو داود، 2/ 89، په: 1537 شمیره روایت کړی او حاکم صحیح کړی او ذهبي ورسره موافق دی، 2/142.

ژباړه: ای الله ته مې څواک یې او ته مې مرستندوی یې، ستا په مرسته له یو حالت نه بل ته اوړم، او ستا په مرسته برید کوم او ستا په مرسته جګړه کوم.[1]

«حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الوَكِيلُ».

ژباړه: مونږ لره الله کافي دی او هغه ډېر ښه ذمه وار دی..[2]

### *د هغه چا لپاره دعا چې د واکمن له ظلم څخه وېرېږي*

«اللَّهُمَّ ربَّ السَّمَوَاتِ السَّبْعِ، وَرَبَّ العَرْشِ العَظِيمِ، كُنْ لِي جَارًا مِنْ فُلَانِ بْنِ فُلَانٍ، وَأَحْزَابِهِ مِنْ خَلَائِقِكَ، أَنْ يَفْرُطَ عَلَيَّ أَحَدٌ مِنْهُمْ أَوْ يَطْغَى، عَزَّ جَارُكَ، وَجَلَّ ثَنَاؤُكَ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ».

ژباړه: "ای الله! د اوو اسمانونو او د لوی عرش څښتنه؛ د فلاني د زوی فلاني او د هغه د لښکرو پر وړاندې مې ساتونکی او مرستندوی شه چې ستا له مخلوقاتو څخه دي، له دې چې پر ما برلاسی شي او یا راباندې ظلم وکړي؛ ستا ګاونډ (ساتنه) غالب دی، او ستا ستاینه لویه ده، او له تا پرته بل حق معبود نشته".[3]

«اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَعَزُّ مِنْ خَلْقِهِ جَمِيعًا، اللَّهُ أَعَزُّ مِمَّا أَخَافُ وَأَحْذَرُ، أَعُوذُ بِاللَّهِ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ، المُمْسِكِ السَّمَوَاتِ السَّبْعِ أَنْ يَقَعْنَ عَلَى الأَرْضِ إِلَّا بِإِذْنِهِ، مِنْ شَرِّ عَبْدِكَ فُلَانٍ، وَجُنُودِهِ وَأَتْبَاعِهِ

---

[1] أبو داود په: 3/ 42 کې په: 2632 شمیره، او ترمذي، 5/ 572، په: 3584 شمیره روایت کړی او وګوره: صحیح الترمذي، 3/183.

[2] بخاري، 5/ 172، په: 4563 شمیره روایت کړی.

[3] بخاري په الأدب المفرد کې په: 707 شمیره روایت کړی او ألباني په: صحیح الأدب المفرد کې په: 545 شمیره صحیح کړی دی.

وَأَشْيَاعِهِ، مِنَ الجِنِّ وَالإِنْسِ، اللَّهُمَّ كُنْ لِي جَارًا مِنْ شَرِّهِمْ، جَلَّ ثَنَاؤُكَ وَعَزَّ جَارُكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ»

ژباړه: (الله تر ټولو لوی دی، الله د خپلو ټولو مخلوقاتو څخه ځواکمن او پرې برلاسی دی، الله تر هغه څه ډېر ځواکمن دی چې زه ترې ویره لرم او ډېره ترې کوم، هغه الله ته پناه وړم چې له هغه پرته بل حق معبود نشته، هغه ذات چې اووه آسمانونه یې مضبوط نیولي، له دې چې پر ځمکه راپرېوځي مګر د هغه په اجازې، (ای الله! تاته ستا) د فلاني بنده او د هغه د لښکرو او پیروانو او ملاتړو له شر څخه پناه دروړم، هغه که له پیریانو څخه وي یا له انسانانو څخه، ای الله د هغوی له شر څخه مې ساتونکی شې، ستا شان ډیر لوړ او ستا مل برلاسی او ساتلی شوی دی، ستا نوم ډېر اوچت دی، او له تا پرته بل برحق معبود نشته.

ثَلاثَ مَرَّاتٍ.

درې ځلې[1].

### دښمن ته ښېراوې کول

«اللَّهُمَّ مُنْزِلَ الكِتَابِ، سَرِيعَ الحِسَابِ، اهْزِمِ الأَحْزَابَ، اللَّهُمَّ اهْزِمْهُمْ وَزَلْزِلْهُمْ».

ژباړه: ((ای الله، د کتاب نازلوونکی او په حساب کې چټک ذاته، ډلو ته ماتې ورکړه، ای الله! هغوی ته ماتې ورکړه او هغوی ولړزوه))[2].

---

[1] بخاري په الأدب المفرد کې په: 708 شمېره روایت کړی او ألباني په: صحیح الأدب المفرد کې په: 546 شمېره صحیح کړی دی .

[2] مسلم، 3/ 1362، په: 1742 شمېره روایت کړی.

### څوک چې له یوې قوم څخه ویره ولري نو څه به وايي؟

«اللَّهُمَّ اكْفِنِيهِمْ بِمَا شِئْتَ».

ژباړه: «اې الله! په هر ډول چې ته وغواړې، د دوی په وړاندې زما لپاره کفایت وکړه.»[1].

### د هغه چا دعا چې په ایمان کې ورته وسوسه پیدا شوې وي

په الله تعالی پنا غواړي،[2] وایي: ژباړه: "زه له رټل شوي شیطان نه په الله تعالی پورې پناه نیسم."

له هغې وسوسې به ځان خلاصوي چې ورته پیدا شوې ده.[3]

(وایي به:

(آمَنْتُ بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ)).

په الله او د هغه په رسولانو مې ایمان راوړی.[4]

د الله تعالی دا وینا لولي:

﴿هُوَ ٱلۡأَوَّلُ وَٱلۡأٓخِرُ وَٱلظَّٰهِرُ وَٱلۡبَاطِنُۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ 3﴾

ژباړه: هغه لومړنی، وروستی، ښکاره او پټ دی او همغه په هر څه ښه پوه دی. "[الحدید سورت: 3 آیت ][5]".

---

[1] مسلم، 4/ 2300، په:3005 شمیره روایت کړی.

[2] بخاري د الفتح سره، 6/ 336 په: 3276 شمیره، او مسلم، 1/ 120 په: 134 شمیره.

[3] بخاري د الفتح سره، 6/ 336، په: 3276 شمیره او مسلم، 1/ 120 په: 134 شمیره.

[4] مسلم روایت کړی، 1/ 119- 120، په: 134 شمیره.

[5] أبو داود په: 329/ 4 کې په: 5110 شمیره روایت کړی او ألباني په: صحیح أبي داود کې په: 962/3 شمېره حسن ګڼلی دی.

### له پور څخه د خلاصېدو دعا

«اللَّهُمَّ اكْفِنِي بِحَلَالِكَ عَنْ حَرَامِكَ، وَأَغْنِنِي بِفَضْلِكِ عَمَّنْ سِوَاكَ».

ژباړه: (ای الله، په حلالو سره مې له حرامو بساینه وکړه او په خپل فضل سره مې له نورو بې نیازه کړه)[1].

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الهَمِّ وَالحَزَنِ، وَالعَجْزِ وَالكَسَلِ، وَالبُخْلِ وَالجُبْنِ، وَضَلَعِ الدَّيْنِ وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ».

ژباړه: (ای الله! زه له پرېشانۍ، غم، کمزورۍ، لټۍ، بخل او بزدلۍ، او د پور له شدت، او د خلکو د قهر او تسلط څخه تا ته پناه دروړم).[2]

### په لمانځه کې او قراءت کې د وسوسې دعا

«أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيطَانِ الرَّجِيمِ،

ژباړه: زه له رټل شوي شیطان نه په الله تعالی پورې پناه نیسم.

وَاتْفُلْ عَلَى يَسَارِكَ (ثَلَاثًا)».

«او درې ځلې چپ خوا ته توف وکړه».[3]

---

[1] ترمذي، 5/ 560، په: 3563 شمیره روایت کړی،او وګوره: صحیح الترمذي، 3/180.

[2] بخاري، 7/158، په: 2893 شمیره روایت کړی، او په 83 مخ کې وړاندې په:121 شمېره تېر شوی دی.

[3] مسلم، 4/ 1729، په: 2203 شمیره روایت کړی، د عثمان بن أبي العاص -رضي الله عنه- له حدیث څخه او په هغه کې راغلي چې ما داسې وکړل، نو الله راڅخه وسوسه لرې کړه.

### د هغه چا دعا چې يو کار ورته ستونزمن شوی وي

«اللَّهُمَّ لَا سَهْلَ إِلَّا مَا جَعَلْتَهُ سَهْلاً، وَأَنْتَ تَجْعَلُ الحَزْنَ إِذَا شِئْتَ سَهْلاً».

ژباړه: [(ای الله! هېڅ اسانتيا نشته مګر هغه چې ته يې اسانه کړې، او که وغواړې نو غم هم اسانه کوې)].[1]

### څوک چې ګناه ترسره کړي نو څه بايد ووايي:

«مَا مِنْ عَبْدٍ يُذْنِبُ ذَنْبًا فَيُحْسِنُ الطُّهُورَ، ثُمَّ يَقُومُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ يَسْتَغْفِرُ اللَّهَ إِلَّا غَفَرَ اللَّهُ لَهُ».

ژباړه: «هېڅ بنده يوه ګناه نه کوي چې بيا ځان ښه پاک کړي، پورته شي او دوه رکعته لمونځ وکړي او بيا د الله څخه بخښنه وغواړي مګر دا چې الله به ورته بخښنه وکړي.»[2]

### د شيطان او د هغه د وسوسو د لرې کولو دعا

په الله تعالی ترې پناه غوښتل.[3]

---

[1] ابن حبان په خپل صحيح په: 2427 شميره په (موارد) کې روايت کړی او ابن السني په 351 شميره، حافظ ويلي: دا صحيح حديث دی. دا د عبدالقادر الارناؤوط د النووي د اذکارو په تخريج کې صحيح ګڼلی دی 106 مخ.

[2] أبو داود، 2/ 86، په:1521 شميره روايت کړی، او ترمذي، 2/ 257، په: 406 شميره، او الباني په: صحيح أبي داود کې: 283/1 صحيح ګڼلی دی.

[3] أبو داود په: 1/ 203 او ابن ماجه په: 1/ 265 کې په 807 شميره روايت کړی، او په 31 شميره کې يې تخريج تېر شو او وګوره: المؤمنون سورت: 97-98 آيتونه.

((اذان))[1].

(اذکار او د قرآن کريم تلاوت).

«لَا تَجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ مَقَابِرَ، إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْفِرُ مِنَ الْبَيْتِ الَّذِي تُقْرَأُ فِيهِ سُورَةُ الْبَقَرَةِ».

«له خپلو کورونو څخه هديرې مه جوړوئ، يقينا چې شيطان له هغه کور څخه تښتي چې د بقرې سورت پکې لوستل کيږي»[2].

او له هغو کارونو څخه چې شيطان پر شړل کيږي؛ د سهار او ماښام، د خوب او له خوب څخه د راويښيدو، کور ته د ننوتلو او وتلو، جومات ته د ننوتلو او وتلو او داسې نور مسنونه اذکار او دعاګانې دي لکه: آيت الکرسي او د البقرې سورت دوه وروستي آيتونه، او څوک چې ووايي:

لَا إِلٰهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ

ژباړه: "له الله پرته بل معبود نشته هغه يو دی شريک نه لري، د هغه لپاره پاچاهي ده او د هغه لپاره ستاينه ده، او هغه په هر څه قادر دی"

مِائَةَ مَرَّةٍ، كانت له حرزًا من الشيطان يومه كله،

سل ځلې، دا به توله ورځ له شيطان څخه د ده لپاره ډال (ساتونکې) وي[3]، همدارنګه اذان شيطان شړي.

---

[1] مسلم په: 1/ 291 کې په: 389او بخاري په:151 /1 کې په: 608 شمېرو روايت کړی دی.

[2] مسلم (539/1) په (780) شميره روايت کړی.

[3] بخاري (126/4) په: (3293) شميره روايت کړی.

### هغه دعا چې کله د ته‌مې خلاف یو څه پېښ شي یا د یو کار په کولو کې عاجز شي

«قَدَرُ اللَّهُ وَمَا شَاءَ فَعَلَ».

ژباړه: د الله تعالی پریکړه ده، څه چې وغواړي هغه کوي.[1]

### چاته د نوي زیږیدلي ماشوم مبارکي ویل او د هغې ځواب

«بَارَكَ اللَّهُ لَكَ فِي المَوْهُوبِ لَكَ، وَشَكَرْتَ الوَاهِبَ، وَبَلَغَ أَشُدَّهُ، وَرُزِقْتَ بِرَّهُ».

ژباړه: ((الله دې درته ډالۍ شوی برکتي کړي او ته دې د ډالي کوونکي منندوی اوسې، هغه دې ځوانۍ ته ورسیږي، او ته یې له نېکۍ څخه برخمن شې)).[2]

او هغه څوک چې مبارکي ورته ویل شوې ده، په ځواب کې ورته وایي:

«بَارَكَ اللَّهُ لَكَ وَبَارَكَ عَلَيْكَ، وَجَزَاكَ اللَّهُ خَيْرًا، وَرَزَقَكَ اللَّهُ مِثْلَهُ، وَأَجْزَلَ ثَوَابَكَ».

---

1 «پیاوړی مؤمن الله تعالی ته له کمزوري مؤمن څخه خوښ او غوره دی او په دواړو کې خیر دی، په هغه څه تینګار وکړه چې ګټه درته رسوي او د الله تعالی نه مرسته وغواړه، او مه کمزوری کیږه، که چیرته درته څه - زیان - ورسیده نو داسې مه وایه: که چېرته مې داسې کړي وای، نو داسې او داسې به شوي وو، خو ووایه: د الله تقدیر دی او هغه چې څه غوښتل هغه یې وکړل؛ ځکه د (که چیرته) کلمه د شیطان کړنې پرانیزي». مسلم په: (2052/4) کې په: (2664) شمېره روایت کړی.

2 د حسن البصري له قوله ویل شوي. وګوره: تحفة المودود، د ابن القیم ۲۰ مخ، او په الاوسط کې یې ابن المنذر ته منسوب کړی دی.

ژباړه: ((الله دې برکت درکړي او تا دې برکتي کړي، او الله دې د خېر بدله درکړي، او د همدې (ماشوم) په خېر دې تاته هم درکړي او تاته دې ډېر اجر درکړي))[1].

### هغه اذکار چې اولادونه پرې دمېږي

رسول الله صلی الله علیه وسلم به حسن او حسین رضي الله عنهما دمول

«أُعِيذُكُمَا بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّةِ مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ، وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَامَّةٍ».

ژباړه: (زه تاسې دواړه د الله په بشپړو کلمو سره دموم چې له هر شیطان، هرې مضرې حشرې او هرې مضرې سترګې څخه) مو وساتي.[2]

### د ناروغ د پوښتنې پر مهال ناروغ ته دعا

«لَا بأْسَ طَهُورٌ إِنْ شَاءَ اللَّهُ».

ژباړه: هېڅ باک نشته، ان شاء الله چې (دا ناروغي) د ګناه پاکوونکې ده.[3]

«أَسْأَلُ اللَّهَ العَظِيمَ رَبَّ العَرْشِ العَظِيمِ أَنْ يَشْفِيَكَ»

---

1 نووي په الأذكار کې ویلي 349 مخ. د نووي: صحیح الأذكار وګورى کوم چې د سلیم هلالي لیکنه ده، 713/2، او په ذکر، دعا او دم سره درملنه د: لیکوال، 416/1.

2 بخاري په: (119/4) کې په:3371 شمیره د ابن عباس –رضي الله عنهما- له حدیث څخه روایت کړی.

3 بخاري د الفتح له شرحې سره: 10/ 118 کې په: 3616 شمیره روایت کړی.

ژباړه: «د لوی الله څخه چې د لوی عرش رب دی تا ته د شفاء غوښتنه کوم.»
اووه ځلې[1].

## د ناروغ د پوښتنې فضیلت

رسول الله ﷺ فرمايلي:

«إِذَا عَادَ الرَّجُلُ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ مَشَى فِي خِرَافَةِ الْجَنَّةِ حَتَّى يَجْلِسَ، فَإِذَا جَلَسَ غَمَرَتْهُ الرَّحْمَةُ، فَإِنْ كَانَ غُدْوَةً صَلَّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُمْسِيَ، وَإِنْ كَانَ مَسَاءً صَلَّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُصْبِحَ».

«کله چې يو سړی د خپل مسلمان ورور پوښتنې ته ورشي، نو دی د جنت په باغونو کې د ميوو راټولو په حال کې ګرځېدونکی دی تر دې چې کښيني، کله چې کيني، رحمت يې وپوښي، نو که سهار مهال و، تر بېګا پورې به پرې اويا زره پرښتې درود وايي، او که بېګا مهال و تر سهاره به پرې اويا زره پرښتې درود وايي»[2]

## د هغه ناروغ لپاره دعا چې له ژوند څخه نااهیلی شوی وي

«اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، وَأَلْحِقْنِي بِالرَّفِيقِ الأَعْلَى».

---

[1] «هر مسلمان بنده چې د يوه ناروغ پوښتنې ته ورشي - چې اجل يې نه وي راغلي - او اووه ځلې پرې دا دعا ووايي... مګر دا چې روغ به شي». ترمذي په (2083) شميره روايت کړی، او ابوداود په (3106) شميره. وګورئ: صحيح الترمذي (210/2)، او صحيح الجامع (180/5).

[2] ترمذي په: 969 شميره او ابن ماجه په: 1442 شميره او أحمد په: 975 شميره روايت کړی او وګورئ: صحيح ابن ماجه، 244/1 او صحيح الترمذي، 286/1، همدا رنګه شيخ احمد شاکر صحيح ګڼلی دی.

ژباړه: (ای الله! ما وبخښه، رحم راباندې وکړه او د جنت په لوړو مرتبو کې مې (د هغه لوړ مقام له استوګنو )سره يو ځای کړه).[1]

رسول الله صلی الله عليه وسلم به د ځنکدن پر مهال خپل لاسونه په اوبو لانده کړل او دواړه به يې پر مخ راکش کړل، او داسې به يې ويل:

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ

له الله پرته په حقه بل معبود نشته

إِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَاتٍ».

ژباړه: (بېشکه مرګ بې خودۍ (سختۍ) لري).[2]

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ».

ژباړه: له الله پرته بل حق معبود نشته او الله تر ټولو لوی دی، له الله پرته بل حق معبود نشته، الله يو دی، له الله پرته بل حق معبود نشته، هغه يو دی، شريک نه لري، له الله پرته بل حق معبود نشته، هغه لره پادشاهي ده او هغه لره ستاينه ده، له الله

---

1 بخاري، (10/7)په: 4435 شميره او مسلم په: (1893/4)کې په: 2444 شميره روايت کړی.

2 بخاري د الفتح له شرحې سره 8/ 144، په: 4449 شميره روايت کړی، او په دې حديث کې د مسواک يادونه شوې ده.

پرته بل حق معبود نشته، او له يوه حالت نه بل ته اوړېدل او ځواک نشته مګر په الله تعالی." [١٩٥[1]

***د ځنکدن پر مهال مړي ته د توحيد د کلمې ور په يادول***

«مَنْ كَانَ آخِرُ كَلَامِهِ
ژباړه: «د چا وروستی وینا چې
لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ
(لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ) وي، يعنې له الله پرته بل برحق معبود نشته
دَخَلَ الجَنَّةَ».
جنت ته داخلیږي)).[2]

***هغه چاته دعا چې مصيبت ورته رسيدلی وي***

«إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ، اللَّهُمَّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي، وَأَخْلِفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا».
ژباړه: (موږ د الله یو او الله ته ورګرځیدونکي یو، ای الله! ماته زما په مصیبت کې اجر راکړې، او له دې غوره راکړې).[3]

---

[1] ترمذي په: 3430 شميره او ابن ماجه په: 3794 شمیره روایت کړی او ألباني صحيح ګڼلی دی وګوره: صحيح الترمذي 152/3، او صحيح ابن ماجه، 317/2 .
[2] أبو داود په: 3/ 190 کې په 3116 شميره روايت کړی او وګوره: صحيح الجامع، 432/5 .
[3] مسلم په: 2/ 632 کې په: 918 شميره روايت کړی.

### د مړي د سترګو تړلو پر مهال دعا

«اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِفُلَانٍ (بِاسْمِهِ) وَارْفَعْ دَرَجَتَهُ فِي المَهْدِيِّينَ، وَاخْلُفْهُ فِي عَقِبِهِ فِي الغَابِرِينَ، وَاغْفِرْ لَنَا وَلَهُ يَا رَبَّ العَالَمِينَ، وَافْسَحْ لَهُ فِي قَبْرِهِ، وَنَوِّرْ لَهُ فِيهِ».

ژباړه: ((ای الله، فلاني ته (د هغه نوم دې یاد کړي) بخښنه وکړه او د هغه مقام په هدایت شوو او د هغه په پاتې اولادې کې لوړ کړه، موږ او هغه ته بخښنه وکړه ای د عالمیانو ربه، او د هغه قبر د هغه لپاره پراخه او روښانه کړه))[1]

### د جنازې په لمانځه کې مړي ته دعا

«اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ، وَعَافِهِ، وَاعْفُ عَنْهُ، وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ، وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ، وَاغْسِلْهُ بِالمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالبَرَدِ، وَنَقِّهِ مِنَ الخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ، وَأَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِنْ دَارِهِ، وَأَهْلاً خَيْرًا مِنْ أَهْلِهِ، وَزَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهِ، وَأَدْخِلْهُ الجَنَّةَ، وَأَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ القَبْرِ [وَعَذَابِ النَّارِ]».

ژباړه: (ای الله ویې بخښه، رحم پرې وکړه، له سختیو یې وساته، او معافي ورته وکړه، د ده ښه میلمستیا وکړه، د ورتلو ځای یې پراخه کړه، او په اوبو، واوره او ګلۍ یې ووینځه او د ګناهونو څخه یې داسې پاک کړه لکه څنګه چې تا سپینه جامه له خیرې څخه پاکه کړې ده، او له کور څخه یې غوره کور ورکړه، او له اهل څخه یې غوره اهل او له جوړې (ښځه/خاوند) یې په صفاتو کې غوره جوړه ورکړه، جنت ته

---

[1] مسلم په: 2/ 634 کې په: 920 شمیره روایت کړی.

يې داخل کړه، او د قبر له عذاب او د اور له عذاب څخه يې وساته).[1]

«اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا، وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا، وَصَغِيرِنَا وَكَبِيرِنَا، وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا، اللَّهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَى الإِسْلَامِ، وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الإِيمَانِ، اللَّهُمَّ لَا تَحْرِمْنَا أَجْرَهُ، وَلَا تُضِلَّنَا بَعْدَهُ».

ژباړه: (ای الله، زموږ ژوندي او مړي، حاضران او غائبان، کوچنيان او لويان، نارينه او ښځينه ټولو ته بخښنه وکړه. ای الله، زموږ څخه دې چې څوک ژوندي ساتلې، هغه په اسلام ژوندي لره او زموږ څخه چې څوک وفاتوې نو په ايمان سره يې وفات کړه، ای الله موږ د ده د مصيبت له اجر څخه مه محروموه، او له ده وروسته مو مه ګمراه کوه).[2]

«اللَّهُمَّ إِنَّ فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ فِي ذِمَّتِكَ، وَحَبْلِ جِوَارِكَ، فَقِهِ مِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ، وَعَذَابِ النَّارِ، وَأَنْتَ أَهْلُ الْوَفَاءِ وَالْحَقِّ، فَاغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ».

ژباړه: ((ای الله! فلانی د فلاني زوی، ستا تر ساتنې او څار لاندې دی، هغه د قبر له فتنې او د اور له عذاب څخه وساتې، ځکه ته د وفا او حق خاوند يې، نو بخښنه ورته وکړه او رحم

---

[1] مسلم په: (663/2) کې په: 963 شميره روايت کړی.

[2] أبو داود، په:3201 او ترمذي په: 1024 او نسائي په: 1985 او ابن ماجه په: 1/ 480 کې په:1498 او أحمد په: 2/ 368 کې په: 8809 شميره روايت کړی او وګوره: صحيح ابن ماجه، 251/1.

پرې وکړه، بېشکه چې ته بنه بخښونکی او مهربان ذات يې))[1].

«اللَّهُمَّ عَبْدُكَ وَابْنُ أَمَتِكَ احْتَاجَ إِلَى رَحْمَتِكَ، وَأَنْتَ غَنِيٌّ عَنْ عَذَابِهِ، إِنْ كَانَ مُحْسِنًا فَزِدْ فِي حَسَنَاتِهِ، وَإِنْ كَانَ مُسِيئًا فَتَجَاوَزْ عَنْهُ».

ژباړه: ای الله! ستا بنده او ستا د وينځې زوی، ستا رحمت ته محتاج شوی دی او ته د هغه له عذابولو غني ذات يې، نو که نېک عمله وي، په نيکيو کې يې زياتوالی راوله، او که بد عمله وي، له بديو يې تېر شه.[2]

### ماشوم ته د جنازې په لمانځه کې دعا

«اللَّهُمَّ أَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ».

ژباړه: ای الله! د قبر له عذابه يې وساته.[3]

او که ووايي:

«اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ فَرَطًا وَذُخْرًا لِوَالِدَيْهِ، وَشَفِيعًا مُجَابًا، اللَّهُمَّ ثَقِّلْ بِهِ مَوَازِينَهُمَا، وَأَعْظِمْ بِهِ أُجورَهُمَا، وَأَلْحِقْهُ بِصَالِحِ الْمُؤْمِنِينَ،

---

1 ابن ماجه په: 1499 شمېره روايت کړی، وګوره: صحيح ابن ماجه، 251/1، او أبو داود په: 3/ 211 کې په: 3202 شمېره روايت کړی.

2 حاكم روايت کړی او صحيح کړی دی او ذهبي ورسره موافقه کړې ده، 359/1، او وګوره: أحكام الجنائز د ألباني، 125 مخ.

3 (سعيد بن المسيب ويلي: ما د ابو هريره رضي الله عنه تر شا د يو کوچني ماشوم په جنازه کې لمونځ وکړ چې هېڅکله يې ګناه نه وه کړې، نو ما ترې واورېدل چې ويل يې ..) حديث، مالک په الموطا (288/1) کې روايت کړی، ابن ابی شيبه په المصنف کې (217/3)، او بيهقي په (9/4) کې، او اسناد يې شعيب الأرناؤوط د بغوي په شرح السنة کې صحيح ګڼلی (357/5).

وَاجْعَلْهُ فِي كَفَالَةِ إِبْرَاهِيمَ، وَقِهِ بِرَحْمَتِكَ عَذَابَ الجَحِيمِ، وَأَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِنْ دَارِهِ، وَأَهْلًا خَيْرًا مِنْ أَهْلِهِ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِأَسْلَافِنَا، وَأَفْرَاطِنَا، وَمَنْ سَبَقَنَا بِالإِيمَانِ»

ژباړه: «ای الله، هغه کوچنی د مور او پلار لپاره جنت ته مخکښ او د هغوی لپاره يې د اجر د لاسته راوړلو سبب او منل شوی شفاعت کوونکی وګرځوه. ای الله، د هغوی (د نېکو عملونو) تلې پرې درنې او اجرونه يې پرې لوی کړه او د نېکو مومنانو سره يې يو ځای او د ابراهيم عليه السلام په کفالت کې يې شامل کړه، او په خپل رحمت سره يې د جهنم له عذابه وساته، له کور څخه يې غوره کور او له کورنی يې ښه کورنی ورکړه، ای الله زموږ پخوانيو ته بخښنه وکړې او هغوی چې کوچنيان مړه شوي، او هغوی چې له موږ څخه په ايمان کې مخکښان وو».

نو دا به غوره وي[1].

«اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا، وَسَلَفًا، وَأَجْرًا».

ژباړه: ای الله زموږ لپاره يې جنت ته مخکښ، وړاندې تلونکی او د اجر ترلاسه کولو لامل وګرځوه[2].

---

1 وګوره: المغني د ابن قدامة، 416/3، او الدروس المهمة لعامة الأمة، د شيخ عبد العزيز بن عبد الله بن باز -رحمه الله- ، 15مخ .

2 حسن به پر ماشوم سورت الفاتحه لوستله او ويل به يې ... حديث. البغوی په شرح السنة، 357/5 او د عبدالرزاق په: 6588 شميره او بخاري په کتاب الجنائز؛ باب قراءة فاتحة الکتاب على الجنازة کې په: 113/2 کې له: 1335 شميرې مخکې روايت کړی دی.

### د تسليت دعا

«إِنَّ للهِ مَا أَخَذَ، وَلَهُ مَا أَعْطَى، وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهُ بِأَجَلٍ مُسَمًّى... فَلْتَصْبِرْ وَلْتَحْتَسِبْ».

ژباړه: يقينا څه چې الله واخېستل، د هغه دي، او څه يې چې ورکړي د هغه دي، او هر څه د هغه سره يوه ټاکلې موده لري... نو صبر وکړه او اجر يې له هغه څخه وغواړه))[1].

او که ووايي:

«أَعْظَمَ اللَّهُ أَجْرَكَ، وَأَحْسَنَ عَزَاءَكَ، وَغَفَرَ لِمَيِّتِكَ»

ژباړه: (الله دې لوی اجر درکړي، تاته دې ښه تسليت درکړي، او ستا مړي ته دې ښښنه وکړي.).

نو دا به غوره وي[2].

### قبر ته د مړي دننه کولو پر مهال دعا

«بِسْمِ اللَّهِ وَعَلَى سُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ».

ژباړه: (د الله په نوم او د رسول الله د سنت مطابق)[3]

### د مړي له ښخولو وروسته دعا

«اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ، اللَّهُمَّ ثَبِّتْهُ».

---

1 بخاري، په(80/2) کې په 1284 شمېره او مسلم په: (636/2) کې په: 923 شمېره روايت کړی.

2 الأذكار د النووي، 126 مخ .

3 أبو داود په: 3/ 314 کې په: 3215 شمېره په صحيح سند روايت کړی او أحمد په: 5234 او 4812 شمېره پدې الفاظو : ((بسم اللّٰه، وعلى ملّة رسول اللّٰه)) روايت کړی او سند يې صحيح دی.

ژباړه: (ای الله بخښنه ورته وکړه او (د سوال او ځواب پر مهال يې) ثابت قدمه کړه).[1]

### د قبرونو د زيارت پر مهال دعا

«السَّلاَمُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الدِّيَارِ، مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالمُسْلِمِينَ، وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللَّهُ بِكُمْ لَاحِقُونَ، [وَيَرْحَمُ اللَّهُ المُسْتَقدِمِينَ مِنَّا وَالمُسْتَأْخِرِينَ] أَسْأَلُ اللَّهَ لَنَا وَلَكُمُ العَافِيَةَ».

ژباړه: سلام دې وي پر تاسو اې د دې کورونو استوګنو مومنانو او مسلمانانو، هر کله چې الله اراده وکړي موږ تاسو سره يوځای کېدونکي يو [او الله دې زموږ پر مخکنيو او وروستنيو رحم وکړي] زه له الله څخه زموږ او ستاسو لپاره د بخښنې سوال کوم[2]

### د سيلۍ پر مهال دعا

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا».

---

1 نبي کريم ﷺ به کله چې د مړي له دفن څخه فارغ شو نو د قبر تر څنګ به ودرېده او فرمايل به يې: «تاسو د خپل ورور لپاره مغفرت وغواړئ او د هغه لپاره د ثبات غوښتنه وکړئ؛ ځکه چې هغه اوس پوښتل کيږي». أبو داود په (3/315) کې په (3223) شميره روايت کړی او حاکم روايت کړی او صحيح يې ګڼلی او ذهبي ورسره موافق دی (1/370).

2 مسلم په: 2/ 671 کې په: 975 شميره روايت کړی، او ابن ماجه 1/ 494، او الفاظ د همده دي چې په: 1547 شميره يې له بريدة -رضي الله عنه- څخه روايت کړی، او څه چې د دوو قوسونو تر منځه دي د عايشې رضي الله عنها له حديث څخه دي چې مسلم په: 2/ 671 کې په: 975 شميره روايت کړی.

ژباړه: ((ای الله! ستا څخه يې خېر غواړم او پر تا يې له شر څخه پناه نيسم))[1]

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا، وَخَيْرَ مَا فِيهَا، وَخَيْرَ مَا أُرْسِلَتْ بِهِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا، وَشَرِّ مَا فِيهَا، وَشَرِّ مَا أُرْسِلَتْ بِهِ».

ژباړه: ((ای الله! ستا څخه يې خير غواړم او هغه خېر چې په دې کې دی، او هغه خېر چې له امله يې راليږل شوی دی او پر تا يې له شر څخه پناه غواړم او هغه شر څخه چې په دې کې دی او هغه شر چې له امله يې راليږل شوی دی))[2]

### د اسمان د غرارې پر مهال دعا

«سُبْحَانَ الَّذِي يُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهِ وَالمَلَائِكَةُ مِنْ خِيفَتِهِ».

ژباړه: "پاک دی هغه ذات چې له ويرې يې رعد (د وريځو شېندلو پرښته) او ټولې پرېښتې له ستاينې سره پاکي وايي"[3]

### د باران غوښتلو له دعاګانو څخه

«اللَّهُمَّ اسْقِنَا غَيْثًا مُغِيثًا مَرِيئًا مَرِيعًا، نَافِعًا غَيْرَ ضَارٍّ، عَاجِلًا غَيْرَ آجِلٍ».

---

[1] أبو داود په: 4/ 326 کې په: 5099 شميره، او ابن ماجه په: 2/ 1228 کې په:3727 شميره روايت کړی او وګوره: صحيح ابن ماجه، 305/2.

[2] مسلم په 2/ 666 کې په: 899 شميره او بخاري په: 4/ 76 کې په: 3206 او 4829 شميرو روايت کړی، او لفظ د مسلم دی.

[3] کله به چې عبدالله بن الزبير - رضي الله عنهما - په اسمان کې غرارې واورېد نو خبرې به يې ودرولې او ويل به يې: ...حديث، الموطأ 992/2 او الباني په صحيح الکلم الطيب کې په: 157 شميره ذکر کړی او ويلي يې دي چې: ((سند يې په موقوف روايت سره صحيح دی)).

ژباړه: ((ای الله! پر موږ ژر له څنډ پرته اړتیا پوره کوونکی او سختي لرې کوونکی باران راولیږه، چې پاکیزه، حاصل خیزه،ګټور او بې زیانه وي))[1].

«اللَّهُمَّ أَغِثْنَا، اللَّهُمَّ أَغِثْنَا، اللَّهُمَّ أَغِثْنَا».

ژباړه: یا الله پر موږ باران وکړه، یا الله پر موږ باران وکړه، یا الله پر موږ باران وکړه.[2]

«اللَّهُمَّ اسْقِ عِبَادَكَ، وَبَهَائِمَكَ، وَانْشُرْ رَحْمَتَكَ، وَأَحْيِي بَلَدَكَ المَيِّتَ».

ژباړه: یا الله! بندګان او څاروي دې خړوبه کړه، رحمت دې تولو ته شامل کړه، او مړه ځمکه دې راژوندۍ کړه.[3]

### د باران پر مهال دعا

«اللَّهُمَّ صَيِّبًا نَافِعًا».

ژباړه: یا الله! ته یې ګټور وګرځوې.[4]

### د باران لو وریدو وروسته دعا

«مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللَّهِ وَرَحْمَتِهِ».

---

1 أبو داود په: (303/1) کې په: 1171 شمیره روایت کړی او الباني په صحیح أبي داود کې 216/1صحیح ګڼلی دی.

2 بخاري په: (224/1)کې په: 1014 شمیره او مسلم په: (613/2) کې په897 شمیره روایت کړی.

3 أبو داود په: (305/1) کې په: 1178 شمیره روایت کړی او الباني په: صحیح أبي داود کې 218/1 حسن ګڼلی دی.

4 بخاري د الفتح سره په: (518/2) کې په: 1032 شمیره روایت کړی.

ژباړه: (د الله په فضل او رحمت پر موږ باران وشو).[1]

### د باران ودرېدو لپاره دعا

«اللَّهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلَا عَلَيْنَا، اللَّهُمَّ عَلَى الآكَامِ وَالظِّرَابِ، وَبُطُونِ الأَوْدِيَةِ، وَمَنَابِتِ الشَّجَرِ».

ژباړه: ((ای الله! زموږ شاوخوا یې وورووه نه پر موږ، یا الله! په غونډیو، پانډونو، شېلو، خوړونو او هغو ځایونو یې وورووه چې ونې پکې وده کوي.))[2].

### د میاشتې د لیدو دعا

«اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُمَّ أَهِلَّهُ عَلَيْنَا بِالأَمْنِ وَالإِيمَانِ، وَالسَّلَامَةِ وَالإِسْلَامِ، وَالتَّوْفِيقِ لِمَا تُحِبُّ رَبَّنَا وَتَرْضَى، رَبُّنَا وَرَبُّكَ اللَّهُ».

ژباړه: (الله تر ټولو لوی دی، ای الله! (دا میاشت) پر موږ د امنیت او ایمان، سلامتیا او اسلام او هغه عمل د کولو په فضا کې راوخېژوه چې ته یې خوښوې او پرې راضي کیږې، (ای میاشتې!) زموږ رب او ستا رب الله دی).[3]

### د روژه ماتي پر مهال دعا

«ذَهَبَ الظَّمَأُ وَابْتَلَّتِ العُرُوقُ، وَثَبَتَ الأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ».

---

[1] بخاري په: (205/1)کې په: 846 او مسلم په: (83/1)کې په:71 شمیره روایت کړی.

[2] بخاري په: (224/1) کې په: 933 او مسلم په: (614/2) کې په:897 شمیره روایت کړی.

[3] ترمذي په: (504/5)کې په:3451 شمیره روایت کړی، او دارمي په خپلو الفاظو په 336/1 کې روایت کړی او وګوره: صحیح الترمذي، 157/3.

ژباړه: (تنده لاړه، رګونه لانده شول او ان شاء الله چې اجر (د الله تعالی) سره يقيني شو).[1]

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِرَحْمَتِكَ الَّتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ أَنْ تَغْفِرَ لِي».

ژباړه: (ای الله! زه ستا څخه ستا په هغه رحمت سوال کوم چې هر شي ته شامل دی؛ چې ماته بخښنه وکړې).[2]

### له ډوډی څخه مخکې دعا

«إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ طَعَامًا فَلْيَقُلْ:

ژباړه: کله چې يو ستاسو ډوډی خوري نو ودې وايي:

بِسْمِ اللَّهِ،

بِسْمِ اللَّهِ

فَإِنْ نَسِيَ فِي أَوَّلِهِ فَلْيَقُلْ:

نو که په پيل کې ترې هېره شي، نو ودې وايي:

بِسْمِ اللَّهِ فِي أَوَّلِهِ وَآخِرِهِ».

ژباړه: د الله په نوم په پيل او پای کې.[3]

«مَنْ أَطْعَمَهُ اللَّهُ الطَّعَامَ فَلْيَقُلْ:

چاته چې الله خواړه ورکړل نو ودې وايي:

اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَأَطْعِمْنَا خَيْرًا مِنْهُ،

---

1 أبو داود په: 2/ 306 کې په: 2359 شميره روايت کړی او نورو هم او وګوره: صحيح الجامع، 209/4.

2 ابن ماجه په:(557/1) کې په:1753 کې د عبد الله بن عمرو –رضي الله عنهما- له دعا څخه روايت کړی او حافظ په: تخريج الأذكار کې راوړی دی، وګوره: شرح الأذكار، 342/4 .

3 أبو داود په: (347/3) کې په: 3767 شميره، او ترمذي په: (288/4) کې په:1858 شميره روايت کړی او وګوره: صحيح الترمذي، 167/2.

ژباړه: ای الله موږ ته پکې برکت واچوه او له دې غوره راکړه،

وَمَنْ سَقَاهُ اللَّهُ لَبَنًا فَلْيَقُلْ:

او چاته چې الله تعالی شېدې ورنصیب کړې نو ودې وایي:

اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَزِدْنَا مِنْهُ».

ژباړه: یا الله! موږ ته پکې برکت واچوه، او موږ ته ترې زیات راکړه.[1]

## د ډوډۍ خوړلو پسې دعا

«الحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هَذَا، وَرَزَقَنِيهِ، مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلَا قُوَّةٍ».

ژباړه: (الله لره ستاینه ده، هغه ذات چې دا خواړه یې راکړل او زما له کومې خوارۍ او ځواک پرته یې ماته راکړل).[2]

«الْحَمْدُ لِلَّهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ، غَيْرَ [مَكْفِيٍّ وَلَا] مُوَدَّعٍ، وَلَا مُسْتَغْنًى عَنْهُ رَبَّنَا».

ژباړه: الله لره زیاته، پاکیزه او مبارکه ستاینه ده، خو د هغه د حق پوره کېدونکې نه ده، او موږ د دې ستاینې پرېښودونکي نه یو، او هېڅکله موږ د خپل رب څخه مستغني کېدونکي نه یو، هغه زموږ رب دی.[3]

---

1 ترمذي په: (506/5)کې په:3455 شمیره روایت کړی او وګوره: صحیح الترمذي،(158/3).

2 له نسائي پرته اصحاب السنن روایت کړی: ابو داود په: 4025 او ترمذي په: 3458 شمیره او ابن ماجه، په: 3285 شمیره روایت کړی او وګوره: صحیح الترمذي، 159/3.

3 بخاري په: (214/6) کې په: 5458 شمیره روایت کړی او ترمذي په خپلو الفاظو په:(507/5) کې په: 3456 شمیره روایت کړی.

### د میلمه له خوا کوربه ته دعا

«اللَّهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِيمَا رَزَقْتَهُم، وَاغْفِرْ لَهُمْ وَارْحَمْهُمْ».
ژباړه: "ای الله دوی ته په هغه څه کې برکت واچوه چې تا دوی ته ورکړي، دوی ته بخښنه وکړه او رحم پرې وکړه."[1]

### په دعا سره له یو چا د خوراک او یا څښاک غوښتنه

«اللَّهُمَّ أَطْعِمْ مَنْ أَطْعَمَنِي، وَاسْقِ مَنْ سَقَانِي».
ژباړه: ای الله! هغه چاته خواړه ورکړه چې ماته یې خواړه راکړل، او هغه چاته څښاک ورکړه چې ماته یې څښاک راکړل.[2]

### کوربه ته له روژه ماتې وروسته دعا

«أَفْطَرَ عِنْدَكُمُ الصَّائِمُونَ، وَأَكَلَ طَعَامَكُمُ الأَبْرَارُ، وَصَلَّتْ عَلَيْكُمُ المَلَائِكَةُ».
ژباړه: روژه لرونکي دې درکره روژه ماته کړي، او ستاسو خواړه دې نېکان وخوري، او پرېښتو دې درته د دعا غوښتنه وکړي.[3]

---

1 مسلم په:(1615/3) کې په: 2042 شمیره روایت کړی.
2 مسلم په: (1626/3) کې په 2055 شمیره روایت کړی.
3 سنن أبي داود په (367/3) کې په: (3856)، او ابن ماجه په: (556/1) کې په: (1747) او نسائي په: عمل الیوم واللیلة په: (296-298) شمیرو روایت کړی دی، او صراحت یې کړی چې رسول الله ﷺ به دا دعا هغه مهال ویله چې کله به یې د خپلې کورنۍ سره روژه ماتی کاوه او الباني په صحیح أبي داود (730/2) کې صحیح ګڼلی دی.

### د روژه دار دعا کله چې خواړه تيار وي او روژه يې نه وي ماته کړې

«إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ فَلْيُجِبْ، فَإِنْ كَانَ صَائِمًا فَلْيُصَلِّ، وَإِنْ كَانَ مُفْطِرًا فَلْيَطْعَمْ»،

((کله چې ستاسو څخه څوک دعوت شي، نو بلنه دې ومني. نو که روژه و دعا دې وکړي، او که بوزه و نو خوراک دې وکړي))[1]

او د : فَلْيُصَلِّ معنا ده: دعا دې وکړي.

### که يو څوک روژه دار ته سپکې ووايي نو هغه به څه وايي؟

«إِنِّي صَائِمٌ، إِنِّي صَائِمٌ».

ژباړه: (زه روژه يم، زه روژه يم).[2]

### د لومړي پخې شوې مېوې د ليدلو پر مهال دعا

«اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي ثَمَرِنَا، وَبَارِكْ لَنَا فِي مَدِينَتِنَا، وَبَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا، وَبَارِكْ لَنَا فِي مُدِّنَا».

ژباړه: «يا الله! موږ ته زموږ په مېوو کې برکت واچوه، او موږ ته زموږ په ښار کې برکت واچوه، او موږ ته زموږ په پيمانه او ليه کې برکت واچوه».[3]

---

[1] مسلم په: (1054/2) کې په: 1150 شميره روايت کړې.

[2] بخاري د الفتح سره په:(103/4)کې په: 1894، او مسلم په: (806/2) کې په: 1151 شميره روايت کړې دی.

[3] مسلم په:(1000/2) کې په:1373شميره روايت کړې.

## د پرنجي دعا

«إِذَا عَطَسَ أَحَدُكُم فَلْيَقُلِ:
كله چې په تاسو کې چا پرنجی وکړ نو ودې وايي:
الحَمْدُ لِلَّهِ،
ژباړه: الله لره ثنا او صفت دی،
وَلْيَقُلْ لَهُ أَخُوهُ أَوْ صَاحِبُهُ:
او د هغه ورور يا ملګری دې ورته ووايي:
يَرْحَمُكَ اللَّهُ،
ژباړه: الله دې درباندې رحم وکړي،
فَإِذَا قَالَ لَهُ: يَرحَمُكَ اللَّهُ، فَلْيَقُلْ:
نو کله چې «يَرحَمُكَ اللَّهُ» ورته ووايي: دی دې وايي:
يَهْدِيكُمُ اللَّهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُم».
ژباړه: «الله دې تاسو ته هدايت وکړي او ستاسو چارې دې سمې کړي».[1]

### کافر ته څه ويل کيږي، چې کله پرنجی وکړي او الحمد لله ووايي:

«يَهْدِيكُمُ اللَّهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ».
ژباړه: «الله دې تاسو ته هدايت وکړي او ستاسو چارې دې سمې کړي».[2]

---

[1] بخاري په: (125/7) کې په: 5870 شميره روايت کړی.
[2] ترمذي په:(82/5) کې په:2741 او أحمد په: (400/4) کې په: 19586 او أبو داود په:(308/4) کې په: 5040 شميره روايت کړی او وګوره: صحيح الترمذي، 354/2.

### د واده شوي لپاره دعا

«بَارَكَ اللَّهُ لَكَ، وَبَارَكَ عَلَيْكَ، وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِي خَيْرٍ».

ژباړه: «الله دې تاته برکت درکړي، او الله دې درباندې برکت وکړي، او الله دې تاسو دواړه په خېر سره یو ځای کړي».[1]

### د واده شوي کس او څاروي پېرلو دعا

کله چې ستاسو څخه یو تن له یوې ښځې سره واده وکړي، او یا غلام واخلي نو ودې وایي:

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا، وَخَيْرَ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا، وَشَرِّ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ،

ژباړه: (ای الله! ستا څخه یې خیر غواړم او د هغه خوی خیر چې تا پرې پیدا کړې ده، او پر تا یې له شر څخه پناه غواړم او د هغه خوی له شر څخه چې تا پرې پیدا کړې ده)

وَإِذَا اشْتَرَى بَعِيرًا فَلْيَأْخُذْ بِذِرْوَةِ سَنَامِهِ وَلْيَقُلْ مِثْلَ ذَلِكَ».

«او که چېرته یې اوښ پیرلی و نو د هغه د کوهې (بوقان) سر دې ونیسي او همدا دعا دې ووایي.».[2]

### ښځې سره له یو ځای کېدو نه مخکې دعا

«بِسْمِ اللَّهِ، اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ، وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا».

---

[1] له نسائي پرته اصحاب السنن روایت کړی: ابو داود په: 2130، ترمذي په: 1091، ابن ماجه په: 1905 او نسائي په: عمل الیوم واللیلة کې په: 259 شمیره روایت کړی او وګوره:صحیح الترمذي، 316/1.

[2] أبو داود په:(248/2) کې په 2160 او ابن ماجه په: (617/1) کې: 1918 شمیره روایت کړی، او وګوره: صحیح ابن ماجه، 324/1.

ژباړه: ((د الله په نوم، ای الله، موږ له شيطان څخه لرې لره، او شيطان له هغه څه څخه لرې لره چې تا موږ ته راکړی دی)).[1]

### د غصې پر مهال دعا

«أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ».

ژباړه: زه له رټل شوي شيطان نه په الله تعالی پورې پناه نيسم.[2]

### د مصيبت ځپلي شخص د ليدو پر مهال دعا

«الحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي عَافَانِي مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهِ، وَفَضَّلَنِي عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيلًا».

ژباړه: «الله لره ستاينه ده چې زه يې له هغه څه څخه ژغورلی يم چې ته يې پرې ګرفتار کړی يې، او ماته يې په ډېرو هغو فضيلت راکړی چې پيدا کړي يې دي».[3]

## 84. هغه څه چې په مجلس کې ويل کيږي

له ابن عمر رضی الله عنه څخه روايت دی وايي چې: مخکې له دې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له يو مجلس

---

1 بخاري، (141/6)، په: 141، او مسلم په: (1028/2) کې په: 1434 شميره روايت کړی دی.

2 بخاري په: (99/7)کې: 3282 شميره او مسلم په: (2015/4) په: 2610 شميره روايت کړی دی.

3 ترمذي، (494/5)، و(493/5)، په: 3432 شميره روايت کړی او وګوره: صحيح الترمذي، (153/3).

ثخه پاڅیږي نو، نږدې سل ځلې به پسې شمېرل کېدل (چې ویل به يې):

«رَبِّ اغْفِرْ لِي، وَتُبْ عَلَيَّ، إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الغَفُورُ».

ژباړه: (ای ربه، ما ته بخښنه وکړه، او زما توبه قبوله کړه، ځکه ته ډیر بخښونکی یې).[1]

### د مجلس كفاره

«سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ».

ژباړه: ای الله ته پاک يې او تا لره ستاینه ده، زه شاهدي ورکوم چې له تا پرته بل معبود نشته، زه ستا څخه بخښنه غواړم او تاته توبه کوم.[2]

### د هغه چا لپاره دعا چې ووايي: الله دې تاته بخښنه وکړي

«وَلَكَ».

1 ترمذي په: 3434 او ابن ماجه په: 3814 شمېره روایت کړی او وګوره: صحيح الترمذي، (153/3) او صحيح ابن ماجه، (321/2)، او الفاظ يې د ترمذي دي.

2 أصحاب السنن روایت کړی: أبو داود په: 4858، ترمذي په: 3433، او نسائي په: 1344 شمېره روایت کړی او وګوره: صحيح الترمذي 153/3، او ثابت دي چې عائشې رضي الله عنها ويلي: «رسول الله صلی الله علیه وسلم هېڅ ناسته نه ده کړې، او نه يې قرآن تلاوت کړی او نه يې داسې کوم لمونځ کړی پرته له دې چې په دې کلماتو سره يې پای ته رسولی وي...» حديث نسائي په: عمل اليوم والليلة کې په: 308 شمیره، أحمد په: 77/6 کې په: 24486 شمیره روایت کړی او دکتور فاروق حمادة د نسائي د عمل اليوم والليلة په تحقيق کې په 273 مخ کې صحيح ګڼلی دی.

((او تاته هم))[1].

### هغه چاته دعا چې نیکي یې درسره کړې وي

«جَزَاكَ اللَّهُ خَيْرًا».

ژباړه: الله تعالی دې تاته نېکه بدله درکړي.[2].

### هغه څه چې الله تعالی پرې انسان له دجال څخه ژغوري

«مَنْ حَفِظَ عَشْرَ آيَاتٍ مِنْ أَوَّلِ سُورَةِ الْكَهْفِ عُصِمَ مِنَ الدَّجَّالِ»،
«څوک چې د الکهف سورت له پیل نه لس آیتونه حفظ کړي، له دجال څخه به خوندي پاتې شي»[3]،

او په الله تعالی د هغه له فتنې څخه په هر لمانځه کې د وروستي تشهد پسې پناه غوښتل کیږي[4].

### هغه چاته دعا چې ووايي: د الله لپاره درسره مینه لرم

«أَحَبَّكَ الَّذِي أَحْبَبْتَنِي لَهُ».

ژباړه: «هغه ذات دې تاسره محبت وکړي چې د هغه لپاره زما سره محبت کوې».[5].

---

1 أحمد په: (82/5) کې په: 20778 شمیره روایت کړی، او نسائي په: عمل الیوم واللیلة کې په: 218 مخ کې په: 421 شمیره روایت کړی، د دکتور فاروق حمادة تحقیق.

2 ترمذي په: 2035 شمیره روایت کړی او وګوره: صحیح الجامع، 6244 شمیره او صحیح الترمذي، 200/2 شمیره.

3 وګوره: 55 او 56 شمیره حدیثونه د دې کتاب 41مخ.

4 مسلم په: (555/1) کې په:809 شمیره روایت کړی او په یو بل روایت کې راځي چې د الکهف له سورت څخه(556/1) 809 شمیره.

5 أبو داود په: (333/4) کې په:5125 شمیره روایت کړی او ألباني په: صحیح سنن أبي داود، 965/3 کې حسن ګڼلی دی.

### هغه چاته دعا چې خپل مال درته وړاندې کړي (ست او سلا يې درته وکړي).

«بَارَكَ اللَّهُ لَكَ فِي أَهْلِكَ وَمَالِكَ».
ژباړه: «الله تعالی دې ستا په اهل او مال کې برکت واچوي»[1].

### د پور پرې کولو پر مهال پور ورکوونکي ته دعا

«بارَكَ اللَّهُ لَكَ فِي أَهْلِكَ وَمَالِكَ، إِنَّمَا جَزَاءُ السَّلَفِ الحَمْدُ وَالأَدَاءُ».
ژباړه: «الله تعالی دې تاته ستا په اهل او مال کې برکت واچوي، د پور ورکوونکي بدله دا ده چې وستايل شي او پور يې بېرته پرې کړل شي».[2].

### له شرک څخه د وېرې دعا

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أُشْرِكَ بِكَ وَأَنَا أَعْلَمُ، وَأَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لَا أَعْلَمُ».
ژباړه: (ای الله زه تاته له دې پناه دروړم چې تا سره څه شی شريک کړم په داسې حال کې چې زه پوهېږم، او له تا څخه د هغه څه بخښنه غواړم چې زه پرې نه پوهېږم)[3].

---

1 بخاري د الفتح سره په:(288/4) کې په: 2049 شمیره روایت کړی.
2 نسائي په: عمل اليوم والليلة کې په:300 مخ کې روایت کړی او ابن ماجه په: (809/2)مخ کې په: 2424 شمیره روایت کړی او وګوره: 55/2.
3 أحمد په:(403/4) کې په: 19606 شمیره روایت کړی او أدب المفرد د بخاري په: 716 شمیره او وګورئ: صحيح الجامع، 233/3 او صحيح الترغيب والترهيب د ألباني، 19/1 .

***هغه چاته دعا چې: (بَارَكَ اللَّهُ فِيكَ) يې ووېل: يعنې الله دې تاته برکت درکړي.***

«وَفِيكَ بَارَكَ اللَّهُ».

ژباړه: الله دې تاته هم برکت درکړي.[1]

***د بد فالۍ څخه د کرکې دعا***

«اللَّهُمَّ لَا طَيْرَ إِلَّا طَيْرُكَ، وَلَا خَيْرَ إِلَّا خَيْرُكَ، وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ».

ژباړه: اى الله! هېڅ (برخليک) نشته مګر ستا لخوا ټاکل شوى برخليک، او هېڅ خير نشته مګر ستا له لوري، او له تا پرته بل هېڅ حق معبود نشته.[2]

***په سپرلۍ د سپرېدو دعا***

«بِسْمِ اللَّهِ، وَالحَمْدُ لِلَّهِ

ژباړه: د الله په نوم، او ستاينه الله لره ده

﴿سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ

---

1 ابن السني روايت کړى 138 مخ په: 278 شميره او وګوره: الوابل الصيب د ابن القيم، 304 مخ، د: بشير محمد عيون تحقيق.

2 أحمد په:(220/2) کې په: 7045 شميره روايت کړى او ابن السني په: 292 شميره، او ألباني په: سلسلة الأحاديث الصحيحة کې په: 54/3 کې 1065 شميره روايت کړى، او نيک فال به د پېغمبر صلى الله عليه وسلم خوښېده؛ له دې امله، کله يې چې د يوه سړي له خولې ښه وينا واورېده خوښه يې شوه او ويې ويل: «ستا له خولې مو خوشبيني واخېسته»، أبو داود په: 3719 او أحمد په: 9040 شميره روايت کړى، او الباني په سلسلة الأحاديث الصحيحة کې د أبو الشيخ سره په أخلاق النبي صلى الله عليه وسلم کې په: 363/2 صحيح ګڼلى 270 مخ.

ژباړه: پاکي ده هغه ذات لره چې زمونږ لپاره يې دا مسخر (او تابع) کړې دی او مونږ ده لره په قابو کې راوستونکي نه يو.
وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ﴾،
او په ريښتيا مونږ د خپل رب لور ته ورګرځېدونکي يو.
الحَمْدُ لِلَّهِ، الحَمْدُ لِلَّهِ، الحَمْدُ لِلَّهِ، اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ، سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي؛ فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ».
ژباړه: الله لره ستاينه ده، الله لره ستاينه ده، الله لره ستاينه ده، الله تر ټولو ستر دی، الله تر ټولو ستر دی، الله تر ټولو ستر دی، پاکي ده تا لره ای الله! ما د خپل ځان سره ظلم کړی، نو ماته بخښنه وکړه، يقينا چې له تا پرته بل څوک ګناهونه نه شي بخښلی، مګر همدا ته يې.[1].

### ۹۶. د سفر دعا

«اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ،
الله تر ټولو لوی دی، الله تر ټولو لوی دی،
سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ
ژباړه: پاکي ده هغه ذات لره چې زمونږ لپاره يې دا مسخر (او تابع) کړې دی او مونږ ده لره په قابو کې راوستونکي نه يو.
وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ،

---

[1] أبو داود په: (3/34) کې په: 2602 شميره، او ترمذي په: (5/501) کې په: 3446 شميره روايت کړې او وګوره: صحيح الترمذي، 3/156، الزخرف سورت [13- 14].

او بېشکه موږ خاص خپل رب ته خامخا بېرته ورتلونکي يو.
اللَّهُمَّ إِنّا نَسْأَلُكَ فِي سَفَرِنَا هَذَا البِرَّ وَالتَّقْوَى، وَمِنَ العَمَلِ مَا تَرْضَى، اللَّهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا سَفَرَنَا هَذَا وَاطْوِ عَنَّا بُعْدَهُ، اللَّهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ، وَالخَلِيفَةُ فِي الأَهْلِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ، وَكَآبَةِ المَنْظَرِ، وَسُوءِ المُنْقَلَبِ فِي المَالِ وَالأَهْلِ»،
ژباړه: ((ای الله! موږ په دې سفر کې ستا څخه د نیکی، تقوا او هغو کارونو (د توفیق) سوال کوو چې ته يې خوښوې، ای الله! زموږ دا سفر زموږ لپاره اسانه کړه او واټن يې زموږ لپاره رالنډ کړه. ای الله! ته په سفر کې ملګری او د کورنی ساتونکی يې، ای الله! زه د سفر له سختيو او کړاونو، د غمجنو مناظرو د ليدو، او له بدو پېښو څخه چې زما مال او کورنی ته متوجه کيږي تاته پناه دروړم».
او د راګرځيدو پر مهال به همدا کلمې وايي او دا به پکې زياتوي:
«آيِبُونَ، تائِبُونَ، عَابِدُونَ، لِرَبِّنَا حَامِدُونَ».
ژباړه: (موږ په خير سره ستنېدونکي، له ګناهونو څخه توبه کوونکي، د الله خاص عبادت کوونکي، او خپل رب لره ثنا ويونکي يو).[1].

### کلي يا ښار ته د ننوتلو دعا

«اللَّهُمَّ رَبَّ السَّمَوَاتِ السَّبْعِ وَمَا أَظْلَلْنَ، وَرَبَّ الأَرَضِينَ السَّبْعِ وَمَا أَقْلَلْنَ، وَرَبَّ الشَّيَاطِينِ وَمَا أَضْلَلْنَ، وَرَبَّ الرِّيَاحِ وَمَا ذَرَيْنَ،

[1] مسلم په:(978/2) کې په: 1342 شميره روايت کړی.

أَسْأَلُكَ خَيْرَ هَذِهِ الْقَرْيَةِ، وَخَيْرَ أَهْلِهَا، وَخَيْرَ مَا فِيهَا، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا، وَشَرِّ أَهْلِهَا، وَشَرِّ مَا فِيهَا».

ژباړه: "ای الله! د اوو آسمانونو او هر هغه څه ربه چې د آسمانونو تر سيوري لاندې دي، د اوو ځمکو او هر هغه څه ربه چې پر دې ځمکو باندې دي، د شيطانانو او هر هغه څه ربه چې هغوی ګمراه کړي دي، د بادونو او هر هغه څه ربه چې بادونه يې وړي راوړي؛ زه له تا څخه د دې ښار، د دې ښار د خلکو او هغه څه خېر غواړم چې د دې شيانو تر منځه دي، او د دې ښار، د دې ښار د خلکو او هغه څه له شر څخه پناه درورم چې د دې شيانو تر منځه دي."[1].

***بازار ته د ننوتلو دعا***

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ، وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ».

ژباړه: له الله پرته بل حق معبود نشته، هغه يو دی، شريک نه لري، پادشاهي هغه لره ده، او ستاينه هم د هغه لپاره ده، ژوند او مرګ ورکوي، حال دا چې خپله ژوندی دی او مرګ

[1] حاکم روايت کړی او صحيح ګڼلی او ذهبی ورسره موافق دی، 100/2، او ابن السني په: 524 شميره روايت کړی او حافظ په: تخريج الأذكار، 154/5 کې حسن ګڼلی دی، علامة ابن باز –رحمه الله- ويلي : ((او نسائي په حسن اسناد سره روايت کړی)). وګوره: تحفة الأخيار، 37 مخ.

نه لري، په لاس کې يې خير دی، او هغه پر هر څه قادر دی».[1]

### د سپرلی د بې ثباته کېدو پر مهال دعا

«بِسْمِ اللَّهِ».
(پيل کوم د الله په نوم).[2]

### مقيم ته د مسافر دعا

«أَسْتَوْدِعُكُمُ اللَّهَ الَّذِي لَا تَضِيعُ وَدَائِعُهُ».
ژباړه: زه تاسو په هغه الله سپارم چې د هغه سره سپارنې نه ضايع کيږي.[3]

### مسافر ته د مقيم دعا

«أَسْتَوْدِعُ اللَّهَ دِينَكَ، وَأَمَانَتَكَ، وَخَوَاتِيمَ عَمَلِكَ».
ژباړه: «زه ستا دين، امانت او د کار پايلې الله ته سپارم».[4]
«زَوَّدَكَ اللَّهُ التَّقْوَى، وَغَفَرَ ذَنْبَكَ، وَيَسَّرَ لَكَ الخَيْرَ حَيْثُ ما كُنْتَ».

---

[1] ترمذي په: 3428، او ابن ماجه په: (291/5) کې په: 3860 او حاکم په: 538/1 کې روايت کړی او الباني په صحيح ابن ماجه کې حسن بللی دی، 21/2، او په صحيح الترمذي کې: 152/3.
[2] أبو داود په: (296/4) کې په: 4982 شميره روايت کړی او ألباني په: صحيح أبي داود کې په: 941/3 شمېره صحيح بللی دی.
[3] أحمد په: (403/2) کې په: 9230، او ابن ماجه په: (943/2) کې په: 2825 شميره روايت کړی او وګوره: صحيح ابن ماجه، 133/2 .
[4] أحمد په: (7/2) کې په: 4524 او ترمذي په: 499/5 کې په: 3443 شميره روايت کړی او الباني په: صحيح سنن الترمذي (419/3).کې صحيح بللی دی.

ژباړه: (الله تعالی دې تقوا درکړي، ستا ګناهونه دې وبخښي، او ستاسو لپاره دې نېکي اسانه کړي په هر ځای کې چې یاست).[1].

### *په سفرکې د تګ پر مهال تکبیر او تسبیح*

جابر رضي الله عنه وايي: «موږ به چې کله پورته کېدو، نو تکبیر به مو وایه» وايي: (الله اکبر) او چې کله به چې ښکته کېدو، نو تسبیح به مو وایه.»[2].

وايي: پاکي الله لره ده

### *په سهارکې د مسافر دعا*

«سَمَّعَ سَامِعٌ بِحَمْدِ اللَّهِ، وَحُسْنِ بَلَائِهِ عَلَيْنَا، رَبَّنَا صاحِبْنَا، وَأَفْضِلْ عَلَيْنَا، عَائِذًا بِاللَّهِ مِنَ النَّارِ».

ژباړه: "اورووونکی دې زموږ له خوا نورو ته د الله ستاینه ور واوروي، د هغه د ښایسته احساناتو او نعمتونو له امله چې پر موږ یې کړي دي، ای زموږ ربه! ته مو مل او ساتونکی شه او پر موږ دې خپله لورینه راولیږه، زه په الله له اور څخه پناه غواړم."[3].

---

[1] ترمذي په: 3444 شمیره روایت کړی او وګوره: صحیح الترمذي، 155/3.

[2] بخاري د الفتح سره په: (135/6) کې په: 2993 شمیره روایت کړی.

[3] مسلم په: (2086/4) کې په: 2718 شمیره روایت کړی، او سَمعَ سامِعٌ: معنا دا ده چې: ګواهي ورکوونکي الله تعالی لره زموږ په ستاینه ګواهي ورکړه او پر هغو نعمتونو چې پر موږ یې کړي دي، او دا چې پر موږ یې ښایسته لورینې کړي دي او د: سَمَّعَ سامِعٌ معنا ده: اورووونکی زما دا وینا

### په سفر او یا بل څه کې په یو ځای کې د استوګن کېدو پر مهال دعا

«أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ».
ژباړه: (د الله په بشپړو کلمو سره پناه نیسم د هر هغه شي له شر څخه چې هغه پیدا کړي)[1].

### له سفر څخه د راستنیدو دعا

«يُكَبِّرُ عَلَى كُلِّ شَرَفٍ ثَلَاثَ تَكْبِيرَاتٍ ثُمَّ يَقُولُ:
«په هر لوړ ځای درې ځلې تکبیر وایي، بیا وایي:
لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، آيِبُونَ، تَائِبُونَ، عَابِدُونَ، لِرَبِّنا حَامِدُونَ، صَدَقَ اللَّهُ وَعْدَهُ، وَنَصرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الأَحْزابَ وَحْدَهُ».
ژباړه: "له الله پرته بل حق معبود نشته، هغه یو دی، شریک نه لري، هغه لره پاچاهي ده، ستاینه هغه لره ده او هغه پر هر څه قادر دی، موږ بیرته راګرځېدونکي، توبه کوونکي، عبادت کوونکي او د خپل رب ستاینه کوونکي یو. الله خپله ژمنه پوره کړه، د خپل بنده مرسته یې وکړه او یوازې یې ډلو ته ماتې ورکړه"[2].

---

نورو ته رسوي، دا یې سهار مهال ذکر او دعا ته د پاملرنې په موخه ویلي دي. پر مسلم د نووي شرحه: 39/17.
[1] مسلم په: (2080/4) کې په: 2709 شمیره روایت کړی.
[2] رسول الله صلی الله علیه وسلم به دا دعا له غزا او یا حج څخه د راګرځېدو پر مهال ویله، بخاري په (163/7) کې په (1797) او مسلم په (980/2) کې په (1344) شمیره روایت کړی دی.

### د خوښۍ یا نا خوښۍ کار ترسره کېدو پر مهال څه باید ووايي؟

کله چې به رسول الله صلی الله علیه وسلم ته کومه د خوښۍ چاره رامخې ته شوه نو ویل به یې:

«الحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي بِنِعْمَتِهِ تَتِمُّ الصَّالِحَاتُ»

ژباړه: الله لره ستاینه ده؛ هغه ذات چې په لورینه یې د خېر کارونه بشپړېږي

او کله به چې داسې یو څه پېښ شول چې نه به یې خوښېده نو ویل به یې:

«الحَمْدُ لِلَّهِ عَلَى كُلِّ حَالٍ».

ژباړه: په هر حالت کې الله لره ستاینه ده.[1].

### ۱۰۷. په رسول الله صلی الله علیه وسلم د درود ویلو فضیلت

پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ بِهَا عَشْرًا».

ژباړه: ((چا چې پر ما یو ځل درود ووایه، الله تعالی به یې پرې لس ځلې ووايي))[2]. لکه داسې چې ووايي: ای الله درود او سلامتیا دې زموږ پر نبي محمد - صلی الله علیه وسلم - نازله کړه.

او هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

---

[1] ابن السني په: عمل الیوم واللیلة کې په:377 شمیره او حاکم روایت کړی او صحیح کړی یې دی 1/499، همدارنګه الباني په صحیح الجامع 4/201 کې صحیح بللی دی.

[2] مسلم په: (1/288)کې په: 384 شمیره روایت کړی.

«لَا تَجْعَلُوا قَبْرِي عِيدًا وَصَلُّوا عَلَيَّ؛ فَإِنَّ صَلَاتَكُم تَبْلُغُنِي حَيْثُ كُنْتُمْ».
ژباړه: زما قبر د بار بار تلو راتلو ځای مه جوړوئ او پر ما درود ووایئ؛ یقینا چې ستاسو درود له هر ځایه ماته رارسیږي»[1].
او هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
«البَخِيلُ مَنْ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ».
ژباړه: «بخیل هغه څوک دی چې زه یې په وړاندې یاد شم او درود رانه وایي»[2].
او هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
«إِنَّ لِلَّهِ مَلَائِكَةً سَيَّاحِينَ فِي الأَرْضِ يُبَلِّغُونِي مِنْ أُمَّتِي السَّلَامَ».
ژباړه: «الله -تعالی- داسې ملائکې لري چې په ځمکه کې ګرځي او زما له امت څخه ماته سلام رارسوي»[3].
او هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
«مَا مِنْ أَحَدٍ يُسَلِّمُ عَلَيَّ إِلَّا رَدَّ اللَّهُ عَلَيَّ رُوحِيَ حَتَّى أَرُدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ».

---

1 أبو داود په: (218/2) کې په:2044 او أحمد په: (367/2) کې په: 8804 شمیره روایت کړی او الباني په: صحیح أبي داود 383/2 کې روایت کړی دی.
2 ترمذي په: (551/5) کې په: 3546 شمیره او نورو روایت کړی او وګوره: صحیح الجامع، 25/3، او صحیح الترمذي، 177/3.
3 نسائي په: 3/ 43 کې په: 1282 شمیره او حاکم په: 421/2 کې روایت کړی او الباني په: صحیح النسائي 274/1 کې روایت کړی.

«هېڅوک پر ما سلام نه اچوي مګر دا چې الله تعالی ماته زما روح راګرځوي چې ځواب يې ورکړم».[1]

### سلام خپرول

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

«لَا تَدْخُلُوا الجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا، وَلَا تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا، أَوَلَا أَدُلُّكُم عَلَى شَيْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُم، أَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ».

ژباړه: «تاسو به جنت ته داخل نه شئ تر څو مو ايمان نه وي راوړی، او تر هغه به مؤمنان نه شئ تر څو چې له يو بل سره مينه ونه لرئ، آيا زه تاسې ته د داسې يو څه لارښوونه ونه کړم چې که چېرته مو وکړ نو مينه به مو سره پيدا شي؟ په خپلو کې سلام خپور کړئ».[2]

«ثَلَاثٌ مَنْ جَمَعَهُنَّ فَقَدْ جَمَعَ الإِيمَانَ: الإِنْصَافُ مِنْ نَفْسِكَ، وَبَذْلُ السَّلَامِ لِلْعَالَمِ، وَالإِنْفَاقُ مِنَ الإِقْتَارِ».

ژباړه: «درې ښويونه دي چې په چا کې راټول شول، نو ايمان يې پوره شو: د خپل ځان باره کې انصاف، ټول عالم ته سلام کول، او په تنګلاسی کې صدقه ورکول».[3]

---

1 أبو داود په:2041 شميره روايت کړی او الباني په: صحيح أبي داود کې روايت کړی 383/1.

2 مسلم په: (74/1) کې په: 54 او أحمد په: 1430 شميره روايت کړی او الفاظ د همده دي، او د مسلم الفاظ داسې دي: ((لا تدخلون...)).

3 بخاري د الفتح سره: (82/1) کې په: 28 شميره له عمار -رضي الله عنه- څخه موقوف معلق روايت کړی.

د عبدالله بن عمر -رضي الله عنهما- څخه روايت دی چې يو سړي له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې کوم اسلام غوره دی، هغه وفرمايل چې:

«تُطْعِمُ الطَّعَامَ، وَتَقْرَأُ السَّلَامَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ».

«خلکو ته خواړه ورکړې او پر هغه چا سلام واچوې چې ته يې پېژنې او يا يې نه پېژنې»[1].

### کله چې کافر سلام وکړي نو څنګه به د سلام ځواب ورکوې؟

«إِذَا سَلَّمَ عَلَيْكُمْ أَهْلُ الكِتَابِ فَقُولُوا: وَعَلَيْكُمْ».

((کله چې درباندې اهل کتاب سلام واچوي نو ووايئ: "وعليکم"[2] يعنې او پر تاسو."

### د چرګ د آذان او د خره د هنګارې پر مهال دعا

«إِذَا سَمِعْتُمْ صِيَاحَ الدِّيَكَةِ فَاسْأَلُوا اللَّهَ مِنْ فَضْلِهِ؛ فَإِنَّهَا رَأَتْ مَلَكًا،

«کله چې د چرګ آذان واورئ، نو د الله له فضله دعا وغواړئ، ځکه چې هغه پرښته ليدلې ده،

لکه دا چې ووايې: ژباړه: (اې الله، زه ستا څخه ستا د فضل سوال کوم)

وَإِذَا سَمِعْتُمْ نَهِيقَ الحِمَارِ فَتَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنَ الشَّيطَانِ؛ فَإِنَّهُ رَأَى شَيْطَانًا».

---

1 بخاري د الفتح سره په: (55/1) کې په: 12 شميره او مسلم په: 1(65/1) کې په: 39 شميره روايت کړی.

2 بخاري د الفتح سره په: (42/11) کې په: 6258 شميره او مسلم په: (1705/4) کې په: 2163 شميره روايت کړی.

"او کله چې د خره هنګارې واورئ، نو پر الله تعالی له شیطان څخه پناه وغواړئ، ځکه چې هغه شیطان لیدلی دی.»[1]." لکه دا چې وواېي: ژباړه: زه له رټل شوي شیطان نه په الله تعالی پورې پناه نیسم.

### *د شپې له خوا د سپيو د غپا د اورېدو دعا*

«إِذَا سَمِعْتُمْ نُبَاحَ الكِلَابِ وَنَهِيقَ الحَمِيرِ بِاللَّيْلِ فَتَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنْهُنَّ؛ فَإِنَّهُنَّ يَرَيْنَ مَا لَا تَرَوْنَ».

ژباړه: ((کله چې د شپې د سپيو غپا او د خرو هنګارې واورئ، نو له دوی څخه په الله پناه وغواړئ، ځکه چې دوی هغه څه ګوري چې تاسو يې نه ګورئ))[2].

لکه دا چې وواېي: ژباړه: زه له رټل شوي شیطان نه په الله تعالی پورې پناه نیسم."

### *هغه چاته دعا چې کنځلې دې ورته کړې وي*

پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«اللَّهُمَّ فَأَيُّمَا مُؤْمِنٍ سَبَبْتُهُ فَاجْعَلْ ذَلِكَ لَهُ قُرْبَةً إِلَيْكَ يَوْمَ القِيَامَةِ».

---

[1] بخاري د الفتح سره په: (350/6) کې په: 3303 شميره روايت کړی او مسلم په: (2092/4) کې په: 2729 شميره روايت کړی.

[2] أبو داود په: (327/4)کې په:5105 شميره او أحمد په: (306/3) کې په: 14283شميره روايت کړی او ألباني په: صحيح أبي داود کې په: 961/3 روايت کړی.

"ای الله! که ما کوم مؤمن ته سپکې سپورې ویلي وي نو دا ورته د قیامت په ورځ ستا له لوري د نږدیوالي لپاره یو سبب وګرځوه.[1]."

### *کله چې یو مسلمان بل مسلمان وستایي نو هغه به څه وایي*

پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«إِذَا كَانَ أَحَدُكُم مَادِحًا صَاحِبَهُ لَا مَحَالَةَ فَلْيَقُلْ: أَحْسِبُ فُلَانًا وَاللَّهُ حَسِيبُهُ، وَلَا أُزَكِّي عَلَى اللَّهِ أَحَدًا، أَحْسِبُهُ -إِنْ كَانَ يَعْلَمُ ذَاكَ - كَذَا وَكَذَا».

"''که چېرته ستاسو څخه یو تن خامخا د خپل ملګرې ستاینه کوله نو ودې وایي، ګمان کوم چې فلانی داسې او داسې دی (ښه انسان دی) او الله تعالی یې (د ټولو عملونو) محاسبه کوونکی دی، او زه د الله تعالی په وړاندې د هیچا د سپېڅلتیا ادعا نه کوم، زه یې په اړه ګمان کوم - که چېرته پرې پوهیږي– چې فلانی داسې او داسې دی."[2]."

### *مسلمان به څه وایي، کله یې چې تزکیه وشي*

«اللَّهُمَّ لَا تُؤَاخِذْنِي بِمَا يَقُولُونَ، وَاغْفِرْ لِي مَا لَا يَعْلَمُونَ، [وَاجْعَلْنِي خَيْرًا مِمَّا يَظُنُّونَ]».

---

[1] بخاري د الفتح سره په: (171/11) کې په: 6361 شمیره روایت کړی، او مسلم په: 2007/4 کې په:396 شمیره روایت کړی او الفاظ یې داسې دي: ((فاجعلها له زكاةً ورحمةً)) نو دا د هغه لپاره د پاکوالي او رحمت سبب وګرځوه.

[2] مسلم په: (2296/4) کې په:3000 شمیره روایت کړی.

ژباړه: "ای الله! ما په هغه څه مه نیسه چې خلک یې زما په اړه وایي، او هغه (ګناهونه) راته وبخښه چې دوی پرې نه پوهیږي، او ما له هغه څه غوره وګرځوه چې دوی یې زما په اړه ګمان کوي!"[1].

### *مُحرم به د حج یا عمرې پر مهال څنګه تلبیه وایي؟*

«لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الحَمْدَ، وَالنِّعْمَةَ، لَكَ وَالمُلْكَ، لَا شَرِيكَ لَكَ».

ژباړه: «زه حاضر یم ای لویه څښتنه! زه حاضر یم تا لره هیڅ شریک نشته، یقینا چې ټول تعریفونه او نعمتونه تا لره دي، او پاچاهي تا لره ده، تا لره هیڅ شریک نشته»[2].

### *حجر الأسود ته د ورتلو پر مهال الله اکبر ویل*

«طَافَ النَّبِيُّ ﷺ بِالْبَيْتِ عَلَى بَعِيرٍ كُلَّمَا أَتَى الرُّكْنَ أَشَارَ إِلَيْهِ بِشَيْءٍ عِنْدَهُ وَكَبَّرَ».

ژباړه: «رسول الله ﷺ په اوښ سپور د بیت الله طواف وکړ، نو هر کله به چې رکن (حجر الاسود) ته راغی، نو په یو څه

---

[1] بخاري په: الأدب المفرد کې په: 761 شمیره روایت کړی او ألباني په صحیح الأدب المفرد کې په: 585 شمیره صحیح بللی دی او هغه څه چې د دوو قوسونو تر منځه دي په شعب الإیمان کې له بلې لارې د بیهقي زیاتوالی دی .228/4

[2] بخاري د الفتح سره په: (408/3) کې په: 1549 او مسلم په:(841/2) کې په: 1184 شمیره روایت کړی.

سره به يې اشاره وکړه چې ورسره به و، او الله اکبر به يې وويل»[1].

### د رکن يماني او حجر الأسود تر منځه دعا

﴿...رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ حَسَنَةٗ وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ﴾.

ژباړه: اى زموږ ربه، موږ ته په دې دنيا (لږ ژوند) کې ښېګڼه (نعمت) راکړه او په آخرت کې هم ښېګڼه (جنت) راکړه او موږ د اور له عذابه وساته[2].

### په صفا او مروا د وديېدو دعا

کله به چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم صفا ته نږدې شو، نو دا آيت به يې تلاوت کړ:

«إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَآئِرِ اللَّهِ...، أَبْدَأُ بِمَا بَدَأَ اللَّهُ بِهِ»

ژباړه: «(يقينًا صفا او مروه د الله له نښو څخه دي...)، زه په هغه څه پيل کوم چې الله پرې پيل کړى دى.»

نو په صفا يې پيل وکړ، وروخوت، تر دې چې کعبه يې وليده، نو قبلې ته يې مخ کړ، الله تعالى يې په يووالي سره ياد او تکبير يې وواېه او ويې ويل:

---

1 بخاري د الفتح سره په: (476/3) کې په: 1613 شميره روايت کړى او له: بالشيء څخه مراد يې: امسا ده، وګوره: بخاري له الفتح سره: 472/3.

2 أبو داود په: (179/2) کې په: 1894 شميره او أحمد په: (411/3) کې په: 15398 شميره روايت کړى او بغوي په: شرح السنة 128/7 کې روايت کړى او ألباني په: صحيح أبي داود کې په: 354/1 حسن ګڼلى دى، د البقره سورت:.

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ، أَنْجَزَ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الأَحْزَابَ وَحْدَهُ،

ژباړه: «له الله پرته بل هېڅ حق معبود نشته مګر يوازې الله دی، هغه لره هېڅ شريک نشته، هغه لره بادشاهي ده او هغه لره ستاينه ده او هغه په هر شي قادر دی، هېڅ معبود نشته مګر يوازې الله دی، خپله وعده يې پوره کړه، د خپل بنده مرسته يې وکړه، او يوازې يې د دښمنانو ډلې ته ماته ورکړه،»

ثُمَّ دَعَا بَيْنَ ذلكَ، قَالَ مِثْلَ هَذَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ»

بيا يې په منځ کې دعا وکړه، د دې په څېر يې درې ځلې وويل» حديث. او په دې کې دي چې: نو په مروه باندې يې هغسې وکړل لکه څنګه يې چې په صفا باندې کړي وو..[1]

## د عرفې په ورځ دعا

پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

«خَيْرُ الدُّعَاءِ دُعَاءُ يَوْمِ عَرَفَةَ، وَخَيْرُ مَا قُلْتُ أَنَا وَالنَّبِيُّونَ مِنْ قَبْلِي:

«غوره دعا د عرفې د ورځې دعا ده، او غوره هغه څه چې ما او زما څخه مخکې پيغمبرانو ويلي:

لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ».

---

[1] مسلم په: (888/2) کې په: 1218 شميره روايت کړی او د البقره سورت 158 شميره آيت دی.

ژباړه: "له الله پرته بل معبود نشته هغه يو دى شريک نه لري، د هغه لپاره پاچاهي ده او د هغه لپاره ستاينه ده، او هغه په هر څه قادر دى".[1]. «رسول الله صلى الله عليه وسلم په قصوا (سپرلۍ) سپور شو، تر دې چې مشعر الحرام ته راغی، قبلې ته يې مخ کړ (الله يې راوباله، الله اکبر او : لا اِله الا الله يې وويل او الله تعالى يې په يووالى سره ياد کړ) بيا تر هغه يې الله ياداوه چې ښه رڼا ولګېده، او د لمر له راختلو مخکې روان شو»[2]. ((هر ځل چې درې واړه جمرې په کاڼو ولي نو د هر وار سره الله اکبر وايي، بيا مخکې ځي او قبلې ته مخ کوي، د لومړۍ او دويمې جمرې وروسته لاسونه پورته کوي او دعا کوي. او د عقبې جمره چې ده نو هغه ولي او د هر وار سره الله اکبر وايي بيا مخ ته ځي او تر څنګه يې نه دريږي))[3].

### د مشعر الحرام سره دعا

### د جمرو وېشتلو پر مهال له هر وار سره تکبير ويل

### د حيرانتيا او خوښۍ پر مهال دعا

«سُبْحَانَ اللَّهِ!».

---

[1] ترمذي په: 3585 شميره روايت کړی او ألباني په: صحيح الترمذي کې په: 184/3 روايت کړی او په: سلسلة الأحاديث الصحيحة 6/4 کې راوړل شوی دی.

[2] مسلم په: (891/2)کې په: 1218 شميره روايت کړی دی.

[3] بخاري د الفتح سره(583/3) کې په: 1751 شميره او الفاظ يې دلته وګوره، او بخاري د الفتح سره، (583/3)، او (584/3)، او(581/3) کې په: 1753 شميره، او مسلم هم په: 1218شميره روايت کړی.

پاکي الله لره ده[1].

«اللَّهُ أَكْبَرُ!».

الله تر ټولو لوی دی[2].

### هغه څه چې د خوښي رسېدلو پر مهال باید وشي

«كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا أَتَاهُ أَمْرٌ يَسُرُّهُ أَوْ يُسَرُّ بِهِ خَرَّ سَاجِدًا شُكْرًا لِلَّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى».

«کله به چې رسول الله ﷺ ته داسې یو څه پېښ شول چې له امله به يې خوشحالېده نو د شکر په پار به الله تعالی ته په سجده پرېوت»[3].

### په ځان کې د درد حس کېدو پر مهال باید څوک څه وکړي؟

«ضَعْ يَدَكَ عَلَى الَّذِي تَأَلَّمَ مِنْ جَسَدِكَ وَقُلْ:

«خپل لاس دې د بدن پر دردمن ځای کېږده او وو ایه:

بِسْمِ اللَّهِ،

بِسْمِ اللَّهِ

---

1 بخاري د الفتح سره په: (210/1) 390 او 414 کې په: 115، 3599 او 6218 شمیره روایت کړی او مسلم په: (1857/4)کې په: 1674 شمیره روایت کړی.

2 بخاري د الفتح سره په: (441/8) کې په: 4741، او 3062 شمیرو روایت کړی او ترمذي په: 2180 شمیره او نسائي په الکبری کې په: 11185 شمیره روایت کړی، او وګوره: صحيح الترمذي: (103/2) کې او (235/2) کې روایت کړی او احمد په المسند کې په: (218/5) کې په: 21900 شمیره روایت کړی دی.

3 له نسائي پرته اهل السنن روایت کړی: أبو داود په: 2774 او ترمذي په: 1578او ابن ماجه په: 1394شمیره روایت کړی او وګوره: صحیح ابن ماجه، 233/1، او إرواء الغلیل، 226/2.

ثَلَاثًا،
درې ځلې،
وَقُلْ سَبْعَ مَرَّاتٍ:
او اووه ځلې وواېه:
أَعُوذُ بِاللَّهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحَاذِرُ».
ژباړه: (په الله جل جلاله او د هغه په قدرت سره د هر هغه درد له شر څخه پناه نيسم چې رابانديې دى او زه ترې ويرېږم او ځان ترې ساتم).[1]

### د هغه چا لپاره دعا چې ويره لري څه شى د نظره نه کړي

«إِذَا رَأَى أَحَدُكُم مِنْ أَخِيهِ، أَوْ مِنْ نَفْسِهِ، أَوْ مِنْ مَالِهِ مَا يُعْجِبُهُ [فَلْيَدْعُ لَهُ بِالْبَرَكَةِ] فَإِنَّ العَيْنَ حَقٌّ».
«کله چې ستاسو څخه چا د خپل ورور او يا له خپل ځان او يا خپل مال کې داسې څه وليدل چې دى يې حېرانوه، [نو د برکت دعا دې ورته وکړي] ځکه چې بد نظر حق دى.».[2]

### هغه څه چې د وېرې پر مهال ويل کېږي

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ!».
ژباړه: له الله پرته بل برحق معبود نشته.[3]

---

1 مسلم په: (1728/4)کې په: 2202 شمېره روايت کړى.
2 أحمد په مسند کې په: 447/4 کې په: 15700 شمېره او ابن ماجه په: 3508 شميره او مالك په: 118-119 /3شمېرو روايت وکړى او الباني په صحيح الجامع 212/1 کې صحيح کړى دى او وګوره: تحقيق زاد المعاد د الأرناؤوط 170/4.
3 بخاري د الفتح سره په: (381/6) کې په: 3346 شمېره روايت کړى او مسلم په: (2208/4) کې په: 2880 شمېره روايت کړى.

### د حلالۍ او قربانۍ پر مهال دعا

«بِسْمِ اللَّهِ وَاللَّهُ أَكْبَرُ [اللَّهُمَّ مِنْكَ وَلَكَ] اللَّهُمَّ تَقَبَّلْ مِنِّي».

ژباړه: د الله په نوم، او الله ډېر لوی دی. [ای الله! دا ستا له خوا او ستا لپاره ده]، ای الله! زما څخه يې قبول کړه.[1]

### د شيطاني دسيسو د شنډولو دعا

«أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ الَّتِي لَا يُجَاوِزُهُنَّ بَرٌّ وَلَا فَاجِرٌ: مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ، وَبَرَأَ وَذَرَأَ، وَمِنْ شَرِّ مَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ، وَمِنْ شَرِّ مَا يَعْرُجُ فِيهَا، وَمِنْ شَرِّ مَا ذَرَأَ فِي الأَرْضِ، وَمِنْ شَرِّ مَا يَخْرُجُ مِنْهَا، وَمِنْ شَرِّ فِتَنِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ، وَمِنْ شَرِّ كُلِّ طَارِقٍ إِلَّا طَارِقًا يَطْرُقُ بِخَيْرٍ يَا رَحْمَنُ».

ژباړه: «د الله په هغو بشپړو کلمو چې نه ترې نېک تېرېدلی شي او نه فاسق، د هر هغه څه له شر څخه پناه غواړم چې الله پيدا کړی او دېر کړي او خپاره کړي، او د هغه شي له شر څخه چې له آسمانه راکوزيږي او د هر هغه شي له شر څخه چې آسمان ته خيژي او د هر هغه شي له شر څخه چې په ځمکه کې يې خپاره کړي، او د هغه څه له شر څخه چې له ځمکې راوځي او د شر د فتنو د شپې او ورځې، او د هر هغه

---

[1] مسلم په: (1557/3) مخ کې په: 1967 شميره او بيهقي په: 287/9 روايت کړی دی او هغه څه چې د دوو قوسونو تر منځه دي د بيهقي الفاظ دي 287/9 او نور، او وروستۍ جمله مې د مسلم له روايت څخه په معنا را نقل کړې ده.

نابېره راتلونکي شي له شره چې دروازه تړکوي، مګر دا چې د خير لپاره دروازه راوتړکوي. اى مهربان ذاته».[1]

### بخښنه غوښتل او توبه

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

«وَاللَّهِ إِنِّي لأَسْتَغْفِرُ اللَّهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ فِي الْيَوْمِ أَكْثَرَ مِنْ سَبْعِينَ مَرَّةٍ».

ژباړه: «په الله قسم! زه په ورځ کې له اويا ځلو څخه زيات له الله نه بخښنه غواړم او هغه ته توبه کوم».[2].

او هغه صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

«يَا أَيُّهَا النَّاسُ تُوبُوا إِلَى اللَّهِ فَإِنِّي أَتُوبُ فِي الْيَوْمِ إِلَيْهِ مِائَةَ مَرَّةٍ».

((اى خلکو! الله ته توبه وباسئ، يقينا زه چې يم د ورځې ورته سل ځلې توبه کوم)).[3]

او هغه صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

«مَنْ قَالَ:

«چا چې وويل:

أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ العَظِيمَ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الحَيُّ القَيُّومُ وَأَتُوبُ إِلَيهِ،

---

1 أحمد په: (419/3) کې په: 15461 شميره په صحيح اسناد سره روايت کړ او ابن السني په: 637 شميره روايت کړى او الأرناؤوط په الطحاوية کې په: 133 مخ کې يې سند صحيح کړى او وګوره: مجمع الزوائد، 127/10 .

2 بخاري د الفتح سره په: (101/11) کې په: 6307 شميره روايت کړى دى.

3 مسلم په: 4/ 2076 کې په: 2702 شميره روايت کړى.

له هغه ستر الله څخه بخښنه غواړم چې له هغه پرته بل برحق معبود نشته، هم ژوندی او هم د تولې دنیا سمبالونکی دی، او زه ورته توبه اوباسم،
غَفَرَ اللَّهُ لَهُ وَإِنْ كَانَ فَرَّ مِنَ الزَّحْفِ».
"الله به ورته بخښنه وکړي، که څه هم هغه د جګړې له ډګره تښتېدلی وي»[1]."
او هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
«أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الرَّبُّ مِنَ العَبْدِ فِي جَوْفِ اللَّيْلِ الآخِرِ فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ تَكُونَ مِمَّنْ يَذْكُرُ اللَّهَ فِي تِلْكَ السَّاعَةِ فَكُنْ».
"د نیمایي شپې په وروستۍ برخه کې الله تعالی بنده ته تر ټولو زیات نږدې وي، نو که دې وکولی شول له هغو خلکو شې چې هغه شیبه کې الله یادوي نو شه"[2].
او هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
«أَقْرَبُ مَا يَكُونُ العَبْدُ مِنْ رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ».
"بنده د سجدې پر مهال خپل رب ته تر ټولو ډېر نږدې وي، نو ډېره دعا وکړئ"[3]..

---

[1] أبو داود په: (85/2) کې په: 1517، او ترمذي په: (569/5)کې په: 3577 شمېره روایت کړی او حاکم هم روایت کړی او صحیح یې بللی دی او ذهبي ورسره موافق دی:511/1، او الباني هم صحیح کړی دی،وګوره: صحیح الترمذي، 182/3، او جامع الأصول لأحادیث الرسول ﷺ ، 389/4-390 د الأرناؤوط تحقیق.

[2] ترمذي په: 3579 او نسائي په: (279/1)کې په: 572 شمېره روایت کړی او حاکم، 1/ 309، وګوره: صحیح الترمذي، (309/1)، او جامع الأصول د الأرناؤوط په تحقیق: 144/4 .

[3] مسلم په: 350/1 کې په: 482 شمېره روایت کړی.

او هغه صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

«إِنَّهُ لَيُغَانُ عَلَى قَلْبِي وَإِنِّي لأَسْتَغْفِرُ اللَّهَ فِي الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ».

«بېشکه زما زړه کله ناکله د نورو بوختياوو له امله له ذکر څخه بې پروا شي (له دې امله) زه هره ورځ سل ځلې د الله څخه بخښنه غواړم»[1].

## د تسْبِيحِ (سبحان الله) تحْمِيد (الحمد لله) تہْلِيل (لا اله الا الله) او تکْبِير (الله اکبر) فضيلت

هغه صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

«مَنْ قَالَ:

«چا چې وويل:

سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ

د الله - تعالى - پاکي بيانوم او ستاينه يې کوم

فِي يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ حُطَّتْ خَطَايَاهُ وَلَوْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ».

---

[1] مسلم په: (2075/4) کې په: (2702) شمېره روايت کړی. ابن الاثير ويلي د: «لَيُغَانُ عَلَى قَلْبِي» معنا دا ده چې پوښل کيږي او بې هوښه کيږي، او موخه ترې دلته هېريدل دي، ځکه چې هغه صلى الله عليه وسلم به تل الله ياداوه، هغه ته به يې زيات ذکر سره ځان نږدې کاوه او په دوامداره توګه به د هغه څارنې ته متوجه و، نو کله به چې په ځينو وختونو کې ترې يو څه غافله شو، يا به يې هېر شول، نو دا به يې د ځان لپاره ګناه ګڼله، نو سمدلاسه به يې استغفار ته مخه کړه، وګوره: جامع الاصول (386/4).

په ورځ کې سل ځلې، د هغه ګناهونه به توی شي، که څه هم د سمندر د ځګ په څېر وي»[1].

او هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«مَنْ قَالَ:

«چا چې وویل:

لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ المُلْكُ، وَلَهُ الحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ

"له الله پرته بل معبود نشته هغه یو دی شریک نه لري، د هغه لپاره پاچاهي ده او د هغه لپاره ستاینه ده، او هغه په هر څه قادر دی".

عَشْرَ مِرَارٍ، كَانَ كَمَنْ أَعْتَقَ أَرْبَعَةَ أَنْفُسٍ مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ».

لس ځلې، نو په اجر کې به داسې وي لکه چې د ابراهیم علیه السلام له اولادې څخه یې لس غلامان ازاد کړي وي»[2].

او هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ، ثَقِيلَتَانِ فِي المِيزَانِ، حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ:

«دوه کلمې دي چې په ژبه سپکې، په تله کې درنې او رحمن - ذات - ته محبوبې دي:

سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ اللَّهِ العَظِيمِ».

---

[1] بخاري په: (168/7) کې په: 6405 شمېره او مسلم په:(2071/4) کې په: 2691 شمېره روایت کړی او د دې کتاب : فضل من قالها مائة مرة إذا أصبح وإذا أمسى 65 مخ وګوره.

[2] بخاري په: (67/7) کې په: 6404 شمېره روایت کړی او مسلم په خپلو الفاظو په: (2071/4) کې په:2693 شمېره روایت کړی او وګوره: فضل من قالها في اليوم مائة مرة: 93 شمېره دعاء، 66 مخ د همدې کتاب.

ژباړه: پاکي وایم د الله تعالی په ستاینې د هغه، پاکي وایم د لوی الله تعالی.[1].

او هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«لَأَنْ أَقُولَ:

«دا چې ووایم:

سُبْحَانَ اللَّهِ، وَالحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ،

ژباړه: "پاکي وایم د الله تعالی، او ستاینه کوم د الله تعالی، او نشته معبود په حق سره پرته له الله تعالی، او الله تعالی لوی دی،"

أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمسُ».

راته له هر هغه څه نه غوره دي چې لمر پرې راختلی دی»[2].

او هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«أَيَعْجِزُ أَحَدُكُم أَنْ يَكْسِبَ كُلَّ يَوْمٍ أَلْفَ حَسَنَةٍ»

"ایا ستاسو څخه یو څوک د دې توان نه لري چې هره ورځ زر نیکی وګټي؟" نو په ناستو کې ترې یو پوښتونکي وپوښتل چې: زموږ څخه یو تن څنګه زر نیکی ګټلی شي؟ هغه وویل:

«يُسَبِّحُ مِائَةَ تَسْبِيحَةٍ، فَيُكتَبُ لَهُ أَلْفُ حَسَنَةٍ أَوْ يُحَطُّ عَنْهُ أَلْفُ خَطِيئَةٍ».

«سل ځلې تسبیح وایي، نو زر نیکی ورته لیکل کیږي او یا دا چې زر ګناهونه ترې کمیږي»[3].

---

[1] بخاري په: (168/7) کې په: 6404 شمیره او مسلم په: (2072/4) کې په: 2694 شمیره روایت کړی.

[2] مسلم په: (2072/4) کې په: 2695 شمیره روایت کړی.

[3] مسلم په: (2073/4) کې په: 2698 شمیره روایت کړی دی.

«مَنْ قَالَ:
«چا چې وويل:
سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ وَبِحَمْدِهِ
ژباړه: پاکي وايم د لوى الله تعالى په ستاينې د هغه
غُرِسَتْ لَهُ نَخْلَةٌ فِي الْجَنَّةِ».
په جنت کې ورته د خرما يوه ونه وکرل شوه»[1].
او هغه صلى الله عليه وسلم وفرمايل:
«يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ قَيْسٍ أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى كَنْزٍ مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ؟»
«اى عبد الله بن قيسه! آيا د جنت له خزانو څخه يوه خزانه در ونښايم؟» نو ما وويل: ولې نه اى د الله رسوله! هغه وفرمايل:
«قُلْ:
«ووايه:
لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ».
ژباړه: له ګناه څخه ګرځېدل نشته او پر نېکو کارونو توفيق نشته مګر د الله په مرسته.[2].
او هغه صلى الله عليه وسلم وفرمايل:
«أَحَبُّ الْكَلَامِ إِلَى اللَّهِ أَرْبَعٌ:
«الله - جل جلاله - ته تر ټولو محبوبې ويناوې څلور دي:
سُبْحَانَ اللَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ،

---

[1] ترمذي په: (511/5) کې په: 3464 شمېره روايت کړى او حاکم په: 501/1کې روايت کړى او صحيح کړى او ذهبي ورسره موافقت کړى دى او وګوره: صحيح الجامع، 531/5، او صحيح الترمذي، 160/3.
[2] بخاري د الفتح سره په: (213/11) کې په: 4206 شمېره روايت کړى او مسلم په: (4/ 2076 کې په: 2704 شميره روايت کړى دى.

ژباړه: (پاکي وایم د الله تعالی، او ستاینه کوم د الله تعالی، او نشته معبود په حق سره پرته له الله تعالی، او الله تعالی لوی دی).

لَا يَضُرُّكَ بِأَيِّهِنَّ بَدَأْتَ».

"«له هرې یوې څخه دې چې پیل وکړې، تاته کوم زیان نه رسوي»[1]."

یو اعرابی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او ورته ویې ویل: ماته یو څه را وښایه چې زه یې وایم، هغه وفرمایل:

«قُلْ:

«ووایه:

لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، اللَّهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا، وَالحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيرًا، سُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ العَالَمِينَ، لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ العَزِيزِ الحَكِيمِ»

ژباړه: "له الله پرته بل حق معبود نشته، هغه یو دی، شریک نه لري، الله تر ټولو لوی دی، ډیر لوی، او الله لره ډیره ستاینه ده، پاکي وایم د الله تعالی چې د عالَمونو څښتن دی، او له یوه حالت نه بل ته اوړیدل او ځواک نشته مګر په الله تعالی چې برلاسی او د حکمت خاوند دی."

هغه وویل: دا زما د رب لپاره دي، نو زما لپاره څه دي؟

هغه وویل:

«قُلْ:

«ووایه:

اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، وَاهْدِنِي، وَارْزُقْنِي».

---

1 مسلم په:(1685/3) کې په:2137 شمیره روایت کړی.

ژباړه: «ای الله، ما ته بخښنه وکړه، په ما رحم وکړه، ما ته هدایت وکړه، ما ته روزي راکړه».[1].

یو سړي به چې کله اسلام راوړ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به لمونځ ورزده کړ، بیا به یې ورته امر وکړ چې په دې کلمو سره دعا وغواړي:

«اللَّهُمَّ اغْفِرِ لِي، وَارْحَمْنِي، وَاهْدِنِي، وَعَافِنِي وَارْزُقْنِي».

ژباړه: (ای الله ما ته بخښنه وکړه، پر ما رحم وکړه، ما ته هدایت وکړه، ما ته عافیت راکړه، او ماته روزي راکړه).[2].

«إِنَّ أَفْضَلَ الدُّعَاءِ

«تر ټولو غوره دعا

الحَمْدُ لِلَّهِ،

الحَمْدُ لِلَّهِ، الله لره ثنا او صفت دی،

وَأَفْضَلَ الذِّكْرِ

او تر ټولو غوره ذکر

لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ».

ژباړه: له الله پرته بل برحق معبود نشته،[3].

---

[1] مسلم په: (4/ 2072) کې په: 2696 شمیره روایت کړی او أبو داود په: (1/ 220) کې په: 832 شمیره زیاتوي چې: کله چې اعرابي لاړ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «لاسونه یې له خیر څخه ډک کړل».

[2] مسلم په: (4/ 2073) کې په: 3697 شمیره روایت کړی او د همده په یو بل روایت کې راځي چې: «پرته له شک څخه دا ستا لپاره دنیا او آخرت راغونډوي».

[3] ترمذي په: (462/5) کې په: 3383 شمیره او ابن ماجه په: (1249/2) کې په: 3800 شمیره او حاکم په:503/1 کې روایت کړی او صحیح کړی دی او ذهبی ورسره موافق دی او وګوره: صحیح الجامع، 362/1.

«البَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ:

«تل پاتې نېکې وېناوې:
سُبْحَانَ اللَّهِ، وَالحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ».

ژباړه: "الله لره پاكي ده، الله لره ستاينه ده، او له الله پرته بل حق معبود نشته، او الله تر ټولو ستر دی، او له ګمراهي اوړېدل او حقې لارې لاربښوونه نشته مګر د الله په ځواک او مرسته."[1].

### ۱۳۱ . رسول الله صلى الله عليه وسلم به څرنګه تسبيح ويله؟

له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي:

«رَأَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَعْقِدُ التَّسْبِيحَ» وفي زيادةٍ: «بِيَمِينِهِ».

«ما رسول الله ﷺ وليده چې تسبيح يې شمېرل»، او په يو بل زيادت کې راځي چې «په ښي لاس سره» يعني د ښي لاس په ګوتو يې تسبيحات شمېرل.[2].

### د خير (ښو کارونو) او جامعه آدابو له دولونو څخه

پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

---

[1] أحمد په: 513 شميره د أحمد شاكر په ترتيب او وګوره: مجمع الزوائد 297/1، او ابن حجر يې په بلوغ المرام کې د أبي سعيد له روايت څخه نسائي ته په: [ الكبرى] کې په: 10617 شميره نسبت کړی دی او ويلي يې دي چې: ابن حبان په: شميره او حاكم [1/ 541] صحيح کړی دی.

[2] أبو داود په خپلو الفاظو سره په: (81/2) کې په: 1502 شميره او ترمذي په : (521/5) کې په: 3486 شميره روايت کړی او وګوره: صحيح الجامع 271/4 کې په:4865 شميره او الباني په: صحيح سنن أبي داود کې په: (411/1). شميره روايت کړی.

«إِذَا كَانَ جُنْحُ اللَّيْلِ - أَوْ أَمْسَيْتُم - فَكُفُّوا صِبْيَانَكُم، فَإِنَّ الشَّيَاطِينَ تَنْتَشِرُ حِينَئِذٍ، فَإِذَا ذَهَبَ سَاعَةٌ مِنَ اللَّيْلِ فَخَلُّوهُمْ، وَأَغْلِقُوا الأَبْوَابَ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ؛ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَفْتَحُ بَابًا مُغْلَقًا، وَأَوْكُوا قِرَبَكُمْ، وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ، وَخَمِّرُوا آنِيَتَكُم، وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ، وَلَوْ أَنْ تَعْرُضُوا عَلَيْهَا شَيْئًا، وَأَطْفِئُوا مَصَابِيحَكُمْ».

«کله چې د شپې تیاره شي -یا تاسو ماښام ته داخل شئ- نو خپل ماشومان ونیسئ (بهر ته یې مه پرېږدئ)، ځکه چې شیطانان په همدې وخت کې خپرېږي، کله چې د شپې لږ څه وخت تېر شي، بیا یې پرېږدئ او خپلې دروازې بندې کړئ او د الله نوم یاد کړئ، ځکه چې شیطان هېڅ بنده دروازه نه شي پرانیستلی، او خپل مشکونه وتړئ او د الله نوم یاد کړئ، خپل لوښي وپوښئ او د الله نوم یاد کړئ، که څه هم (د پوښ لپاره) یو څه پرې کېږدئ، او خپل څراغونه مړه کړئ.»[1]

وَصَلَّى اللَّهُ وَسَلَّمَ وَبَارَكَ عَلَى نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِينَ.

[1] بخاري د الفتح سره په: 10/ 88 کې په: 5623 شمیره او مسلم په: 3/ 1595 کې په: 2012 شمیره روایت کړی.

فهرست

د مسلمان کلا؛ د قرآن او سنت له اذکارو څخه ............................... 2
د مسلمان کلا؛ د قرآن او سنت له اذکارو څخه ............................... 2
مقدمه ........................................................................................ 2
د ذکر فضیلت ................................................................................ 3
له خوبه د راپاڅېدو اذکار .............................................................. 9
د جامو اغوستلو دعا ......................................................................... 13
د نویو جامو د اغوستلو دعا ............................................................. 13
.هغه چاته دعا چې نوې جامې يې اغوستې وي ..................................... 13
هغه څه چې د جامو ویستلو پر مهال يې باید ووايي .۵ ................. 14
حمام ته د ننوتلو دعا ........................................................................ 14
له بیت الخلا څخه د راوتلو دعا ........................................................ 14
د اودس په پېل کې دعا ..................................................................... 15
د اودس په پای کې دعا ..................................................................... 15
له کور څخه د وتلو دعا..................................................................... 16
کور ته د ننوتلو دعا.......................................................................... 16
مسجد ته د تللو دعا .......................................................................... 17
جومات ته د ننوتلو دعا ..................................................................... 18
له جومات څخه د وتلو دعا................................................................. 19
د اذان اذکار .١٥ ............................................................................. 20
د اسْتِفْتَاح )د لمانځه د پېل (دعا........................................................ 21
د رکوع دعا ................................................................................... 26
.له رکوع څخه د پورته کېدو دعا ....................................................... 27
د سجدې دعا .................................................................................. 28

د دوا ړو سجدو ترمنځه د ناستې دعا........................................... 30
د تلاوت د سجدې دعا........................................................... 31
تشهد .22................................................................... 31
له تشهد څخه وروسته په رسول الله صلی الله علیه وسلم درود ویل - ۲۳
32 .........................................................................
د وروستي تشهد پسې او له سلام اړولو مخکې دعا....................... 33
د لمانځه له سلام ګرځولو څخه وروسته اذکار ............................. 38
د استخارې د لمانځه دعا................................................. 43
د سهار او بیګا دعاګانې..................................................... 45
د خوب اذکار ............................................................... 60
په شپه کې د اړخ اړولو پر مهال دعا ........................................ 68
په خوب کې د وېرې او له یوازې والي څخه د ځوریدونکو کسانو لپاره
دعا........................................................................ 69
هغه څوک به څه کوي کله چې بد خوب وګوري............................ 69
د وترو د قنوت دعا.......................................................... 70
له وترو څخه د سلام ګرځولو وروسته اذکار ................................ 71
د اندېښنې او غم پر مهال دعا ............................................. 72
د سخت خفګان پر مهال دعا................................................ 73
د دښمن او د واک او ځواک د خاوند سره د مخ کېدو دعا .............. 74
د هغه چا لپاره دعا چې د واکمن له ظلم څخه وېرېږي.................. 75
دښمن ته ښېراوې کول..................................................... 76
څوک چې له یوې قوم څخه ویره ولري نو څه به وایي؟ ............... 77
د هغه چا دعا چې په ایمان کې ورته وسوسه پېدا شوي وي .......... 77
له پور څخه د خلاصېدو دعا ................................................ 78
په لمانځه کې او قراءت کې د وسوسې دعا................................ 78

د هغه چا دعا چې یو کار ورته ستونزمن شوی وي........................ 79
:ځوک چې ګناه ترسره کړي نو څه باید ووایي ............................ 79
د شیطان او د هغه د وسوسو د لرې کولو دعا ............................ 79
هغه دعا چې کله د تمې خلاف یو څه پیښ شي یا د یو کار په کولو کې
عاجز شي.............................................................. 81
چاته د نوي زیږیدلي ماشوم مبارکي ویل او د هغې ځواب ............ 81
هغه اذکار چې اولادونه پرې دمېږي........................................ 82
د ناروغ د پوښتنې پر مهال ناروغ ته دعا.................................. 82
د ناروغ د پوښتنې فضیلت ................................................ 83
د هغه ناروغ لپاره دعا چې له ژوند څخه ناهیلی شوی وي ........... 83
د ځنکدن پر مهال مړي ته د توحید د کلمې ور په یادول ............... 85
هغه چاته دعا چې مصیبت ورته رسیدلی وي .............................. 85
د مړي د سترګو تړلو پر مهال دعا.......................................... 86
د جنازې په لمانځه کې مړي ته دعا ....................................... 86
ماشوم ته د جنازې په لمانځه کې دعا ..................................... 88
د تسلیت دعا............................................................ 90
قبر ته د مړي دننه کولو پر مهال دعا ..................................... 90
د مړي له ښخولو وروسته دعا............................................... 90
د قبرونو د زیارت پر مهال دعا............................................. 91
د سیلۍ پر مهال دعا........................................................ 91
د اسمان د غرارې پر مهال دعا ........................................... 92
د باران غوښتلو له دعاګانو څخه........................................... 92
د باران پر مهال دعا ..................................................... 93
د باران لو ورېدو وروسته دعا .......................................... 93
د باران ودرېدو لپاره دعا................................................ 94

د میاشتې د لېدو دعا ........................................................ 94
د روژه ماتې پر مهال دعا ........................................................ 94
له ډوډۍ څخه مخکې دعا ........................................................ 95
د ډوډۍ خوړلو پسې دعا ........................................................ 96
د میلمه له خوا کوربه ته دعا ........................................................ 97
په دعا سره له یو چا د خوراک او یا څښاک غوښتنه .................... 97
کوربه ته له روژه ماتې وروسته دعا ........................................ 97
د روژه دار دعا کله چې خواړه تیار وي او روژه یې نه وي ماته کړې
........................................................................ 98
که یو څوک روژه دار ته سپکې ووایي نو هغه به څه وایي؟......... 98
د لومړۍ پخې شوې مېوې د لیدلو پر مهال دعا ........................ 98
د پرنجي دعا ........................................................ 99
:کافر ته څه ویل کیږي، چې کله پرنجی وکړي او الحمد لله ووایي . 99
د واده شوي لپاره دعا ........................................................ 100
د واده شوي کس او څاروي پېرلو دعا ........................................ 100
ښځې سره له یو ځای کېدو نه مخکې دعا ........................................ 100
د غصې پر مهال دعا ........................................................ 101
د مصیبت ځپلي شخص د لېدو پر مهال دعا ........................................ 101
هغه څه چې په مجلس کې ویل کیږي .84........................................ 101
د مجلس کفاره ........................................................ 102
د هغه چا لپاره دعا چې ووایي :الله دې تاته بخښنه وکړي ........... 102
هغه چاته دعا چې نیکي یې درسره کړې وي ............................ 103
هغه څه چې الله تعالی پرې انسان له دجال څخه ژغوري............ 103
هغه چاته دعا چې ووایي :د الله لپاره درسره مینه لرم................ 103

هغه چاته دعا چې خپل مال درته وړاندې کړي )ست او سلا يې درته وکړي(.......................................................................104
د پور پرې کولو پر مهال پور ورکوونکي ته دعا ......................104
له شرک څخه د ويرې دعا...................................................104
هغه چاته دعا چې) :بَارَكَ اللَّهُ فِيكَ (يې وويل :يعنې الله دې تاته برکت درکړي.................................................................................105
د بد فالۍ څخه د کرکې دعا ..................................................105
په سپرلۍ د سپرېدو دعا ......................................................105
د سفر دعا .٩٦ ...................................................................106
کلي يا ښار ته د ننوتلو دعا ...................................................107
بازار ته د ننوتلو دعا ...........................................................108
د سپرلۍ د بې ثباته کېدو پر مهال دعا ......................................109
مقيم ته د مسافر دعا.............................................................109
مسافر ته د مقيم دعا.............................................................109
په سفر کې د تګ پر مهال تکبير او تسبيح .................................110
په سهار کې د مسافر دعا .....................................................110
په سفر او يا بل څه کې په يو ځای کې د استوګن کېدو پر مهال دعا 111..................................................................................
له سفر څخه د راستنيدو دعا...................................................111
د خوښۍ يا نا خوښۍ کار ترسره کېدو پر مهال څه بايد ووايي؟....112
په رسول الله صلى الله عليه وسلم د درود ويلو فضيلت .١٠٧ .......112
سلام خپرول ......................................................................114
کله چې کافر سلام وکړي نو څنګه به د سلام ځواب ورکوې؟......115
د چرګ د آذان او د خره د هنګارې پر مهال دعا.......................115
د شپې له خوا د سپيو د غپا د اورېدو دعا ..............................116

هغه چاته دعا چې کنځلې دې ورته کړې وي............................116
کله چې يو مسلمان بل مسلمان وستايي نو هغه به څه وايي..........117
مسلمان به څه وايي، کله يې چې تزکيه وشي ...........................117
مُحرم به د حج يا عمرې پر مهال څنګه تلبيه وايي؟...................118
حجر الأسود ته د ورتلو پر مهال الله اکبر ويل............................118
د رکن يماني او حجر الأسود تر منځه دعا...............................119
په صفا او مروا د ودرېدو دعا ................................................119
د عرفې په ورځ دعا...........................................................120
د مشعر الحرام سره دعا......................................................121
د جمرو وېشتلو پر مهال له هر وار سره تکبير ويل ...................121
د حيرانتيا او خوښۍ پر مهال دعا ...........................................121
هغه څه چې د خوښې رسېدلو پر مهال بايد وشي.........................122
په ځان کې د درد حس کېدو پر مهال بايد څوک څه وکړي؟.........122
د هغه چا لپاره دعا چې ويره لري څه شی د نظره نه کړي .........123
هغه څه چې د ويرې پر مهال ويل کېږي.................................123
د حلالې او قربانۍ پر مهال دعا ............................................124
د شيطاني دسيسو د شنډولو دعا ............................................124
بخښنه غوښتل او توبه.........................................................125
د تسْبِيحِ )سبحان الله (تحْمِيد )الحمد لله (تهْلِيل )لا اله الا الله (او تكْبِير
)الله اكبر (فضيلت ...........................................................127
رسول الله صلی الله عليه وسلم به څرنګه تسبيح ويله؟ ۱۳۱ ........133
د خير )ښو کارونو (او جامعه آدابو له ډولونو څخه ...................133